موږ باید نور فرصت
له لاسه ورنه کړو،
تصمیم ونیسو او
عملی یی کړو —
زه د قوماندانانو
د هری فیصلی
منلو ته خپل
چمتوالی
څرگندوم.

منبع الجهاد

علمي او جهادی میاشتنی خپرونه

د شهید قوماندان محمد اسماعیل
فاتحه په میرانشاه او پیښور کی واخیستل شوه.



زه یو ځل بیا د اتحاد عږ کوم . ورونو !
اختلاف چی په هره سطحه وی له
منځه یوسئ ، یو بل ته د ورورولئ لاسونه
ورکړئ او د اتحاد له لاری د شرق او
غرب د توطئو او دسیسو مخه ونیسئ.

الحاج مولوي جلال الدين حقاني

د الحاج مولوي جلال الدين حقانی
ورور قوماندان محمد اسماعیل شهید شو.

زه او زمونږ کورنۍ د محمد اسماعیل په شهادت له
خدای (ج) نه راضی یو ، دی موږ له لومړۍ ورځی د
جهاد او قربانی لپاره ورانديي کړی ؤ، زمونږ زړونه
صبرناک دی او په دي ډير راضی یو چی الله تعالی د
اسلام او جهاد په لاره کي د ده قربانی قبوله کړه.

د مزدور رژیم د تواو بریه جنرال عبدالرحمن
او د خوست د (۲۵) فرقی سیاسی مرستیال ووژل شول.

د قلمونو او لویو د سامان په بڼه د روسی بمونو یوه بله تحفه!!!

د ولسوال او گلم جم دوه
پوستی فتحه شوی.

بسم الله الرحمن الرحيم



فرمان خداوند (ج)

آنا نیکه آیمان اورده اند وهجرت کر دند وجهاد
نمودند در راه خدا به اموال خویش
ونفسهاي خویش بزرگترا ند درمرتبه نزدخدا(ج)
واین جماعت ایشان کامیاب اند. مژده مید
هدایشانرا پروردگار شان به رحمت ازنزد خود
وبه خوشنودي وبه جنت هائیکه ایشانرا در آ نجا
نعمت جا وداني بود وهمیشه در آنجا سکونت
گزیند .

(التوبه ۲۰ -۲۱)

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

الجهاد

علمي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدّين حقانی
دتأسيس کال : ۱۳۶۸ هـ.ش ۱٤۰۹ هـ.ق

دويم کال، دويمه گنه، د ۱۳٦۹ هـ ش، زمری، د ۱٤۱۱ هـ ق محرم الحرام

په دې گنه کې

شماره	عنوان	ليکوال	مخ
۱-	مسوولیتونه او عواقب(سرمقاله)	اداره	۲
۲-	زمور د قضی مستقبل د...	هدايت الله «هجرت»	۱۰
۳-	ليکوال بايد د اسلامی جهاد ...	مولوی محمد يونس «خالص»	۱٦
٤-	بحران خليج فارس و ...	محمد يوسف	۲۰
٥-	د قومندان محمد اسماعيل ذبيح الله شهادت ...	د حضرت صبغت الله مجددی وينا	۲٤
٦-	د افغانستان جهاد د کمونيزم شکست...	مرزا خيل	۲۸
۷-	د شهيد محمد اسماعيل فاتحه په ميرانشاه او ...	(راپورتاژ)	۳۲
۸-	اختلاف چی په هره سطح وی ...	د الحاج مولانا جلال الدين «حقانی» وينا	۳٥
۹-	د ولسوال او گلم جم دوه پوستني فتحه شوی	(راپور تاژ)	٤٦
۱۰-	مشکلات گوربا چوف در کنگرهٔ ...	محمد امين مدقق	٤۹
۱۱-	بيرته ستنيدل د څهٔ لپاره ؟	زکی الله	٥۲
۱۲-	د مزدور رژيم په زندانونو کی د...	س، م ، د	٥٥
۱۳-	محاربوی فعاليتونه	محمد عمر اخګر	٥۸
۱٤-	د اسلامی هيوادونو د بهرينو چارو ...	سيد محی الدين هاشمی	٦۰
۱٥-	سرطان سرخ	مترجم: ف فاضل	٦٦
۱٦-	جهاد د شعر او ادب په پلوشو کی		٦۸
۱۷-	کوچني غازی (لنده کيسه)	زرين انځور	۷۰
۱۸-	اسمعيل شهيد شو خو ...	ننګيال	۷۲
۱۹-	د حق د لاری قربانيان		۷٦

دهيئت تحرير تر نظر لاندې

مسوول مدير
الحاج عبدالباري ننګيال
مرستيال
سيد محی الدين هاشمی

مکاتباتی پته
پوست بکس نمبر ۱۰۳۳ يونيورسټي
ټاون، پيښور

سر مقاله

د استعمار د توطیئو په مقابل کی:

مسوولیتونه او عواقب

د افغانستان د مجاهد ملت د دولس کلنو قربانیو او سربښندونو له برکته نه یوائی دا چی روسی یرغلگر پوځونه له شرمیدلی ماتی سره مخامخ او په تېښته مجبور شول بلکی په ختیځه اروپا کې هم د کمونیزم دوحشت ځنځیرونه مات او له نړی څخه د کمونستی استبداد جنازه مخ په ایستل کیدو شوه. د افغانانو د مثالی قربانیو منطقی نتیجه همدا کیدی شی چی داسکیرلو ولسونو له پاره د مقاومت او آزادی گټلو لاری په نخښه او د خپلو وینو په تیلو د بلو مشالونو په رڼاکی د حرکت او خوځښت مخه ورته روښانه کړی .

د افغان مجاهدینو بی سیاله مقاومت او بی دریغه قربانیو دنړی د سیاست نقشه په بل مخ واړوله- د روس د سوپر پاوری وحشت او هیبت یی دړی وړی کړ. د تاریخ لوری یی راوگرځاوه او د نړی په وړاندی یی د ژوند کولو، آزادی گټلو او خپواك او سیدلو یو نوی باب پرانیست له همدی ځایه وه چې د شرق او غرب د مادی او استعماری ځواکونو په مقابل کی یو بل قوت، یو معنوی قوت او یو همه گیر قوت رامنځ ته شو چی د ایمان ، عقیدی او الهی نصرت له مخی یی د باطل ترټولو ستر ځواك له شرمیدلی ماتی سره مخامخ کړ او هغه استعمار یی په گونډ وکړ چی د

ماتی تصور یی هم چا نشوای کولی .

د مجاهدینو دغه برمیال مقاومت د یو خو ځند او پاروونکی پیغام په توګه نړی و خو ځوله ، د خوځښتونو او پاڅونو بهیرته یی لار پرانستله ، ځپاند او تو پانی یی کړل او د شرق او غرب د سیاستمدارانو او پوځی ماهرینو پر اټکلونو ، تحلیلونو ، ستراتیژی تجربو او تجزیو پوری یی نړی وخندوله .

د ختیځ او لویدیز استعمار لیدل چې د دوی د استعماری اهدافو په مقابل کی یو بل قوت راولاړیدونکی دی چې ورځ تر ورځی د خپل نضج مراحل شاته کوی، دلته ؤ چې یو بل ته غاړی غړی شول، د دوستی لاسونه یی سره ورکړل ؛ معاهدو او موافقو ته ورسیدل څو د جهاد پر ضد د یوه ګډ او خطرناك سازش او توطئی له مخی د خپلو استعماری اهدافو مخی ته دراولاړ شو یو ګواښو نو مخه ونیولی شی. د غرب او په سرکی د امریکا دلچسپی د افغانستان له جهاد سره تر هغه وخته پوری وه چې روسی پوځونه په افغانستان کی وو ، خو کله چې روسی پوځو نه د افغان مجاهدینو د ایمانی پرتم په وړاندی په ګونډوشول روسان مجبور شول چې له غرب سره د خپلو ګډو استعماری ګټو له مخی نژدی او هغوی ته په امتیاز قایل شی . دلته ؤ چې غرب د مجاهدینو ضد دریځ ونیو او نور یی د مجاهدینو سوبمن موقعیت او فاتحانه حرکت د ځان له پاره هم خطرناك ګانه. پدی رابطه د دوی د دغه ډول استعماری حرکت ترټولو چټك جهت د مجاهدینو د جنګی توان ، ستراتیژی او سیاسی حرکت په اړه د منفی تبلیغاتو توندول او پدی پسی جوخت د داسی لارو چاروبرابرول وو چې د خپلو تبلیغاتو د توثیق له پاره تری استفاده وکړی تر څونړی هم پدی قانع کړی شی چې مجاهدین د جنګ په ډګر، د خپل منځی ټوُفقاتو په میدان او د سیاسی حرکت په مسیر کی مشکلات لری او نشی کولی د دغو ستونزو بندونه ونړوی . د روسی لښکرو له شکست وروسته هیچا هم دا فکر نه کاوه چې د نجیب لاس کنیولی رژیم به له څو میاشتو زیات دوام وکړی خو د روس امریکا ګډ سازش او توطئو د نجیب رژیم ته د دی زمینه برابره کړه چې د مطلق سقوط د پولی پرسر تریوه وخته ځان ټینګ کړی .

د روس امریکا د گډ سازش لومړنی پلان داؤ چی په پاکستان کی د یوه قوی حکومت او قیادت موجودیت له منځه یو سی او هلته یو داسی حکومت ته زمینه برابره کړی چی څه د نظریاتی اصل له مخی او څه د داخلی مخالفتونو او مشکلاتو له اړخه په کمزوری او ضعیف موقف کی قرار ولری،د جنرال محمد ضیاءالحق شهادت د دغه ډول پلان هغه برخه تشکیلوی چی د دا وړ فعالیتونو داجراء له پاره د مقدماتی گام په توگه یی لا مخکی پورته کول ضروری گڼل کیدل. پدی پسی جوخت په مجاهدینو د مرستو بندیز او په مقابل کی یی نجیب رژیم ته له پخوا زیات د پوځی کومکونو د جریان سرعت هغه هم پداسی شرایطو کی چی د جلال آباد جنگ په خو را شدت سره روان ؤ د دغه گډ سازش د تطبیق لومړنی گامونه وو.

د هغه وخت د حالاتو له کتنی او د غرب د ډله ایز ارتباط وسایلو له فعالیتونو څخه څرگندیږی چی په هغو شرایطو کی د جلال آباد د جنگ پیلامه او د هغی په اړه له حده زیات تبیلغاتی فعالیت او ورسره د کومکونو قطع کول او د جنگ په جریان او قومانده کی د مشکلاتو رامنځ ته کول له هماغه لومړی ورځی څخه د جلال آباد په جگړه کی بشپړبری ته د نه رسیدلو غمازی کوله، دا هغه جریان ؤ چی د مجاهدینو پر ضد د گډ سازش لومړنی کړی یی تشکیلوله چی ورو ورویی د جلال آباد جنگ د بشپړبری مخه پری ونیولی شوه او د منفی تبلیغاتو او موضیعگیری له پاره یی تری کافی استفاده وکړه. پدی ډول یی لدی لاری د مجاهدینو د پوځی قوت او سوبی په رابطه د نړی ذهنیت مشوش کړ. استعمار داگڼله چی که چیری د روسی قواوو له وتلو سره جوخت مجاهدین په هماغه قوت او غرور قدرت ورسیږی نو دا د روس امریکا د راتلونکی له پاره ډیر ستر خطر او ذلت تمامیدی شی چی هغوی ته د زغملو نه وه.د روس امریکا همدا هڅه وه چی له دغه ډول فاتحانه او سوبمن موقف او موقعیت څخه مجاهدین لیری کړی شی.

په همدی جریان کی د روس امریکا د پټ تفاهم له مخی نجیب رژیم ته د خطرناکو وسلو بهیر ډیر گړندی وساتل شو او پدی برخه کی دومره پر مختگ وکړی شو او دا وړوسلی یی د نجیب د مزدور رژیم په واك کی ورکړی چی هغه د روسی

پوځیانو د موجودیت په وخت کی هم نه وی استعمال شوی .

د شرق او غرب د ګډ سازش ستر هدف دادی چی مجاهدینو د خپلو قربانیو له اړخه په نړیواله سو یه کوم حیثت او موقعیت ترلاسه کړی او د یوه ډیر وحشی او خطرناك استعمار د په ګوندو کولو افتخاری ګټلی دی هغه سبوتاژ کړی او د مجاهدینو غرور او و یاړنی له منځه یو سی . په بله وینا شرق او غرب غواړی د مجاهدینو د ګټلی جنګ ارمانونه او لاسته راوړنی ولوټی او د نړیوالو او افغان ولس په سترګوکی مجاهدین او جهادی قیادتونه کمزوری،د اختلافونو ښکار او د مشترك پلان او طرحی د نه لرلو په تور ناتوانه وښیی او لدی لاری یی انعطافونو ته اړباسی .

د دغه ډول مانورو او توطئو د ځنځیر یوه کړی هم د ملګرو ملتونو تر پلاټ-فورم لاندی د صدرالدین آغا خان د شیطانی طرحی د تطبیق له پاره زمینه برابرول ؤ چی د مهاجرینو بیرته ستنیدل یی لومړنی قدم ؤ .

د دغه شرمیدلی پلان له پاره له ډیری مودی راهیسی هر اړخیز فعالیتونه روان وو . پدی اړه د آغا خان سیاسی رشتونه او د کابل ، تهران او اسلام آباد یو په بل پسی چکرونه او په سیمه ایزه سطحه د ثبات ګډوډی او دده د شیطانی پلان د مقدماتی فعالیتونو تر سره کیدل او یولړ سیمه ایزوتوافقانو هغه ښه مطمئن کړی ؤ . ځکه خو د ده کاذبانه امیدونه او اشتها خپل اوج ته رسیدلی وه او د خپل دری میاشتنی په اصطلاح ازمایشی پروګرام له جریان څخه داسی ډاډه معلومیده چی په لومړی مرحله کی یی (۲۵۰۰۰) مهاجرینودکورنیو ستنیدل حتمی ګڼلی ؤ .

له همدی ځایه وه چی د جنوری . په (۲۸) نیټهٔ د ملګرو ملتو اداری او د جهاد دښمنانو پوره تیاری نیولی وه او پدی هیله وو چی د کار لومړنی مرحله به هرو مرو په بریالیتوب سره بشپړه شی او د استعمار له پاره به د دوی خوش خدمتی ځای ونیولی شی .

د دغه شرمیدلی پلان طراحان پدی عقیده وو چی د روسی عسکروله وتلو وروسته د مجاهدینو پر ضد تبلیغاتو او د مرستو بندیز او د دوی په تحلیل د پوځی بشپړ بری د خنډ او ځنډ جریان او د دی په څنګ کی د مجاهدینو تر منځ د یوه قوی

او متحد دریغ نشتوالی درکود او بن بست یوه داسی فضا رامنځ ته کړی چی مجاهدین او ولس به یی لړاو ډیر دستومانی له احساس سره ضرور مخامخ کړی وي .

دوی لکه روسانو د افغانستان د مجاهد ولس د هجرت او جهاد ، اعتقادی اصل او بنسټ په پام کی نه ونیولی او یواځی په مادی او دنیاوی محساباتویی تکیه کوله او دایی ګڼله چی د کمپونو سخت او کړاوجن ژوند او د کور به هیواد ستونزو او همدارنګه د ډیر اوږ ده او ترخه انتظار وروسته بیاهم د جهادی قیادت په سطحه د وحدت او یو قوی او مشترك موقف ، پلان او حکومت نشتوالی د مهاجرینو له پاره د امید هیڅ ځای ندی پری ایښی .

دا پداسی حالاتو کی چی د مجاهدینو دوهم عبوری حکومت هم پخپلو اجرآتو او تعهداتو کی د ناموافقو حالاتو ښکار ګرځیدلی ؤ پدی توګه د افغان ولس په تیره د مهاجرینو امیدونه په ریښتیاهم چی ډیر زمولیدلي معلومیدل .

خو لدی ناخبره چی هجرت یو اسلامی اصل دی دا د مسلمانانو د تاریخ مبداء ده دا یواځی د کور کلی پریښودل او پردیسی نده ، هجرت ځانګړی غوښتنی او اهداف لری ترڅو چی د هجرت عوامل له منځه ولاړ نشی او د هجرت اهداف او غوښتنی ترسره نشی مسلمان په هیڅ توګه هغه نشی شاته کولی او دا د ۳۳۰۰ کلدارو او څو کیلوغنمو په مقابل کی څه چی د ډیرو غټو مادی امتیازاتو په مقابل کی هم له پامه نشی غورځیدلی .

هر هغه تحریك او غورځنګ چی د عقیدی پر بنا راو لاړ شوی وی هغه به تر هغی دوام لری څو چی خپل وروستی هدف ته ورسیږی .

د افغانستان مجاهد ولس هم هجرت او جهاد د خپل دغه اعتقادی روح او تکیی په بنا د یو ستر هدف له پاره پیل کړی چی هغه هیڅکله هم د څیرو په تعویض ، د نومونو په بدلولو او د ظاهری تغیراتو په راوستلو نشی تر سره کیدلی . د هجرت او جهاد هدف یواځی دانه ؤ چی روسی پوځونه له افغانستان څخه وایستل شی . ځکه د هجرت او جهاد لړی هغه مهال پیل شوی چی د تره کی ملحد رژیم رامنځ ته شو او هغه وخت لا روس پر افغانستان مستقیم تیری نه وکړی .

د هجرت او جهاد اهداف د کمونیزم د نظریاتی یرغل مقابله او د هغه بشپړه ماته ده . د روس او کمونستی رژیم د بقایا وو او هغو ټولو عواملو له منځه وړل دی چی د هجرت او جهاد د فرضیت سبب ګرځیدلی دی .

د افغانستان د جهاد پر ضد دغه حربی ته له اوږ دی مودی راهیسی له بیلا بیلو لارو څخه په غیر مستقیمه توګه زمینه برابریدله، لکه مخکی موچی وویل د دغه زمینه سازی لومړنی قدم یو لړ سخت او چټك تبلیغات او د مهاجرینو پر ضد د اعصابو د جنګ جریان ؤ . خو کله چی د طرحی د تطبیق وخت رانژدی کیده د مهاجرینو لپاره یو لړ غیر مترقبه مسایل هم را مینځته کیدل د مهاجرینو د وسلو په لاینسونو د پابندی اعلان وکړی شو په زیاتره کمپونو کی په سخته ګرمی کی د اوبو او بریښنا جریان ګډوډ کړی شو او... چی لدی نه حتماً د مهاجرینو په اعصابو او روحیاتو د منفی اغیزو توقع کیدلی شی .

پداسی وخت کی چی له یوی خوا په افغانستان کی جنګ هماغسی په شدت سره دوام لری او په ټول هیواد کی د ماینونو فرش غوړیدلی دی او هر ورځ روسی الوتکی کابل ته د وژونکو وسلو په وړلو بوختی دی او د نجیب رژیم ته له پخوا زیات جنګی او مالی مرستی جاری دی چی جګړه او حالات یی لاخونړی او تاوجن کړی دی . اوهلته د مهاجرینو دستنیدلو او په امن کی د اوسیدلو هیڅ ډول منطقی تضمین نشته او همدا اوس هره ورځ د جنګی میګ الوتکو له خوا کلی او او آزادی سیمی بمباری او په سکړ توغندیو ویشتل کیږی او هره ورځ په سلګونو تنه شهیدان او ټپیان کیږی د هیڅ بیدار ضمیر خاوند او د انسانی اقدارو او حقوقو ته د احترام مدعی به دغه ډول له بشری موازینو او حقونو څخه د منافی عمل د کولو زړه ښه نه کړی او هغه به یو ولس ته د مرګ او نابودی په لوری د مارش د توطیی جرأت ونه لری .

کله چی د روان کال د اسد پر .... نیټه د طرحی د تطبیق لومړنی مرحله او د بیرته ستیندلو نیټه اعلان شوه د غرب د ډله ایز ارتباط وسایلو او د روس او نجیب د پروپاګندی چینلونو له خوا په ډیر آب او تاب تبلیغات وشول خو دا شیطانی

طرحه لکه د روسانو تیری او نوری توطئې له شرمیدلی ماتی سره مخامخ شوه چی خپله یی د ملگرو ملتو داداری مامورین له حیرانی او تعجب سره مخامخ کړل. د سیمی او نړۍ خبری منابعو هم د دغه طرحی د ناکامی په هلکه رپوټونه او مطالب خپاره کړل. دوانه، میرانشاه، پاړاچنار، تورخم، سپین بولدك او چمن په لارو بیله هغو تلونکو راتلونکو محلی سوداگرو او کورنیو څخه یو مهاجرو هم له پولی څخه ندی اوښتی او پدغو ځایونو کی د ملگرو ملتونو د دفتر مامورینو ټوله ورځ لاس ترزنی په ناستی تیره کړه. خو دا هم ښایی په یاگه کړو چی استعمار په کرار نه کینی د دغه طرحی ناکامی هغوی حتماً دی ته هڅوی چی نورو حربو او مانوروته لاس واچوی، لدی څخه خطرناکی توطئی په لار واچوی او داسی شرایط برابر کړی چی له هغو سره مقابله څه اسانه کار نه وی.

زموږ مسلمان ملت، قهرمانو مجاهدینو او صبورو مهاجرینو خپل مسولیت بیاهم په ښه توگه ترسره کړ، لکه څنگه چی په بی سیاله توگه یی د کمونیزم داستبداد په مقابل کی قیام وکړ او روسی پوځونه یی مات کړل دغه وړیی دا شیطانی او استعماری طرحه هم له شرمیدلی ماتی سره مخامخ کړه.

خو اصلی خبره زمونږ د قیادتونو ده چی د دا ډول حربو او نورو خطرناکو توطئو په مقابل کی یو موټی او متحد شی. دا ټولی حربی د مقاومت په وحدت ماتیدی شی، د ریښتنی اتحاد په صورت کی موږ باور لرو چی استعمار نور د دا ډول توطئو او حربو د استعمال جرئت او توان نشی پیدا کولی. دښمن زموږ له نیمگړتیاوو او خلاوونه استفاده کوی او زموږ پر ضد د فعالیت زمینه ورته برابر وی.

استعمار چی تر اوسه کومی حربی او توطئی په کار اچولی او زموږ پر ضد یی څومره دسیسی رامنځ ته کړی دا زموږ له اختلافاتو څخه په استفادی سره هغوی پدی توانیدلی او فرصت یی پیدا کړی دی. او همدا دوی ته امید او جرئت ورکوی چی زموږ د اسلامی انقلاب په وړاندی دغه حربی استعمال کړی. او تر هغی چی زموږ خپل منځی مشکلات حل نشی او په بشپړه او ریښتنی توگه متحد نشو د استعمار د دغه ډول حربو او توطئو څخه نشو په امن کیدلی دا توطئی به روانی وی او مخه

نیول به یی یقیناً ورځ تر ورځی له کنترول څخه وځی .

حالات ډیر حساس او نازك سرحد ته رسیدلی دی . هره لحظه چی زموږ له لاسه وځی زموږ د بریالیتوب چانس ته صدمه رسوی ، هره شیبه چی بیا هم موږ له اتحاد څخه لیری تیروو موږ همدو مره له بری څخه لیری کوی او زموږ د یونیم میلون شهیدانو په وینو او د ګډلی جنګ په آرمانونو د تجارت زمینه برابر وی .

موږ یو ځل بیا غږ کو چی دواحد سنګر ، واحد دریځ ، واحد قیادت او قوی ارګان او حکومت نه پرته موږ باید د دا ډول نورو توطیو او له دی څخه خطرناکو دسیسو انتظار وباسو . یو ځل بیا تکراوو چی هیڅ یو ګوند او جریان نشی کولی په یواځی توګه که څه هم له بیلا بیلو چینلونو او جهتونو څخه مطمئن شوی وی ځان او ولس له روانی تراژیدی ، تباهی او د استعمار د توطئو له تهدید څخه وژغوری . دلته ده چی که غواړو لدی ټولو حربو ، مانورو او توطئو سره مقابله وکړ ونود وحدت او یووالی له لاری یی کولی شو ، که نه نو د خولی په خبرو او بیانونو د دا ډول خطرناکو بین المللی دسیسو مقابله ناشونی ده . بیانو د خدای له سختی جزا ، د تاریخ او وخت له محاکمی او د ملت له زیږولاسونو د اقتدار د نشی پاسته ګریوانونه هیڅوك هم نشی خلاصولی .

وماعلینا الا البلاغ

هدایت الله «مجرت»

زموږ د قضیې مستقبل د بدمرغه غفلتونو او ظالمانه سازشونو ترمنځ

د (سا یبریا) نوم اوریدل خو به هسې هم زموږ دمسلمان ملت غونی زیږوی. څکه پردی سربیره چی پدی سیمه کی یې د روسیی د بیرووحشیانو د سره وحشت د (علمبردارانو) په لاسونو د (انسانیت) په جرم پرلکونو انسانانو د زړه ریږ- د وونکی ظلم،تعذیب اوبربریت شرمناك داستانونه اوریدلي،له کلونو کلونو راهسیی ئې دا روانسوزی کیسی هم په غوږو کی زمزمه کیږی چی په زرگونه هغه افغانی زلمیان چی د ایمان او شرافت په (گناه) د روسانو او دهغوی د بی حیا او بی ننگو مزدورانو په ناولیو لاسونو په بند او زندان محکوم شوی وو ولچکئ او زولانه د سائیبر یا وینی دروونکی او تل واورینی سیمی ته د پر مشقته کار او زندان لپاره وړل شوی چی چائې د سختیو، تعذیب او بربریت د انتها په عالم کې ژوند له لاسه ورکړی او ځوك هم د وحشتونو په خوفناکو منگولو کې د ژوند او مرگ د ورو‌ستی اخ او ډب په وروستیو شیبو کی لاس اوپښي وهی (والله اعلم) .

د جولاي میاشتی په وروستی اونی کی حتماً زموږ مسلمانو هیواد- والو د سایبریا نوم زیات اوریدلی دی. خود اځل د یوه لاترخه توپیر په زیاتوالي او دا وار به ورته د سایبریا نوم خامخا لادیر بد مرغه او دردوونکی ؤ. ځکه که پرون ورته دا نوم د لکونو انسانانو د وحشتناك تعذیب او شکنجوله شرمناکو خاطرو او د دوی پرزرگونو بچیانو د انسانیت شرموونکو کړاوونو د کیسو له دردونکو یادونو سره تړلی وُنن ئی ورته د یوه خوفناك مستقبل د انتظار زنگ هم غزاوه. پدی معنی چی د سایبریا په (ارکوتز) کې د روسیی او امریکا د بهرنیو چا رووزیران سره ناست وو او د افغان اتل قوم ددولس کلنی فاتحانه مبارزی پرمستقبل او د یونیم ملیون شهیدانو په وینو سمسور انقلاب پر سرنوشت ئې د سوه او معاملی لاری چاری لټولی. واقعیت دادی چی دا به تاریخ د خپلو تر خو یادونو او نورو خاطرو په پانوکی ثبتوی چی یوپردي هیواد له بل هغه پردی هیواد سره چی لاسونه تر څنگلو پوری د افغان مظلوم ملت په مظلومو وینو سره دی زموږ د ولس د هغه جهاد پرسرنوشت او هغو وینو پرنتیجی باندی د معامله گری خبری کوي او تصمیم نیسي چی په حقیقی مفهوم ئې د نړۍ‌یولوی واکمن او خپور نظام تخت واړوه او د یوه نوی دوران د پیل بیرغ ئی پورته کړ.

د (دسایبریا) په (ارکوتز) کی د افغانستان پرقضیه دشوارد نادزی او جیمز بیکر خبري د یوه پراخ

تبلیغاتی کمپاین په بدرګه پیل شوی ، نړۍ توله غوږ غوږ وه چې د (ارکوتز) د مذاکرو په پای کې به روسیه او امریکا ددې قضیې په باب د حل وروستی طرحه او تصمیم اعلانوی او پدې توګه به دا دوولس کلنه جګړه د روس - امریکا په وسیله پای ته رسیږي .

د خبرو تر پیل څو ورځې د مخه د جولای پر ٢٤ مه د امریکا اې بی

لیدنه کتنه کې د نجیب پر حکومت او مجاهدینو باندې د وسلو د بندیز تړون اعلان شي. پدې تړون کې به ژرتر ژره اوربند او په شپږو میاشتو کې دننه دننه په افغانستان کې د ملګرو ملتو تر نظارت لاندې د انتخاباتو تر سره کیدل هم شامل وي. په نوموړي رپوټ کې دا هم زیاته شوی وه چې د امریکا او روسیې له دې موافقې نه د نجیب حکومت او

وزارتونو په برخه کې به خپل صلاحیت نشي کارولای . امریکایانو له اقتداره د هغه د تبلې ګوښه کیدو غوښتنه پرې ایښې ده . او د انتخاباتو د تر سره کیدو تر وخته به ډاکتر نجیب تر خپل کنترول لاندې سیمې او ځایونه هغه کمیسیون ته سپاري چې د مجاهدینو نمایندګان به هم پکې ګډون لري ...!

که څه هم د پورتنی رپوټ تر خپریدو

واقعیت دا دی چې دا به تاریخ د خپلو ترخو یادونو په پاڼو کې ثبتوی چې یو پردی هیواد له بل هغه پردی هیواد سره چې لاسونه یې ترڅنګلو پورې دافغان مظلوم ملت په مظلومو وینو سره دی زموږ د ولس د هغه جهاد پرسر نوشت او دهغو وینو پر نتیجې باندی د معامله ګرۍ خبرې کوي او تصمیم نیسي چې په حقیقی مفهوم یې د نړۍ د یوه لوی واکمن او خپور استعماری نظام تخت واړاوه او د یوه نوی دوران د پیل بیرغ یې پورته کړ.

سی تلویزونی شبکی په مسکو کی د لویدیزو د پیلو ماتانو په حواله یورپوټ خپور کړ چې (د روسیې او امریکا تر منځ له افغان جګړې نه پرېشپږ لاس اخیستو توافق شوی دی) نوموړې شبکې زیاته کړه چې د جولای پر٣١ مه په به سایبر یا کې ددواړو هیوادو د بهرنیو چارو وزیرانو تر منځ په کیدونکو خبرو اترو او

مجاهدینو ته هم خبرورکړل شوی دی او دواړو لوریو ددې پلان د منلو په باب خپل رضایت څرګند کړی دی. د اې بی سی تلویزیون زیاته کړه چې د مسکو - واشنګټن د پورتنی پلان شوی تړون له مخې به داکتر نجیب د انتخاباتو تر سره کیدو پورې پراقتدار پاتې کیږي.خود دفاع ، استخباراتو او پوشمیر نورو مهمو

د وه ورځې وروسته د سایبریا نه د تلو به لار ختیزې آسیاته تر روانیدو د مخه د امریکا خارجه وزیر په واشنګټن کی وویل چې دا خبره پر ځای نده چې په سایبریا کې به د روس او امریکا تر منځ پر افغان مسئله موافقه اعلانیږی خود امریکا عږ راډیو او مسکو تلویزون له خواد اې بی سی د رپوټ په دلچسپی او

علاقه خپریدل او د نوموړی رپوټ د جزئیاتو له تائید او تردیدنه د روسیی د خارجه وزارت د ویندوی ډډه کول دا خبره په ډاګه کوي« چی په رپوټ کی داحتمالی توافق محتوي غلطه نده را اخیستل شوی. موږ یو ځل بیا پر خپل پخوانی نظر ټینګار کوو چی د مسکو واشنګټن ترمنځ زموږ د قضیی د سرنوشت په ټاکلو څه اختلافی ټکی نه دي پاتی شوی،ټول مسایل یی تر منځ حل شوی دي یواځی مشکل ئي د پلان د تطبیق لپاره د شرایطو نه مساعد ت دی.د جهاد ستر نظامی طاقت یوداسی مسلم واقعیت دی چی له یوي خوا د مسکو او واشنګټن دواړو دواك اوارادی له ساحی خارج دی او له بل لوري ئې د خپل پلان د عملی کولو په رابطه په هیڅ توګه له نظره نشي غورځولای.تر کومه چی ددی رپوټ په منبع پوری اړه لری څرګنده خبره ده چی نوموړی مطالب اي بی سی ته د امریکا د خارجه وزارت له خوا ورکړل شوي دی.

امریکا له افغانستان نه د روسانو تر خروج بیا په تیره په پاکستان کی د خپلي خوښی سیاسی تحولاتو تر راوستو وروسته په وار وار په دا ډول حرکتونو لاس پوری کړی ډی چی له یوی خوائی د مجاهدینو او زموږ د مسلمان ملت د روحیی او ذهنیت پرخلاف د یوه کرغیړن روانی، سیاسی جنګ حیثیت د رلود لی او له بل لوری ئی د خپلو شومو او پلیتو اهدافو او غوښتنو د رابر سیره کولو او راوړاندی کولو لپاره د زمینه سازی نقش تر سره کړی دی د غرب دډله ایز ارتباط وسایلو د غونا رواتبلیغاتو ته ښه زوروركړچی ګني د جلا ل آباد د جګړی د پیل تصمیم د امریکا د سفیر په ګډون د پاکستان معزولی صدر اعظمی بی نظیر بوټو نیولی. دا منفی تبلیغات خپلهد غرب راډیو ګانو او نشراتی وسایلو زمزمه کول .

> **د جهاد ستر نظامی طاقت یو داسي مسلم واقعیت دي چی له یوی خوا د مسکو - واشنګټن د واړو د واک او ارادې له ساحی خارج دی او له بل لوري یی د خپل پلان د عملي کولو په رابطه په هیڅ توګه له نظره نشی غورځولی.**

ددی په څنګ کې بیا د جګړی درکود، دنجیب دکرغیړن رژیم دأستحکام او پیاوړتیا په نامه تر ناروا تبلیغاتو او پر مجاهدینو دپوډر و دتولید او سوداګري تر تهمته ټول داسلام او زمونږ دمسلمان ملت پر ضد دامریکا دبد نامو استعماري اهدافو دتر سره کیدو دهلو ځلو کړیدي .

که د اي بی سی شبکی رپوټ چی دروس ـــ امریکا دسازش واقعی بڼه ئی را اخیستی په ډیر ځغلند نظر هم وکتل شی حتماً ګورو چی دهغه قوم او انقلاب پهباب چی دجګړی فاتح لوري دي او دقضیی دماهیت او بنهی په ټاکلو کی ئی قاطعانه نقش درلودلی په داسی بی شرمانه انداز او خبیثانه روش قضاوت او تصور شوی چی باید دتاریخ د ډیرو بدنامو او تورو تصورونو او پریکړو په لیکه کی وګڼل شی .

زه د نوموړي موافقی د جزئیاتو په باب دخپلو ګرانو لوستونکو دسر خوړولو ضرورت نه محسوسوم ځکه لومړي خو ماهیئتاً ددویدنامو طاقتونو له خوا دهغه آزاد ملت دمقدراتو په برخه کی تصمیم نیول چی دخپلو قضایاوو دتعین حق ئی مسلم دي او بیایی دخپل دوولس کلن پر خم اوپیچه اوله تراژیدیو ډك مقاومت اویونیم مليون شهیدانو په وینو بهولو داحقیقت لا ځلانده او بربښانده کړ چی دوي دي اوخپل سرنوشت ئی،ددي موافقی کر غیړن اساس او جهت ښه په ډاګه کوی له بل

لوري چې دموافقې بڼه زمونږ دقضيې کوم تصوير ښيي هغه له ورايه دا ښرگند وي چې امريکا او روس زمونږ دملت مسلمو حقوقو، ثابت حيثيت او دهغه دانقلاب او مقاومت واقعيت او موقعيت ته په څومره سپکه، دښمنانه اوله دروني خباثت اوبې حيائۍ، ډکه روحيه گوري .داچې دامريکا خارجه وزير ددې رپوټ په باب ترديدي وينا کوي په هيڅ توگه دموافقې دمحتوي په جزئياتو پوري اړه نلري پوځي فتحه له ځنډونو سره مخامخ شي او ددې پرعکس دنجيب ژوند او بقا اوږده شي.اوس څنگه کيداى شي دنجيب دبقا او گوښه کيدو خبره ورته دومره جدي او اساسي وي چې له مسکو سره ئې دتړون پرته،لاسليك منتج شي .

واقعيت دادى چې دنجيب په سمبولیکه بقا کې امريکا له روسي سره گډې گټې لري .

څکه دنجيب دمؤقتي بقا مفهوم که له بنسټه او د پرديو په لاس کينول شوي حکومت او گوند سره معاملې ته مجبور ربړي او هغه هم په ټيټ او کمزوري موضع کې.امريکا چې کمونيزم او روسيه ئې په بشپړه توگه په وړاندې د تسليمۍ لاسونه اوچت کړي،کمونيزم ختم شوي روسيه ئې هم په وړاندې دومره تذ ليله شوي چې تردي زيات ذلت ته ئې اړتيا نه ويني.

او س ئې اصلي او يواځنۍ مقابله

امريکا نه يواځې اوس له مقاومت سره دلچسپي نه لري بلکې ښکاره تضاد او دښمنې ورسره لري. ددې معنی چې يوې خوا ته هغه روسيه ده چې اوس د غربي د موکراسي پول ته ننوتی او بل لوري ته هغه اسلام او مسلمان مجاهدين دي چې غرب يې د ځان په وړاندې يو اځنی ژوندئ پاتې، قوي او خطرناکه جبهه گڼي.

بلکې يواځې داوائي چې په (ارکوتز) کې دروسي — امريکا تړون نه اعلانيږي.دنجيب دبقا او گوښه کيدو پر سرچې امريکا له روسي سره په ظاهره کوم اختلاف عنوانوي داله ښرگند منافقت او شرمنا کو درواغوپرته بل هيڅ شي ندى — زر شواهد ، شته او يو زر اويو دليله چې داپه ډاگه کوي چې دروسانو تر وتو وروسته امريکا تر يوه وخته پټ او بيا وروسته ښرگند اوعلني قدم په قدم داسې حرکت کړي چې دمجاهدينو يوې خوا دادې چې هغه دافغاني ټولنې يو مسلم اواصيل واقعيت ښودل کيږي موجوديت او موقعيت ئې نه داچې کاملاً دپردې او بهرنې څواك دلاسوهنې محصول دي له بلې خوا زمونږ دفاتح ملت او عظيم انقلاب ښرگند تذليل؛ شکست اوبد مرغنه توهين دي،په دي معنی چې زمونږ ملت او انقلاب دروسانو تر ماتولو، شړلو او دنړيدو زاړه دوران دختمولو اونوى عهد دپيلولو تر سترو افتخا راتو وروسته له يوه مزدور بې له اسلام او مسلمانو انقلابيونو سره ده نو اصلاً د شك ځاى نه پاتي کيږي چې داسلام او مسلمانانو داسې يو ښرگند ايديو لوژ يکې ، سياسي او روحي ماتي او ذلت دي خپل مسلم بري او خوشحالي ونه گڼي .

دجولاي په وروستيوکې دامريکا کانگرس له مقاومت سره دمرستو دبيخي کمولو داعلان پر وخت وويل چې له يوې خوا دروسانو تروتو وروسته دمقاومت کړه وړه او دهغو نتيجه د سي آي، اى

په توقعاتو پوره نه وه او له بل لوري اوس اصلاً دکمونیزم خبره مطرح نده نو دهغه پر ضد غور څنگونو ملاتړ څه معنی لري ؟

له لومړي خبري نه ظاهراً امریکا یان غواړي نړۍ ته داسی وښیی چې گنی مجاهدین دخپلو پوځی فعالیتونو دنتیجی په تر لاسه کولو کی پاتی راغلی له دي امله امریکا مجبوره شوي چی پخپل دریغ کی تنازل

مستقبل نتیجه په افغانستان کی داسلامی انقلاب سیاسئ بري او داسلامی حکومت جوړیدل ؤاودي داخو به خودهم دسی ، آي ا ی په توقعاتو پوره نه خیژي .

دوهمه خبره خوئي دلمر په شان څرگند اعتراف دي چی نورنه یواځی دوي له مقاومت سره دلچسپی نلري بلکی ښکاره تضاد او دښمنی ورسره لري — پدي معنی چی یوي خواته هغه

یا به دامریکا شعوری غلام او ایجنټ وي. زه پوهیږم چی شاید له ځینو درنو لوستونکو سره پوښتنه پیداشی چی کله خبره داسې ده چی له افغانستان نه دروسی پوځونو تر ایستل کیدو او په اوسنی حالت باندی دروسی تر اخته کیدو وروسته دمقاومت له ملا تړ نه دامریکا اهداف پوره شول بیائې داد دوي په قول له مقاومت سره دکال دري سوه میلونه

مونږ باید هیڅکله پدی خطر ناکه اشتباه کې ونه لوېږو چی د خپل انقلاب د وروستی او بشپړبری خنډ او نورې ګڼ شمیر بری تهدیدونکی ناخوالی پدی نامه توجیه او عنوان کړو چی د غرب او امریکا له خوا داسي او هغسی توطئه او دسیسه وشوه او د هغه او دغه د جفاوو او توطئو په یادولو دولس د قانع کولو زیار او د خپلو ګڼ شمیر نیمګړتیا وو او کمزوریو له حساب او تبرئیی هڅه وکړو.

ودړي یعنی په داسی حق په جانبه څیره نړۍ ته و فهموي چی داد مجاهدینو دموقعیت کمزورتیا ده چی امریکا ئی دتنازل او عقبنیشینۍ سیاست غوره کولو ته اړه ایستی ده!!

خو اصلی خبره داده چی دروسانو د وتو او بیا ذلیلانه سر نوشت باندي دروسي له اخته کیدو سره سم دمقاومت له ملا تړ نه دامریکا اهداف تر سره شول نوردمقاومت د ادامی او

روسیه ده چی اوس دغربی دیموکراسۍ ډول ته نڅا کوي اوبل لوری ته هغه اسلام او مسلمان مجاهدین دي چی غرب یی دځان په وړاندي یواځنی ژوندۍ پاتی خطرناکه جبهه گنی . که څوك له دي روښانه وضاحتونو سره سره دخپل ملت او جهاد دسرنوشت او مستقبل په باب له امریکا دخیر توقع کوي نو یائې پر عقل او شعور ماتم کول پکار دي او

ډالره او اوس سل ملیونه مرسته ولې؟!!

ددي پوښتنی په ځواب باید لومړی دا وضاحت وکړم چی دمرستی دمقدار په اندازه ماته مشخص او دقیق معلومات نشته خو داچې دروسی پوځ تروتو وروسته ولی له مقاومت سره دامریکا مرستی ادامه وکړه دلیل ئی روښانه ده،پدي معنی چی د روسی لښکرو دوتو پر وخت په ټول افغانستان کی داسلامی انقلاب دبري

او اسلامی حکومت د جوړیدو شعار زمزمه کیده، مسلمان انقلابیو دفتحی او بري پرلوړ ستيج ولاړوو، دانقلابیو پوځی ځواك او فکري ــ سیاسی ــ ټولنیز حضور موجونه وهل، غرب پلوی حلقی پدي شور او زوږ کی یابی درکه وي اویا هم دنقش او موقعیت له مخی په حاشیو کی پرتی وي . غرب دانقلاب او ملت په منځ کی هیڅ فعال او حاضر قوت نه در لود چی مستقل عمل وکړي او ددوي له خوښی او اهدافو سره سم دقضایاوو دسرنوشت په عیار ولو کی نقش تر سره کړي ان تردي چی په پیل کی امریکا دومره وارخطا وه چی فکرئي کاوه شاید مجاهدین په ډیره چټکی قاطع عمل وکړي او له خپلو تګلارو او آرمانونو سره دقضیی لمن ورټوله،دنجیب رژیم نسکور او سلامی حکومت جوړ کړي. تصورئی کاوه چی ممکن دوي دحالاتو ویجاړولو، دمجاهدینو دسریع پوځی ورروستی فتحي او اسلامی حکومت دجوړیدو دمخنیوی لپاره په وضعه کی ددلخواه بدلون راوستلو چانس او فرصت تر لاسه نکړاي شی،لدي امله یې خپل ډیر پلانونه په فو ق العاده احتیاط پټ او مخفی وساتل او په ځانګړي سوچ او احتیاط ئی عمل وکړ. پداسی یو حالت کی امریکا یانودي ته اړتیا درلوده چی دانقلاب دوضعی د تخریب او دخپلو پلانونو اواهدافو په ګټه دحالاتو او شرایطو دراوستو لپاره په قضایا وو کی دمداخلی یوه لاره، وسیله او پلمه ولري لدي پرته هغوي نشواي کولاي دمجاهدینو تر منځ دانتشارپیداکولو، دجهاد او دجهاد د قیادتونو او تشکیلاتو دبد نامولو انقلابی ځواکونو دتضعیفه دخپلی خوښی حلقو او شخصیتونو دپیاوړتیا او تبارزله پاره موقع او چانس تر لاسه کړاي شی .

هداوس ئی چی دسل ملیون ډالر و مرستی دادامی اعلان کړی دخپلو پورتنیو پلانونو دتطبیق لپاره زمونږ دانقلاب په قضایاووکي دمداخلی دچاینل او موقعیت له دراوولوپرته بل هیڅ ډول دخیر هدف او نقشه نلری .

په هر حال بیخی څرګند ده چی امریکا زمونږ دمسلمان ملت دجهاد او آرمانونوپر ضد دخطر ناکی دښمنۍ پر کرښه ولاړه ده او طبیعی ده چی دښمن د دښمن دټکولولپاره له خپل هر ممکن وس نه کار اخلی ــ زه پدي باور لرم چی مونږ تردي حده مکلف یو او ضرورت لرو چی د خپل مجاهد ولس داهدافو په وړاندي دامریکا له خوا پر راوړاندي کیدونکو ستونزو او پیچلتیا وو بحث وکړو،چی یو خوا ټولنه کی ددي شعور را پیداکړو چی مبادا دامریکا مستقیم او غیر مستقیم وابستګان ددوستی تر پوښ لاندي زمونږ قضیه دواشنګټن لمنی ته ونشی سپارلی او بل وپوهیږو چی امریکا زمونږ دفکری مشخصاتو او اهدافو دیوه مخالف په توګه څه ورتوطیه کوي او څه ډول را وړاندي کیږي،تر څوپوه شو چی څه ډول ئی په مقابل کي ودریږو او څه وړئی د تخریب مقابله وکړو، مګر باید هیڅکله پدي خطر ناکه اشتباه کی ونه لوبیږو چی دخپل انقلاب دبری څنډ او نوري ګڼ شمیر بری تهدیدوونکی نا خوالي موپدي نامه اوعنوان تو جیه کړو چي دامریکا او غرب لخه خوا داسی او هغسی توطئه او دسیسه وشوه او دهغه او دغه دجفاوواو تو طئو په حسابولو دولس دقانع کولو زیار او دخپلو ګڼ شمیر نیمګړتیا وو او کمزوریو له حساب نه دځان بچولو او تبریه کولو هڅه وکړو .

پدی جالت کي شاید یو څه وخت خلك توجیه شی . خو تاریخ په وار وار ښودلی چي زمانه پر چا رحم نکوي او نه هم ورته دزیات انتظار حوصله لري. ومولیدل چی ښه کافی فرصتونه موله لاسه ورکړل، دوحدت فرصتونه، دجدی او قاطع عمل فرصتونه، داعتماد له بحران نه دځان بچولو فرصتونه ، دښو منطقوی شرایطو او ښه نړیوال ذهنیت فرصتونه، دفتحی او بری له بی مثاله غرورنه او شو ر او ځوږ نه ما لا-

پاتی په(۲۹) مخ کی

مولوی محمد یونس «خالص»

لیکوال باید د اسلامي جهاد اهداف په پام کي ونیسي

مثلی خبره ده لکه څنگه چی ژبه نسبت نور غړو ته په ټولنه کی د ډول ډول بدلونونو په باب اغیزمن رول لری او له همدی امله له یوی خوا لوی خدای(ج) حکم کوی چی:

« زما بندگانو ته حکم ورکړه چی ښه خبره دی کوی» ځکه شیطان د دوی تر منځ د بدو خبرو له لاری مخالفتونه راپیدا کوی ، او له بلی خوا رسول صلی علیه السلام حکم کوی چي: « د ژبی دلو څخه ځانونه وساتی »

همدغه راز قلم چه د ژبی تعبیر کوی په ټولنه کښی بی اثره نه دی .

دا هم مثلی خبره ده چی اشخاص او د اشخاصو عملونه د تل لپاره دوه اړخونه لری یو مثبت او بل منفی ـ مثلاً که یو انسان هر څومره په انسانی ارزښتونو ښکلی او سمبال وی بیا هم د (انه کان ظلوماً جهولاً) په حکم ذاتاً ناقص مخلوق دی . او د تل لپاره دخدای(ج) امداد ته اړ دی ځکه نو هغه خلك چی خدای(ج) څه ورښودلی دی مکلف دی چی تروسی وسی یې په لیکلو کښی لاندی باندی را نه ولی ، ځکه الله تعالی(ج) حکم کوی : « ولایاب کاتب ان یکتب کما علمه الله » یو لیکوال دی د هغه څه خلاف نه کوی کوم چی ورته خدای(ج) ښودلی یعنی د حقایقو خلاف دی نه لیکی او لیکنه دې د نورو په ضرر نه تماموی .

خدای(ج) ورته د لیکوالی نعمت ورکړی نه باید چی ورڅخه بده استفاده وکړی او د محاسنو څخه ئې سترګی پټی کړی صرف معائب ولټوی او یا معائب تر پردې لاندی کړی یواځی محاسن قلم ته وسپاری، خو متأسفانه نن ځینی لیکوالان ګورو چی نه خو د امانت پروا ساتی او نه د قلم عفت ته ګوری،کوم خلك چی په یوه لاره روان وی بی له دی څخه چی په معقولو دلائلو د خپلی لاری حقانیت ثابت کړی ددی حق نه لری چه په نورو ناحق تورونه ولګوی او یا د نورو محاسن پټ کړی او د معائبو د ذری څخه یی لوی غر جوړ کړی خو له بده مرغه ځینی لیکوالان کوم چی پخپل سربی لاری روان شوی او ددی وسه نه لری چی د خپلی لاری

په حقانیت مقنع دلائل قائم کړی لګیا دی د نورو تخریب ته ئی د قلم ژبه اړم کړی د رحمان بابا د وینا سره سم:
(که څوك تله د انصاف په لاس کښی درکړی - خپل ټټو او د بل آس به برابر کړی)

د نورو په ټولو محاسنو خاوری اړوی او له واړه عیب څخه ئی غټه بلا جوړوی. یو لیکوال باید د موضوع دواړه اړخونه وڅیړی او په یوه معقول دلیل یوی خوا ته ترجیح ورکړی نه دا چی دیوه ناپوه په څیر چی په ښکنځلو د زړه درد باسی دی هم بی دلیله لعن او طعن ته د قلم ژبه ور وڅرخوی او په دی ترتیب یو تر بله سره د تفاهم فضا ګډه وډه کړی او داسی څه رامنځته کړی چی بله ورځ ئی خپله هم علاج نه شی کولای .

د انسان عفت دادی چی نه خو بی حیأ خبره وکړی او نه عملاً بی حیاء کار ته اقدام وکړی،خو د قلم عفت دادی چی په رښتیاوو وښوري او معائب هم په داسی ترتیب ښکاره کړی چی خپله عیبجن ورڅخه درس واخلی نه دا چی اوبه خړی او فضا ناآرامه کړی.

هو! لکه څنګه چی یو ماهر رسام کولای شی یوه ښه ځیره په یوه بدرنګه صورت ترسیم کړی همدغه راز یو لیکوال کولای شی د یوه مسلك محاسن د معایبو په رنګ رنګ کړی،جهاد ته د خونریزی رنګ ورکول او رقص د هنر په بڼه کښی وښیئ هغه چې یو لاس ئي د بل په جیب کښی ذ غلا لپاره منډلی وی او په بل لاس کښی ئی د قرآن پاڼی نیولی او

لولی ئی هغه لیکوال ته ورته دی چی د اسلام پر ضدئی هر څه لیکلی او اوس د مجاهد په نوم د مملکت په سرنوشت کښی مرکی کوی اومقالی لیکی- باور لرم د اسلامی قوانینو پر ضد په تیره زمونږ د اسلامی جهاد په خلاف چی د همدغه ډول لیکوالانو څخه زمونږ دښمنانو استفاده کړی

احساساتو او ایمانی شجاعت کښی ئی تزلزل رانه ووست. اما همدغو لیکوالو کومو چی یا خوئی د جهاد سنګر په سترګو ندی لیدلی او یا ئی د جهاد په نوم د چوکی لپاره هلی ځلی کولی او چی پاتی راغلل د جهاد ضد منصوبی ئی پیل کړی او د جهاد ضد مقالو ته ئی زور ورکړواو وئ کولای شول

څومره ملی خائنان وو چی د اسلام پر ضد ئی لیکنی کولی او غوښتل ئې چی دا ملت د خاورو سره خاوری شی چی نن هم د همغو ځینی لګیا دی د افغانی لیکوال په نوم له زهرو ډکی لیکنی کوی او تاندوهی اسلامی جهاد متوقف کړی د حق د لاری مجاهدین له صحنی څخه بهره کړی او د بیطرف په

لیکوال باید د موضوع دواړه اړخونه وڅیړی او په یوه معقول دلیل یوی خوا ته ترجیح ورکړي ، نه دا چی د یوه ناپوه په څیر په بکنځلو د زړه درد وباسی او بی دلیله لعن او طعن ته د قلم ژبه وروڅرخوي، د تفاهم فضا ګډه وډه کړي. او داسی څه رامنځ ته کړی چی بله ورځ یی خپله هم علاج نشی کولی.

ممکن د روسانو د سکړ توغندی ، ټانګ او راکټ څخه به ئی هم نه وی کړی. د روسانو درنی او سپکی وسلی پر مونږ استعمال شوی،زلمیان ئی شهیدان کړل ، مېنی ئی را ړنګی کړی د هیواد څخه ئی بهر کړو خو زمونږ ذاتی

جهاد کمزوری کړی،د خلکو احساسات وغندی او همتونه ئې د ماتی سره مخامخ کړی .

که تاسو د هغه وخت مجلی او جرائد مطالعه کړی چی په ظاهر شاهی سلطنت کښی خپریدلی درمعلومه به شی چی په لیکوالو کښی

نوم د روسانو سره شریکه اداره جوړه کړی. دوی سره له دی چی خلکو ته ددوکی ورکولو لپاره د اسلامی نظام غږ پورته کوی بیا هم داسی طرحی وړاندی کوی چی اسلامی اساسات ئې نه شی منلای. دوی غواړی لکه د نجیب په څیر د

اسلام له نوم څخه بده استفاده وکړی د اسلام غړ پورته کړی او د مسلمانانو جرړی وباسی نن سبا چی اسلامی جهاد خورا پر مخ تللی دی او د مجاهد ملت په لاس کښی الحمد لله زیات نه زیات جنگی وسائل موجود دی ، دښمن د محاصری لاندی دی د همداسی لیکوالو او روس پرسته مرگچیانو په غلطو خپرونو باید مجاهد ملت خپل مسیرته تغیر ورنه کړی او د یو نیم ملیون شهیدانو وینی ونه بایلی. باور لرم چی که د جهاد دپیل په شان همت وکړو په ډیر لږ وخت کښی به کفری طاقت محوه او یو اسلامی حکومت به جوړ کړو . دغه ډول لیکوال او د اسلام ضد سیاستمداران باید پوه شی چی داسلام څخه قرابانیدونکو مجاهدینو پیژندلی دی که لاس

وانه خلی زر په زره به په اسلامی حکومت کی محاکمه او مجازات شی او مجاهدین هم باید پوه شی چی دا د لستونړی

ماران د ښکاره دښمنانو څخه ډیر خطرناك وبولی-اعتماد دي پری نه کوی او باید ځانونه ورڅخه وساتی « والسلام »

د انسان عفت دا دی چی نه خو بی حیاء خبره وکړی او نه عملاً بی حیاء کار ته اقدام وکړي. د قلم عفت دا دی چی په ریښتیا وو وښوري او معائب هم پداسی توگه ښکاره کړی. چی خپله عیبجن ورڅخه درس واخلی.

محمد یوسف

بحران خلیج فارس و مسؤولیت مسلمانان

خلیج فارس که دربین اعراب به خلیج العربی مشهور است درسالهای اخیر از متشنج ترین مناطق جهان به حساب میرود .

تشنج و بحران در خلیج فارس علل وعوامل زیادی دارد که از ادعاهای ارضی شروع شده تا رقابت های اقتصادی پای آن کشیده می شود .

درین سالهای آخر جنگ دراز مدت بین دو کشور حوزه خلیج فارس یعنی ایران و عراق که هشت سال ادامه داشت و باعث ازبین رفتن صدها هزار انسان و منابع و ذخایر دو کشور درگیر و کشور های دیگر منطقه مانند کویت آمارات متحده عربستان سعودی و .... گردید . امنیت این منطقه نفت خیز و تجارتی را دچار بحران و مشکل نمود .

صرف نظر از اینکه دراین جنگ مقصر که بود ؟ وچه شد ؟ و چرا این جنگ خانمانسوز و درد انگیر این همه مدت طولانی دوام یافت ؟ و چه آثار فاجعه آمیز و دردناك برای مسلمانان دو کشور و مسلمانان جهان به ارمغان آورد ؟وچرا متجاوز مورد حمایت قرار گرفت ؟ وبه چه دلیلی ایران از پذیر فتن صلح تا آخرین سالهای جنگ خود داری نمود ؟ و چرا های دیگر ؟؟؟

.جهان درهفته گذشته شاهد تجاوز و لشکر کشی قوای صدام حسین به تمامیت ارضی کشور کوچك ، مستقل مسلمان و همسایه آن کشور بود .

درحالیکه کویت عضو سازمان ملل متحد ـ عضو کشور های اسلامی و معتقد به فیصله های کنوا انسیون ژینو میباشد ، اقدام مناسب و لازم برای تنبیه متجاوز صورت نگرفته است .

حد اقل کاریکه تاحال انجام شده تجاوز عراق محکوم گردیده و موضوع تحریم اقتصادی و نفتی عراق مورد بررسی قرارداده شده است که طبق آخرین اخبار کشورهای بزرگ صنعتی مانند امریکا ، انگلستان ، جاپان و آلمان آنرا به منصه عمل گذاشته اند .

باوجودیکه کویت با امریکا روابط حسنه داشته و درزمان جنگ ایران و عراق کشتی های نفتی کویت با پرچم امریکا از تنگه هرمز میگذشت . و درحالیکه ناوگانهای امریکائی درخلیج فارس حضور داشتند از تجمع قوای عراقی در سرحد کویت و آغاز حمله به کویت هیچ گونه اطلاعی نداده بودند .

منافع ابر قدرتها درخلیج فارس :

از آنجاییکه ابر قدرتها درجهان همیشه درپی منافع و بازاریابی برای خودهستند به همین لحاظ ایجاد تشنج و بحران در منطقهٔ از مناطق جهان پای آنها را به آنجامیکشاند تا از منافع و سرمایه های جابجاشده خود حفاظت نمایند به همین دلیل کشور های صنعتی در بحرانهای خلیج درگیرهستند و درصورتیکه منافع شان تهدید شود از پایگاه های نظامی خود که به همین منظور در منطقه ایجاد نموده اند استفاده مینمایند . همین اکنون کشتی های جنگی امریکا ، فرانسه ، ا تالیا / انگلستان ، جاپان و روسیه وارد آبهای خلیج شده اند و هیچ معلوم نیست که درپی چه هستند ، اگر منظور تهدید عراق باشد تجمع این همه نیرو چه معنی دارد ، اگر قصد حمله نظامیودر گیر شدن در یك جنگ رویاروی با عراق

> **درحالیکه کویت عضو سازمان ملل متحد، عضو کشورهای اسلامیومعتقد به فیصله های کنوانسیون ژینو میباشد اقدام مناسب ولازم برای تنبه متجاوز صورت نگرفته است.**

است - به چه دلیل فرانسه و روسیه طیاره های بلند پرواز معراج و میگ و موشك های دور منزل و انگلستان بم های کمیاوی وغیره را آنهم با پیمانه وسیع در اختیار عراق میگذارند. معلوم است که کشور های خارجی نه برای دلسوزی و دفاع از مردم کویت و عراق و نه هم برای دفاع از کشور های

بحران خلیج و تأثیر آن بر مسلمانان :

چون منطقه خلیج فارس از نظر جغرافیاوی طوری واقع گردیده است که کشورهای آن خطه برآبهای منطقه مسلط هستند و از نعمت های خدا داد نفت وگاز وغیره منابع برخوزدار میباشند که در نهایت منافع و ثروت آنها به طبعی از نفت و گاز وغیره منابع حیاتی و اقتصادی محروم هستند مشکلات جهان اسلام برطرف میگیردد .

لذا وجود بحران در مجموعهٔ از کشورهای اسلامی و به هدر رفتن این منابع از نظر اقتصادی ضرر آن مربوط به تمام کشور های منطقه و اسلامی میباشد .

صدام حسین باید از روسیه و بلاك کمونستی درس عبرت میگرفت که سرانجام تجاوز شکست است ورسوایی-وحداقل جزای متجاوز خودکشی میباشد یا سکته قلبی.

خلیج برای هیچکدام این ها نیرو وارد منطقه نه نموده اند بلکه در نظر دارند به این بهانه حضور فعال تردر کشور های حوزه که اکثر آنها مسلمان و دارای ذخایر عظیم اقتصادی هستند داشته باشند و زمینه تسلط همه جانبه خود را فراهم نمایند .

مسلمانان باز میگردد و در صورت بوجود آمدن یك اتحادیه نیرومند و قوی اسلامی دست استعمارگران چپاولگر از این ثروتها کوتا ، می شود و باایجاد روابط تجارتی و سرمایه گزاری در کشور های اسلامی که از ابحار دور واقع شده اند و یابنا برخصوصیات

بحران وجنگ خلیج از نقط نظر ایجاد تفرقه و دسته دسته شدن مسلمانان و ازبین رفتن وحدت و اخوت اسلامی و موضع گیری مشترك و یك پارچه اعراب منطقه در مقابل اسرائیل که مانند غده سرطانی در قلب اعراب جای گرفته است تأثیر سؤ و خطرناك دارد .

یکی از تأثیرات سؤ حمله عراق به کویت را میتوان در رابطه با قضیه افغانستان ملاحظه نمود ، در حالیکه رژیم کابل آخرین روز های عمر خود را پشت سرمیگذارد در بعد سیاسی و تبلیغاتی موضوع افغانستان تحت الشعاع قرار گرفت.

نتیجه :

درنتیجه میتوان گفت که بحران در خلیج فارس که با تجاوز قوای بعثی صدام حسین ایجاد گردید. و مخالف تمام موازین بین المللی ، منطقه ئی و انسانی بود این روحیه را بوجود آورد و یاحد اقل به این طرز دید قوت بخشید که هر کشور بزرگ به کشور های کوچك و ضعیف حمله نماید و آنرا به بهانه اینکه زمانی جز و خاك من بود به خود ملحق نماید.

تجاوز عراق به کویت که مخالف با تمام موازین حقوقی و انسانی صورت گرفته است راه رابرای تجاوز و لشکرکشی سایر کشور هایکه درصدد بهانه بودند باز نمود و در صورتیکه صدام حسین و صدام های دیگر تنبیه نشوند هیچ کس جلو خود سری و تجاوز اسرائیل غاصب را گرفته نخواهد توانست. صدام حسین باید از روسیه و بلاك کمونستی درس عبرت میگرفت که سرانجام تجاوز شکست است و رسوائی و حد اقل جزای متجاوز خودکشی میباشد و یاسکته قلبی.

> درحالیکه ناوگانهای امریکایی در خلیج فارس حضور داشتند از تجمع قوای عراقی در سرحد کویت و آغاز حمله به کویت هیچگونه اطلاعی نداده بودند.

دعبوري حکومت مشر حضرت صبغت الله مجددي په پېبنور کي
دشهيد قومندان محمد اسماعيل د فاتحی په غونډه کی : :

د قومندان محمد اسمعيل شهادت زموږ د مجاهد ملت لپاره ډيره ستره ضايعه ده.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين.

گرانو مجاهدينو، علماوو، مهاجرينو او زما درنو ورونو! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته اما بعد: دا تعزيتی غونډه چی زمونږ د يوه قهرمان مجاهد وروړ شهيد محمد اسمعيل ذبيح الله د مجاهدينو د ستر قومندان مولانا جلال الدين حقانی دورور د فاتحی له امله جوړه شوی، موږ قلباً مولانا جلال الدين حقانی، د ده کورنی، مجاهدينو او د افغانستان مسلمان ملت ته خپل تسليت وړاندی کوو او پدغه درد کی ځان ورسره شريک گڼو، الله تعالی دی د ده درجات عالی وگرځوی او د خپل رحمت په جوار کی دی ځای ورکړی او بازماندگانو ته يی صبر جميل، اجر جزيل او نيک عوضونه نصيب وگرځوی. واقعاً د محمد اسمعيل شهادت زموږ د مسلمان ملت له پاره يوه ډيره ستره ضايعه ده. د انقلاب په دغه حساسو شرايطو کی د داوړ قهرمانو جدايي په ريښتياهم چی ډيره دردوونکی ده.

الله تعالی په سوره احزاب کی فرمايي:

پدی معنا:

د مؤمنانو له جملی څخه نارينه خلک دی، توريالی خلک دی؛ هغه چی له الله تعالی سره يی وعده کړيده په هغو کی صادق دی، هغوی په خپل قرار داد کی چی له الله تعالی سره يی کړی صادق دی، هغوی ريښتنی دی په دی کی چی ژوند، مرگ، ناسته ولاړه، هستی او هر څه يی د الله تعالی د رضا له پاره دی. واقعی مسلمان د همدغه قرار داد پابند دی. نو نارينه او توريالی همدا خلک دی چی پخپل تعهد او قرار داديی وفا کړی او هغه يی تر سره کړيدی.

له دوی څخه ځنی هغه خلک

دی چی قرارادیی ترسره کړی ، سریی د الله تعالی په لار کی قربان کړ ، شهادت ته یی لبیک ووایه او ځنی له دوی څخه منتظر دی او د خپل تعهد او قرار داد ترسره کولو ته آماده دی .

شهید محمد اسمعیل هم پدغه ډله کی ؤ چی خپل تعهد یی

کړی او شهادت مو نصیب وگرځوی .

زما مجاهد ورونو !

په تیرو دوولسو کلونو کی چی په افغانستان کی کوم تاوجن حالات روان دی دا ډیر جانکاه مصیب دی چی د بشریت په تاریخ کی کم نظیره دی . زموږ ملت یو نیم ملیون

اسلامی عقیده ده ، هغه د جهاد توفیق دی او هغه د خدای (جل جلاله) په لار کی قربانی ده ؛ چی همدا د انسان سعادت او د جنت د دخول سبب دی .

د خدای (جل جلاله) فضل دی زموږ قهرمان ملت په ډیره بیچارگی او دربدری کی په بی ساری میرانه ، په سختو شرایطو

مور قلباً مولانا جلال الدین حقانی، د ده کورنی ، مجاهدینو او د افغانستان مجاهد ملت ته تسلیت وړاندي کوو. الله تعالی دی د شهید محمد اسمعیل (ذبیح الله) درجات عالی وگرځوی او د خپل رحمت په جوار کی دی ځای ورکړی او بازماندگانو ته یی صبر جمیل او اجر جزیل نصیب وگرځوی.

ترسره کړ او پخپل قرار دادیی عمل وکړ او هغه یی سر ته ورساوه ، سر یی د خدای جل جلاله په لار کی ورکړ او د شهادت ویاړیی په برخه شو .

موږ او تاسی منتظر یو . او د دغه قرار دارد تر سره کولو انتظار باسو . الله تعالی دی موږ ته هم د دغه قرارداد د ترسره کولو توفیق را په برخه

شهیدان ورکړی له شپږ و ملیونو څخه زیات په هجرت مجبور شویدی ، وطن کلی کورونه وران او ویجاړ پراته دی ، د معیوبینو کونډو او یتیمانو شمیر له حسابه وتلی دی .

خو لدی ټولو سره یوابدی نعمت او یو لازواله پیرزوینه الله تعالی زموږ نصیب گرځولی ده چی هغه ایمان دی . هغه

کی جهاد جاری وساته . که یواځی د حقانی د خپلوانو او مجاهدینو د شهیدانو پوښتنه وشی نو معلومه به شی چی زموږ مقاوم ملت څومره شهیدان او قربانی ورکړی دی .

خو الحمد لله موږ مسلمانان یو زموږ ایمان او عقیده تزلزل نه منونکی ده ، زموږ اراده قوی ده . الله پاک ته دعا کوو چی

تر آخره مو ثابت قدمه ولري .

شهيد محمد اسمعيل زموږ ورور ؤ زموږ مټ او باز وؤ . که د حقاني صاحب نسبي ورور ؤ زموږ ديني ورور ؤ . حقاني صاحب داسې ستر مجاهد او عالم دی چی ټول افغان ولس او اسلامي امت ، پرې فخر کوي . زما دعاده چی الله تعالی د قومندانانو ، قومي مشرانو او ټول ولس په منځ کې بشپړ اتحاد او اتفاق راولی او د

زما محترمو ورونو !

دا ثابته خبره ده چی موږ بی له اتحاد او اتفاق څخه هدف ته نشو رسيدلی . نن د افغانستان او ضاع ډير حساس او خطرناک پړاوته رسيدلی ده ، دنيا د بحران او خطر خواته روانه ده . د مجاهدينو دوست هيوادو نه له سختو مسائلو ، ربړو او مشکلاتو او ګواښونو سره مخامخ دی . کويت پر عراق تيری وکړ او سعودی هم تر

زما قدرمنو ورونو !

زموږ ملت بايد يوه قومانده شی ، قومندانان بايد فيصله وکړی . زه قومندانانو ته اعلان کوم . حقاني صاحب دادی دلته موجود دی ، نور قومندانان هم شته دوی دی تصميم ونيسی ، فيصله دی وکړی که بل حکومت راولی زه حاضريم چی په هره برخه کی چی دوی لازم ګنی او کارکولی شم کاروکرم .

موږ د قومندانانو د فيصلو

> زموږ ملت بايد يوه قومانده شی. قوماندان بايد فيصله وکړی. زه د قوماندانانو په مخ کی دا اعلان کوم. حقانی صاحب دا دی دلته موجود دی. دوی دی تصميم ونيسی. فيصله دې وکړی که بل حکومت راولی زه حاضر يم چی په هره برخه کی دوی لازم ګنی او کار کولی شم خدمت تر سره کړم.

افغانستان ملت ته د حقاني صاحب په څير باعلمه او باعمله قومندانان په نصيب وګرځوی او د دوی تعداد ګا زيات کړی .

شهيدان مړه نه دی ، ژوندی دی ، دا د الله تعالی قول دی .

تهديد لاندی دی ، خو د حرمينو دفاع د عالم اسلام مکلفيت دی ، د افغانستان مجاهدين دی کارته آماده دی او خپل چمتو والی اعلانوی . الله تعالی دی موږ ته د اتحاد توفيق راکړی .

احترام کوو ، د دوی شوراګانوته په درنه سترګه ګورو ، تائيد او هر کلی يی کوو ، دا ښه کار دی ، د قومندانانو د اتحاد خبره ډيره ښه خبره ده . زه حاضريم او د دوی . د فيصلی د منلو اعلان

کوم . زه مطمئن یم چی دوی په غلطه فیصله نه کوی .

ما په ډاګه کړی ، قوماندانانو ته می اعلان کړی چی که بل

هلته یوه قوماندان لاره نیولی وه ، خدای دی مولوی ارسلا ته خیر ورکړی هغه یی مخه ونیوله تاسی ووایی چی د اقطاع الطریقی نه ده نو څه ده ؟

ګناه ده . له شرک وروسته د مسلمان قتل لویه ګناه ده ، دلته د پاکستان حکومت مسئوولیت لری چی د داسی تر ورستی اعمالو مخه ونیسی .

ورونو ! زه یو ځل بیا خپله خبره تکراروم چی باید نور فرصت له

موږ د قوماندانانو د فیصلو احترام کوو. د دوی شوراګانو ته په درنه سترګه ګورو، تائید او هرکلی یی کوو. د قوماندانانو اتحاد ډیره ضروری خبره ده. زه پدی مطمئن یم چی دوی په غلطه فیصله نه کوی زه، ددوی د پریکړو د منلو اعلان کوم.

حکومت جوړوی ، بل څوک راولی ، تاسی فیصله وکړی زه یی منلوته حاضریم که ما د عسکر په صفت هم و د روی زه یی خپل افتخار ګنم . که ماونه منله راشی له ګریوان څخه می ونیسی .

په داخل کی ځینی عناصر داسی اعمالو ته لاس اچوی چی انسانیت پری شرمیږی ، د قطاع الطریقو عمل کوی،لاری نیسی د مجاهدینو مالونه لوټوی او موټری ګرځوی . موږ څه موده مخکی ارګون او ګتواز ته ولاړو ،

ورونو !

دا د تر ورونو لری ډیره د غور او تشویش وړده ، همیشه خبریږو چی زموږ قوماندانان او روشنفکران تر ورکیږی خو تر اوسه د یوه قاتل و نه نیولی شو ، د مسلمان قتل ډیره ستره

لاسه ورنه کړو تصمیم ونیسو ، عملی یی کړو . زه ستاسی د هری فیصلی منلو ته خپل چمتوالی څرګندوم .

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

شهید محمد اسمعیل زموږ ورور ؤ، زموږ مټ او بازو ؤ، که د حقانی صاحب نسبی ورور ؤ زموږ دینی ورور ؤ. حقانی صاحب داسی « ستر مجاهد دی چی ټول افغان ولس او اسلامی امت پری فخر کوی.

مرزا خیل

دافغانستان جهاد د کمونیزم شکست

که څه هم نن سبا په ظاهری ډول د افغانستان حالات د تیرو څو کلونو په نسبت بدل ښکاری ولی حقیقت داسی نه دی ، په جلال آباد ، بغلان ، خوست او ... کی چی د کمونستو خلاف د مجاهدینو کوم جهاد روان دی غربی ذرایع ابلاغ ورنه سترگی پټی کړی دی ، وجه یی داده چی مجاهدینو په افغانستان کی د یو اسلامی حکومت ترقیامه د وسلو نه غورزولو سوگند کړی دی او امریکه ، روس او نورو غربی هیوادونو په شمول د هند دا نه غواړی چی په افغانستان کی دی یو اسلامی حکومت قایم شی . هم دغه وجه ده چی د روسی پوځونو د ستنیدلو باوجود نن هم تقریباً هره ورځ د هر ډول وسلو ډك (۷۰) جهازونه د خوارکی موادو او روزمره استعمال شیانو په پلمه کابل ته ځی چی د هغو په وجه جنگ نورهم خونړی کولی شی .

د روسی پوځونو د واپسی او د گورباچوف د موجوده رویی مطلب هیڅکله هم دانشی کیدی چی گنی روس امن پسند دی د روس خپله یوه بنیادی پالیسی ده چی په حقیقت کی هغه د دغه پالیسی نه په هیڅ قیمت اخوا دیخوا کیدلی نشی دا بیله خبره ده چی افغان مجاهدینو د خپل ایمان او غیرت په برکت گورباچوف په ظاهر په دغه وینا مجبور کړو چی گنی هغه جنگ نه غواړی . گورباچوف چی د امن پسندی کوم نقاب په مخ را خورکړی دی د هغی په حقیقت هم افغانان ښه پوهیږی .

افغانستان نه د روسي پوځونو د وتلو تقريباً دادي يو نيم کال پوره کيږي د روس دا اقدام په حقيقت کې يو سياسي عمل يا ډپلوميسي وه ځکه چې د پوځونو د واپسي سره سره کابل ته دوسلو ورکړه خپله هلته د روسانو د شتوالي ثبوت دی. گورباچوف پخپلو سياسي راغونډ کړې ولې مجاهدينو د گورباچوف دغه سياسي چال هم تار تار کړو.

لدې سره سره د روسي تجربه کار پوځي مشير د وزارت خارجه د سفير په حيث د روسي مفاداتو د تحفظ د پاره کابل کې لگيادي کارکوی. گورباچوف پخپل ملك کې باوجود د دې چې دولقي لاندې وساتلی شي، ولی د هغه دغه آرزو به هم مجاهدين له خاورو سره خاوره کړي.

روزانه د روس باربردار طياری او وسله بردار جهازونه لگيادی سکډ ميزائل او نوری وژونکی او کيمياوی وسلی کابل ته رسوی او دغه سکډ ميزايل د مجاهدينو په

د افغانستان نه روسي فوځونو واپس کيدل او د گورباچوف د موجوده رويي مطلب هيڅکله هم ذانشي کيدی چې روس امن پسند دی، د روس خپله يوه بنيادي پاليسي ده، چې د هغی نه په هيڅ قيمت اخوا ديخوا کيدلی نشي.

چالونو دا کوشش وکړو چې د کريملين اقدام چې په حقيقت کې د بين المللی رائی عامه نه مکمل انحراف دی، د رائی عامه مطابق کړی او د روسي پوځونو د انخلاء نه پس مقاومت کې د اختلاف پيدا کولو خپلو کوششونو ته دوام ورکړی او د ماسکو حکومت په مفاد کې کار کوونکی گوندونو يوه بيرغ لاندې

په ظاهره تر يوحده آزادی ورکړه او ډير سياسي بنديان يې هم خوشې کړل، ولی بل خوايي د نجيب رژيم په پوځي مرسته کې ډيره اضافه وکړه. د دې نه دا معلوميږي چې گورباچوف پخپله وينا کې ريښتنی نه دی او اوس هم ترپردی لاندې د هغه دا کوشش دی چې په څه ناځه طريقه افغانستان د روسي

سنگرونو او آزادو منطقو د روسي مشيرانو په لارښوونه ويشتلی شي. د روس د پوځي امداد په نتيجه کې ولوکه نن سبا کابل نه د بارودو يوه ډيره جوړه شوی ده ولی بل خوا اقتصادی بدحالی هم خپره ده اختلافات او د مخالفينو موجودگی هر وخت د خطر باعث کيدلی شي، په اقتصادی لحاظ د ملك ټول

معشیت تقریباً مفلوج شوی
دی او ملکی پیداوار صفر ته
رسیدلی دی . افغانستان چی
یو وخت به یی غنم او غوښی
برآمد کولی نن هغه د دولس
کلن مسلط کړی جنګ په
نتیجه کی د خپل زراعت او
څارویو څخه لاسونه وینځلی
دی او که چیری د ملك په
کومه برخه کی څه پیدارهم و-
شی نو د خپلی علاقی نه بهر
نشی تلای او د جنګ له امله
دلارو د خرابی په وجه
پیداوار له یو ځای نه بل
ځای ته نشی رسیدلی
دارلحکومت چی د نورو
ښارونو په مقابل کی په نسبی
توګه لږ ښه ښکاری بیاهم
هلته ژوند مشکل دی یوه وړه
ډوډۍ په (۳۰) افغانی ترلاسه
کیږی ، د یو کیلو غوښی نرخ
دولس سوه (۱۲۰۰) افغانی
دی ، د خاورو د تیلو ترلاسه
کولو د پاره توله ورځ په
انتظار تیره شی . او هم دغه

قوت د هغه هوائی چینل سره
وابسته دی کوم چی د ماسکو
نه تر کابل چلیږی . په دغو
حالاتو کی صرف د پوځ اعلی
عهدیداران او افسران د آرام
ژوند تیرولی شی یو افغان
سوداګر چی څه موده د مخه
د ایران مشهد ښار ته تلی وو
هلته ورنه دا سوال و شو چی
تا خپل وطن ولی پریښود ؟ نو
هغه ځواب ورکړو ځکه چی
کابل کی اوسیدل ډیره ګرانه
خبره ده-اګر که زه کافی
دولت مندیم ولی هغه وخت
یوه مړۍ هم له حلقه تیریدل
ګران شی هر کله چی د
انسان خپل خپلوان او نور

هیوادوال له ولوږی مری ، د
وطن غذائی حالات دومره
خراب دی چی که یوه ورځ د
روس طیاری خوراکی مواد را
ونه رسوی نو هم له هغه
ورځی به قحط شروع شی او
هم په دغه وجه زه له
افغانستان نه ایران ته راغلی یم .
د نجیب رژیم داخلی ول-
بندی چی د تیری څه مودی
راهیسی په زرو کی روانی دی
د نجیب په مشکلاتو کی د
ډیرو اضافو باعث دی نن سبا
حکومت د پرچم ګوند په لاس
کی دی د نورو ډیرو وزیرانو
تعلق هم دغه پارټۍ سره دی
دغه نه علاوه څه وزیران او

> ګورباچوف له یوې خوا پخپله روس کی ظاهراً تر یوه حده آزادی ورکړه او یو شمیر سیاسی بندیان یی له بنده آزاد کړل، خو له بلی خوا یې په افغانستان کې خپل مزدور رژیم ته په مرستو کی څو چنده اضافه وکړه له دې نه دا معلومیږی چی ګورباچوف پخپله وینا کی ریښتینی نه دی او تر پر دې لاندی دا هڅه کوی چی په څه نا څه طریقه افغانستان پخپلی ولقې کی وساتلی شی، خو افغان مجاهدین به یی دغه آرزو له خاورو سره خاورې کړي.

معاونین د خلق گوند هم په
حکومت کی شامل دی او دا
هر څه د ماسکو د کوششونو
نتیجه ده د دواړو گوندونو
تر منځ دومره سخته دښمنی
ده چی د یو گوند د
ختمیدونه پس بل گوند قایم
پاتی کیدی شی ، اوس اوس د
خلق گوند له خوا چړ، کوم
پوځی بغاوت شوی وو د هغی

تعلق هم د دغه مسئلی سره
دی که څه هم دغه بغاوت
کامیابۍ ته ونه رسید بیاهم
دا اقدام د کابل رژیم او د
هغه په پوځی طاقت یو
زبردست گذار گڼلی شی .
مجاهدینو ته د نړی د ټولو
نه‌لو ی اعزاز ورکول هم
ضروری دی-د کابل د
موجوده کمونستی حکومت

هغه مخالفین چی د نیایی د
افغان مجاهدینو په نامه
پیژنی او چا چې دا ثابته کړه
چی که دوی په اتحاد او
اتفاق سره قدم پورته کړی نو
سره پوځونه هم له تښیتی
پرته بله لار نلری .

زنده باد افغان
مجاهدین

زموږ د قضیي مستقبل...

مال روحیي او احساس فرصتونه
ددي ټولو موزیاته بر خه ضایع کړه
زموږ. مکلفیت یواځی د مبصرینو
او تحلیل گرانو مکلفیت ندي چی بس
پیښی او قضا یا تحلیل او تعلیل کړو
هغه هم تل له مسؤلیت او پړی نه
دخپلی اوږي دتشولو او ځان ته
دبرائت دورکولو په روحیه بلکی
دابتکار او عمل مسؤلیت او دتصمیم
او حرکت رسالت او دټولو توطیو
دمقابلی وجیبه لرو او دخپلو ټولو
کمزوریو او نیمگړتیا ووپه مسؤلانه
دږرك،تشخیص او درفع کولو او بشپړ
ولو په انقلابی نوښت ئی مکلف یو او
بالاخره له اختلاف نه دوحدت،له بی
کوريږ نه کوزګله محرومیت نه عدالت
او له جگړی نه سولی ته دخپل
مسلمان ملت د لیږد عظیم رسالت را
په غاړه دي.که دادرك او عملی
ونکړاي شو شاید مظلوم او توکر توکر
ملت او انقلاب موددد سنمنانو دخطر
ناکو سازشونو او زما اوستا دبد مرغه
غفلتونو ترمنځ ځپ ځپ شی اوتاریخ
یو ځل بیا دیوه فاتح قوم دپریوتو او
عظیم انقلاب دسقوط د دردناکی
فاجعی ننداره وکړي ، خداي دي نه
کوي .

د الحاج مولوي جلال الدين حقاني د وروړ شهيد قوماندان محمد اسماعيل فاتحه په ميرانشاه او پيښور کی واخيستل شوه.

د شهيد جنازه مخکی د افغانستان پولی نژدی د شهيدانو په هديره کی خاورو ته سپارل شوی وه.

د ليری ليری سيمو په زرگونو مجاهدينو، مهاجرينو او انصارو د فاتحی په مراسمو کی برخه واخيسته.

ميرانشاه :دمنبع الجهادخبريال: په ډيرې خواشينۍ سره مو خبر واخيست چی د پکتيا ولايت په مرکز(گرديز)کی د، افغانستان د اسلامی حز ب، د جبهاتو عمومی قوماندان محمداسمعيل (ذبيح الله) د الحاج مولانا جلال الدين ـ حقاني وروړ چی په ٦٩/٥/١ نيته د پکتياولايت په مرکز ـ "گرديز"کی له ملحد دښمن سره په يوی مخامخ جگړه کی ټپی شوی وٶ په ٦٩/٥/٨ نيته د چهارشنبی، په شپه د اسلام اباد په يوه روغتون کي د شهادت، لوړ مقام ته ورسيد.

انالله وانااليه راجعون

خبريالليکی چی دشهيدجنازه په همدغه شپه ميرانشاه ته انتقال شوه.

د نوموړي شهيد جنازی ته له ډيرو ليرو ليرو سيمو څخه ميرانشاه ته په زرگونو تنه مجاهدين ،مهاجرين او انصارورونه راغلی وو.

د جنازې په مراسموکی يو شمير علماوٶ او جهادی مشرانو د جهاد ،دشهيد د مقام زموږ د جهاد اواسلامی انقلاب پوری يو لړ مربوطو مسايلو او دهغو توطئو او، دسيسو په ارتباط خبری وکړی چی د اسلام او اسلامی امت دښمنانو زموږ جهاداواسلامی انقلاب پر ضد په کارا چولی دی.

په پيل کی دمنبع العلوم د مدرسی استاد پياوړ ی مفسر او شيخ الحديث مولوی شير علی شاه صاحب د الهٰی احکامو او نبوی احاديثو په رڼا کی د شهيد د مقام او منزلت په هکله خبری وکړی. ـ وريسې مولانا جلال الدين ـ حقانی د نوموړی شهيد په وياړلو جهادی کارنامو

او د افغانستان د مؤمن ملت د جهاد د اوسنی وضعی په هکله لنډه وینا وکړه. ، او د خپلی وینا په ترڅ کی یې جنازې ته راغلیو کسانو ته د زړه له کومی مننه وکړه او دوی ته یې د لوی خدای په دربار کې د راتګ دتکالیفو د ګاللو اجر وغوښت. وروسته بیا مولانا نصرالله منصوردخپلو خبرو په ترڅ کی د شهید کورنۍ او متعلقینو ته دتسلیت د ځرګندولو وروسته د ملګرو ملتو نو له خوا دصدرالدین-آغاخان تر مشرۍ لاندې افغانستان ته د مهاجرینو د بیرته ستنیدلو د پروګرام په ارتباط خبری وکړی او هغه یی د افغانستان دمؤمن ملت د جهاد او اسلامی انقلاب د بری پر ضد د اسلام د دښمنانو ستره توطیه وګڼله.

په پای کی د افغانستان د اسلامی حزب مشر او د، افغانستان د عبوری حکومت د کورنیو چارو وزیر مولوی - محمدیونس خالص د یوی دعایي په ترڅ کی د لوی، خدای (ج) په دربار کی د افغانستان د اسلامی انقلاب، دبری او د مجاهدینوداتفاق او اتحاد غوښتنه وکړه. او بیا د ماښیګر په پنځوبجو دشهید جنازه د میرانشاه دشهیدانو، په هدیره کی خاورو ته وسپارل شوه.

خبریال زیاتوي چې د پنجشنبی په ورځ د اسد په ۱۰ نیټه د افغانستان د عبوری حکومت صدر اعظم اود افغانستان د اسلامی اتحادمشر، استاد عبد رب الرسول سیاف چی دشهید دفاتحی لپاره میرانشاه ته راغلی وو د، شهید کورنۍ ته یی دتسلیت

پاتی په ٤٥ مخ کی



شهید قومندان محمداسمعیل له قومندان سیداحمدشاه سره

الحاج مولوي جلال الدين حقاني په پېښور کی دشهید قومندان محمد اسماعیل دفاتحی په غونډه کی :

ورونو! اختلاف چی په هره سطحه وروروړلی لاسونه ورکړئ او د اتحاد او د سیسو

زه په ډاګه وایم چی د تنظیم ، عشر او

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم .

اما بعد :

ورونواِنن مونږ او تاسی دلته د یو شهید ورور په فاتحه راغونډ شوی یو ، دا شهید ورور یو داسی مجاهد ؤ چی په دی دولس کاله کی یی زیات عمر د جهاد په سنګرونو کی تیر کړی ؤ . دا شهید مجاهد قوماندان محمد اسماعیل «ذبیح الله» نومیده چی که د نسب له لاری زما ورور ؤ ، خو د اسلام او جهاد له مخی زمونږ او ستاسی د ټولو مؤمنو مهاجرینو او مجاهدینو ورور ؤ .

نوموړی د کفر او الحاد په ضد جهاد له ماسره یو ځای د داؤد د رژیم په وخت کی (۱۳۵۲) هـ ش کال کی پیل کړی ؤ او بیا کله چی په افغانستان کی د ثور خونړۍ‌او الحادی کودتا وشوه او ملحد کمونستان قدرت ته ورسیدل دوسله وال جهاد سنګر ته یی په ډیره میړانه د دښمن مقابلی ته ورو دانګل او بیا د شهادت تر ورځی پوری یی د جهاد په بیلو بیلو سنګر ونو کی د یو مجاهد او زړه ور قوماندان په توګه له دښمن سره جنګیدلی ، ډیری فتحی یی په نصیب شوی او ډوه ځل له دښمن سره د مخامخ جګړو په ترڅ کی سخت ټپی شوی هم دی ، خو کله چی یی

وی له منځه یوسئ یو بل ته د له لاری د شرق او غرب د توطئو مخه ونیسئ.

قوماندانی لپاره جنګ حرام دی.

تپونه جوړ شوی، بیا سنګر ته ورغلی، تر څو چی څو ورځی د مخه له دښمن سره د یوی مخامخ جګړی په ترغ تپی او بیا د شهادت لوړ مقام ته ورسید. الله (جل جلاله) دی د نوموړی

> په کوم شمیر چی افغانانو هجرت کړی او په کوم اخلاص چی د یو ستر استعماری طاقت په مقابل کی یی په مړانه، صبر او استقامت سره جهاد او مقابله کړی او په کومه اندازه چی دغه مؤمن ملت قربانی ورکړی په تاریخ کی یی ساری نه لیدل کیږی.

شهادت قبول کړی. زه او زمونږ ټوله کورنۍ د ده په شهادت له خدای (جل جلاله) نه ډیر راضی یو، زړه موتسل دی، مونږ د همدی لپاره د جهاد او قربانی دګرته وراندی کړی ؤ مونږ دی د الله تعالی په لار کی وقف کړی ؤ، پدی لار کی مویوه سپر او زغر ګڼله الله تعالی دی قبول کړی زمونږ زړونه صبر دی او ډیر یی راضی یو چی الله تعالی پدغه لار کی واخسیت. د شهید محمد اسمعیل د ژوند ۱۷ کلونه په جهاد او مبارزه کی په سنګرونو او د مجاهدینو په خدمت کی تیر شویدی. موږ چی

په ۱۳۵۲ کال کی مبارزه پیل کړه او په ۱۳۵٤ کال کی مو هجرت وکړ دی له موږ سره ؤ له هماغه وخته راهیسی په جهاد او مبارزه کی شامل ؤ . له ده سره د خپلو اخلاقو او تواضع په اساس مجاهدینو مینه او همکاری کوله ، ده له هیڅ خدمت څخه ځان ندی غرولی . له دریوری او ټانکستی څخه راواخله تر سختو

خدای (جل جلاله) د رضا او اعلای کلمة الله په خاطر د ملحدینو ، زندیقانو او منافقینو په مقابل کی پیل کړی . او دا د خدای (جل جلاله) صریح حکم دی ، او دامت اجماع ده کله چی په کوم اسلامی هیواد او منطقه کی ملحدین او زندیقین مسلط شی نو د هغه ځای پر اوسیدونکو مسلمانانو باندی

او یا له هغه سیمی څخه فساد الحاد اوفتنه په تمامه معنی له منځه لاړه شی او هلته د خدای (جل جلاله) دین او قانون حاکم وګرځی .

افغانانو د خدای (جل جلاله) د همدغه حکم مطابق د کفر او الحاد په مقابل کی قیام وکړ ، هجرت یی وکړ او بیا د جهاد سنګر ته ورغلل او دادی

د شهید محمد اسمعیل د ژوند (۱۷) کلونه په جهاد او مبارزه کی او په سنګرونو او د مجاهدینو په خدمت کی تیر شوی. مونږ چی په ۱۳۵۲ش کال کی مبارزه پیل کړه او په ۱۳۵٤ش کال کی مو هجرت وکړ، له هم هغه وخته دئ په مبارزه او جهاد کی شامل ؤ .

سختو حملو پوری له هیڅ خدمت او قربانی څخه ندی په شاشوی . ماله مجاهدینو څخه په دغه اوږ ده موده کی ندی اوریدلی چی دی دله کومی حملی څخه په شاشوی وی .

ورونو ! نن چی په افغانستان کی د باطل پر ضد د حق کومه وسله واله جګړه او جهاد پیل شوی دا مؤمنو افغانانو خاص د

وسله وال جهاد فرض دی . د هغوی مقابله به کوی او اسلامی خاوره به د هغوی له تسلط څخه خلاصوی . که چیری هغوی له دښمن سره مقابله نشی کولای نو د الهی احکامو په رڼاکی به لومړی هجرت کوی ، خپل ناموس به خوندی کوی او بیا به د جهاد سنګر ته ورځی او تر هغه به جنګیږی چی شهید شی

ترننه پوری په دغه وسله وال جهاد بوخت دی . ورونو ! که تاریخ ته نظر واچوئ په کوم شمیر چی افغانانو هجرت کړی او په کوم اخلاص سره چی د یو ستر الحادی طاقت (روس) په مقابل کی یی په میرانه ، صبر او استقامت سره جهاد او مقابله کړی ، او په کومه اندازه چی دغه مؤمن ملت قربانی ورکړی ، په

تاریخ کی یی ساری نه لیدل کیږی، تقریباً شپږ ملیونو مؤمنو افغانانو گاوندیو اسلامی هیوادونو ته هجرت کړی او همدارنگه زیات شمیر په داخل کی له یوی سیمی څخه بلی سیمی ته مهاجر شوی، د شپاړس لکو په شاو خوا کی یی شهیدان ورکړی، چی که په دغو کی شپږ لکه هغه ماشومان، ښځی او سپین ږیری وگڼو چی په کورونو کی د دښمن د ډزو او بمباری له امله شهیدان شوی وی، نو پاتی لس لکه خو هغه مؤمن افغانان دی چی له دښمن سره د مخامخ جگړی په دوران کی شهیدان شوی او همدارنگه تر دوو ملیونو زیات معیوب شوی، چا د خدای د رضا په لار کی پښی له لاسه ورکړی، چالاسونه، سترگی او د بدن نوراندامونه. کوندی، یتیمان، بندیان خو له حسابه وتلی دی. زمونږ دولس په زرگونو تنه د ملحدانو له خوا ژوندی ښخ شوی، بی کفنه او جنازی ترخاورو لاندی شوی. د ډیر و د بدن توتی بمونو الوزولی او چاته یی دغو ښو توتی هم په لاس ندی ورغلی، ډیرو کورنیو د خپلو خپلوانو یواځی د ژوند رنگ لیدلی د شهادت رنگ یی ندی لیدلی.

> افغانانو چی هجرت کاوه، یا یې جهاد پیل کاوه دایی د چا د مرستو په ډاډ ندی پیل کړی، بلکی یواځی د الله تعالی په توکل او نصرت یی جهاد پیل کړی دی – نه د ملل متحد په یا نورو دراشن پاس په تمه.

ورونو!

هسی نه چی د نړی پر مخ په کوم بل اسلامی هیواد او سیمه د کافرانو او ملحدینو تسلط لاندی نه ده راغلی، که تاریخ ته و گورو په ډیر و اسلامی

هیوادونو لکه عراق ، سوریه ، یمن ، الجزایر ، فلسطین او ..... کی همداسی شوی کافر او ملحدین پکی قدرت ته رسیدلی او سلطه یی پری حاصله کری خو هیچا نه داسی په گڼ شمیر کی شهیدان ورکړی ، نه په دومره تعداد کی مهاجر شوی او نه یی داسی په میرانه او زړو-رتیا سره د ملحدو او کفری

لپاره مؤمن افغانان انتخاب کړل او دغه سخت امتحان ته یی افغان مؤمن او غیور قوم ور مخامخ کړ ، دی کی د الله (جل جلاله) لوی حکمت ؤ . د دی لپاره یو ډیر ښه مثال داهم کیدای شی لکه څنګه چی د یو مملکت په پوځ کی چی هر تولی ، قطعه او یا فرقه ډیره زړه وره او میرنی وی ، نو وزیر دفاع

وی ، دوی ور مخامخ او په دغه وروکی بی وسی ، بی وسلی او بی وسیلی قوم یی هغه خوار ، ذلیل ، او په توله نړۍ کی رسوا او له ماتی سره مخامخ کړ .

ورونو !

نن سبا یو شمیر خلک چی اصلاً یاد خاد او کی ، جی ، بی غړی دی او یا په غیر شعوری توګه د ملحدینو په خدمت کی

لکه څنګه چې د یوه مملکت په پوځ کې چې هره قطعه او فرقه ډیره زړوره او میړنۍ وي،نو د پوځ مشر هغه د ډیر سخت ځای د فتح کولو او د قوي دښمن مقابلې ته غوره کوي – دغسې الله تعالی په افغانانو کې دا صفت ایښی ، نو ځکه یې د روس د جبر او استبداد ککرۍ په افغانانو ماته کړه.

طاقتونو په مقابل کی جهاد او مقابله کړی ده .

ورونو !

روس یولوی الحادی طاقت ؤ چی یوازی اسلامی نړۍ نه حتی توله کفری نړۍ هم تری په ویره کی وه ، الله (جل جلاله) پخپلو بندګانو کی د دغه لوی طاقت دراپرځولو او ماتولو

یا د پوځ مشر هغه د ډیر سخت ځای د فتحه کولو او یا د سخت دښمن مقابلی ته مخامخ کوی ، دغسی الله (جل جلاله) په افغانانو کی دا صفت ایښی ؤ ، نو ځکه یی د خپلو بندګانو له جملی نه د یولوی الحادی طاقت مقابلی ته چی په توله نړۍ یی د وحشت او هیبت انګازې خپری

واقع شوی دی د مجاهدینو او مهاجرینو ترمینځ دا تبلیغ کوی چی اوس په افغانستان کی روان جنګ جهاد نه بلکه ورور وژنه ده ، جهاد خود روسانو په مقابل کی ؤ اوس چی روسان له افغانستان څخه وتلی دی ، جهاد نشته او د ادافغانانو خپل منځی جنګ او جګره ده ، نو د

دغو خلکو د ناوړه تبلیغاتو په مقابل کی ضروری ده چی زمونږ مجاهدین او مهاجرین ورونه باید په دی پوه شی چی زموږ په هیواد کی د الحاد او فساد پر ضد وسله وال جهاد افغانستان ته د روسانو له راتګ څخه د مخه ، هغه وخت چی ملحدین قدرت ته ورسیدل پیل شوی وُ روسان خو وروسته د خپلو مزدورانو او غلامانو د ننګی او ملاتړ لپاره ، کله چی دوی و پوهیدل چی مزدوران یی سره له دی چی ډول‌ډول وسلی او وسیلی ورسره دی د مجاهدینو په مقابل کی مقاومت نشی کولی ، نو ځکه یی د خپل دوه لکه په عصری وسلو سمبال یوځ سره په افغانستان یرغل وکړ .

د مؤمنو افغانانو مقاومت د دوی د دغه وحشیانه یرغل په مقابل کی نورهم پیاوړی او قوی شو ، چی بالاخره ترلس کاله خونړۍ جګړی څخه وروسته یی د افغانانو په مقابل کی ماتی و خوړه او له افغانستان څخه تیښتی ته مجبور شو . نو ورونو ! اوس هم په افغانستان کی د روسانو هماغه ملحد نوکران په ښارنو او پوځی مرکزونو کی د محاصری په حال کی دی ، تر څو چی هغوی له منځه نه وی تللی او د افغانستان خاوره په تمامه معنا د الحاد او فساد له فتنو څخه پاکه شوی نه وی او هلته د مجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړ شوی نه وی ، دا جهاد په جاری وی . نوتر

> موږ مطمئن یو کله چی په افغانستان کی د مجاهدینو اسلامی حکومت قایم شی او د ملحدینو سلطه په بشپړه توګه ختمه شی،نو بیا مهاجرین د ملل متحد او یا نورو پروګرامونو ته نه ګوری او پخپله خپل هیواد ته ستنیږی.







هغه وخته پورې چې په افغانستان کې اسلامي حکومت قايم او د الحاد جرړې له بيخه ووځي په ټولو مؤمنو افغانانو جهاد هغسې فرض دی لکه څنګه چې د روسانو په مقابل کې پرې فرض ؤ .

ورونو ! يو بله خبره چې دلته يې يادونه ضروري ده هغه دا ده چې په دې وروستيو شپو او ورځو کې د شرق او غرب د ګډ سازش له مخې دا ډنډوري غږيږي چې د افغانستان په زياتره سيمو کې جنګ نشته ، امنيت برقرار دی ، مهاجرين بايد د ملګرو ملتونو د پروګرام مطابق چې مشري يې صدر الدين آغا خان کوي ، د ۳۳۰۰ روپيو او درې سوو کيلو ګرامو غنمو په مقابل کې خپل راشن پاس تسليم کړي او د خپل هيواد په اصطلاح د سولې او امنيت سيموته ستانه شي .

خو ورونو په دې و پوهيږئ چې داهم زمونږ د اسلامي انقلاب د کاميابۍ او د جهاد پر ضد د دښمنانو يوه بله دسيسه او توطيه ده چې د اسلام او مسلمانانو دښمن صدر الدين آغا خان د روسانو او د هغوی د مزدورانو په غوښتنه په کار اچولې ده .

ورونو !

مؤمنو افغانانو چې د الحاد پر ضد جهاد پيل کاوه او يا يې هجرت کاوه دا يې د چا د مادي مرستو په ډاډنه دی کړی . بلکه دوی له پيل څخه يوازې د خدای (جل جلاله) په توکل جهاد پيل کړ او هجرت يې هم خاص د خدای (جل جلاله) د حکم له مخې کړی نه د ملل متحد او يا بل چا د راشن پاس په تمه .

نو دا چې دافغانانو هجرت خاص د خدای (جل جلاله) د حکم مطابق شوی وطن ته بيرته ستيندل به يې هم د خدای (جل جلاله) د حکم سره سم وی ،

دوی چی کله هجرت کاوه د دی لپاره چی خپل ناموس به خوندی کوی او بیا به د جهاد تیاری نیسی ، چی همداسی یی وهم کړل . جهاد به کوی تر هغه چی د افغانستان له اسلامی خاوری څخه د کفر، الحاد او فساد سلطه په تمامه معنی لری کړی او هلته الهی دین او قانون حاکم وګرځوی .

اوس په داسی حال کی چی کورونو ته ستا نه شی او په هغو سیمو کی چی فعلاً هم جنګ جریان لری ، میشته شی .

البته هغه سیمی چی مجاهدینو د دشمن له ، وجود څخه پاکی کړی ، دوی کولی شی چی د مجاهدینو په پروګرام هلته و اوسیږی ، کشت و کارو کړی ، او خپل ژوند ته دوام ورکړی،کله چی له افغانستان څخه په تمامه معنا د ملحدینو اسلام او مسلمانانو د دښمنانو د ناوړه تبلیغاتو تر اغیزی لاندی راغلی دی . او هغوی دی په دی و پوهوی چی دا زمونږ د جهاد د دښمنانو توطیه ده باید چی خپل جهاد او هجرت په څو دانو غنمو او څو پیسو په مقابل کی خرڅ نه کړی . هغه څوک چی اوس د کفارو او ملحدینو د پروګرام مطابق وطن ته داخلیږی ، دوی په واقعیت کی

ما مخکې وویل چی تاسی هغه قوم یاست چی الله تعالی د جهاد امانت درسپارلی، په تاسی کې یی ددغه امانت د حفاظت استعداد لیدلی. تاسی باید لدغه الهی امانت سره خیانت ونه کړئ.

په افغانستان کی هغه ملحدین چی افغانانو یی پر ضد جهاد پیل کړی ؤ موجود دی ځینی لوی ښارونه او مرکزونه یی په لاس کی دی ، په الوتکو باندی د مجاهدینو په لاس آزادی شوی سیمی بمباری کوی ، د سکډ په توغندیو او لری ویشتونکو توپونو او دستګاوو یی ولی ، نو مهاجرین به په کوم صورت خپلو سلطه لری او هلته د مجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړ شی بیانو مهاجرین د ملل متحد یا بل چا پروګرام ته نه ګوری . او د خپل هیواد خپلو خپلو سیمو ته ځی .

ورونو ! د اړ علماو ، پوهانو او مشرانو وظیفه ده چی د مهاجرینو کمپونو ته لاړ شی او هغو کسانو ته تبلیغ وکړی چی د اصلی مهاجر نه بلکه خلقیان او د خاد غړی دی چی د مهاجرینو په صفونو کی ننوتی دی او د مهاجرینو د بدنامولو او د خپلو بادارانو د خوشحالولو هڅه کوی .

ورونو !

موږ د پاکستان د راشن په اتکا هجرت نه دی کړی که پاکستان راشن قطع کړی الله

تعالی یی نه قطع کوی . الله تعالی د مهاجرینو روزی پراخه کوی . دا د الله تعالی وعده ده .

ورونو ! زموږ مرستندوی الله تعالی دی ، زموږ تکیه په الله تعالی ده ، پریږده چی پاکستان او ملل متحد راشن قطع کړی موږ د دوی د دغو سپړیو خوړلو څو دانو غنمو په بدل کی خپل دین او غیرت نشو خرڅولی .

زما قدر منو ورونو ! که په موږ څه مشکلات راځی نو دا به زموږ د اعمالو نتیجه وی ، که نه نو الله تعالی د هغه مهاجر چی د الله تعالی په لار کی یی هجرت کړی روزی له پخوا زیاته پراخوی او ښه یی ساتی . مامخکی وویل چی تاسی هغه قام یاست چی الله تعالی د جهاد امانت درسپارلی ، په تاسی کی یی د دغه امانت د حفاظت استعداد لیدلی ، تاسی باید له دغه الهی امانت سره خیانت ونه کړی ، تاسی د استعداد او شجاعت له امله الله تعالی د کفر او باطل مقابلی ته غوره کړی یاست . دا په نورو قومونو کی نه ؤ ځکه یی د روس وحشت او استبداد ککری په تاسی ماته کړه او دا اعزاز او افتخار یی تاسی ته درو باخښه .

مجاهدوورونو !

یوه بله مهمه خبره چی ستاسی حضور ته یی وړاندی کول غواړم او ما همیشه الله تعالی ته دا سوال کړی چی خدایه ! زموږ په وسله د مسلمان وینی توی مه کړی ، زه په ډاګه وایم چی د تنظیم ، عشر او قومنداتی له پاره جنګ حرام دی دا جهاد نه بلل کیږی .

ورونو ! مجاهدین باید په لاروکی پاټکونه وانه چوی ، عام ولس ته هیڅ ډول تکلیف و نه رسوی ، د هغوی زړونه آزار نکړی ، ګوری د ولس د آبرو ، عزت او پت ساتونکی تاسی یاست . مجاهدین یی مسئول دی .

هسی نه خدای مه کړه ، چی موږ ځانونه مجاهدین بولو خو تفرقه مواچولی وی ، مسلمانان مو په تکلیف کړی وی،خدای مکړه زموږ په وسله د مسلمان وینه تویی شوی او بیا د آخرت په ورځ لدی ټول جهاد سره سره د ظالمانو په ډله کی حساب شو ....

زه یو ځل بیا د اتحاد غږ کوم ، ورونو اختلاف چی په هره سو یه او سطحه وی هغه له منځه یوسئ یو بل ته دورورئ لاسونه ورکړئ او د اتحاد له لاری د جهاد او مجاهدینو پر ضد د شرق او غرب د توطیئو او دسیسو مخه ونیسئ .

واخر دعونان الحمد لله رب العالمین .

د شهید قومندان اسمعیل ...

او دادینی د څرګندولو په ترخ کي د ارواښاد شهادت د افغانستان د مجاهد ملت لپاره ستره ضایعه وبلله او له دوی سره یي په دی غم کي خاصتا د افغانستان ټول مجاهد ملت او په عامه توګه ټول عالم اسلام شریک وباله .

خبریال لیکی چی د شهید فاتحی دوه اونی وخت ، ونیوه او له ډیرو لیر ولریو ، سیمو څخه مجاهدین مهاجرین او انصار د فاتحی لپاره راغلل او دا سلسله روانه وه څکه خو ، د شهید کورنی پخپلو خواخوږیو او غمشریکو باندي د ډیر زیات تکلیف د نه د لوریی د احساس له مخی تصمیم ونیو چی په پیښور کی عمومی فاتحه اعلان کړی.

هماغه وچی د افغانستان د اسلامی حزب له خوا په پیښور کی د شهید فاتحه اعلان شوه. په اعلان کی د فاتحي د احیستلو نیټه د پنجشنبی ورځ د ۱۳٦۹ هـ ش کال د اسد دمیاشتی ۲۵ د سهار له (۹– ۱۲) او ځای د عبوری حکومت د کورنیو چارو وزارت مربوط د ژاندارم او – پولیسو عمومی قومندانی ښودل شوی ؤ.

په ټاکلی نیټه د ژاندارم او پولیسو لویی قومندانی په تالار کي د فاتحی اخیستنی مراسم پیل شول چی د هغی قومندانی د قومندان عبدالحق په لارښوونه د قومندانی د منسوبینو لخوا خاص ترتیبا ت نیول شوي وو.

فاتحی ته د افغانستان د عبوری حکومت د رئیس محترم ،

حضرت صبغت الله مجددی او د وزیرانو په شمول د ټولو وزارتونو منسوبین د مدرسو ښوونکی زده کوونکی د پیښور ، د ښار او شاوخوا سیمو د کمپونو مهاجرین قومندانان ، انصار راغلل د فاتحی د مراسمو په پای کي د افغانستان د عبوری حکومت رئیس او د شهید مشر ورور الحاج مولانا جلال الدین حقانی مفصلی او عالمانه وینا وی وکړی چی په همدی ګنه کي خپریږی.

پر خوست د مجاهدینو بریالی عملیات:

د ولسوال او گلم جم دوی پوستی فتحه شوی.

په هوائي ډګر کی د دښمن ۲۱ الوتکی ویجاړی شوی

د پکتیا لـه ولایت څخد په یو رارسیدلی خبر کی ویل شوی دي چی د الحاج مولانا جلال الدین حقانی، تر قیادت لاندی مجاهدینوپه ۶۹/٤/۳۱ نیټه د شیخ امیر، علاقداری او دهغی شاوخوا امنیتی پوستی د درندوسلو په ذریعه تر اور لاندی ونیو- لی چی د هغه په نتیجه کی د نوموړی علاقداری دځار- ندوی قوماندان شیر زاك او جنایی أمر ووژل شول . ا و علاقدار د شپږو تنو ملیشه افرادو په شمول سخت ژوبل شوی دی.

دیوبل خبر له مخی مجاهدینو د اسد دمیاشتی په (٤) نیټه د ځدرانوپه سیمه کی د مزدوررژیم یوهجیټ الوتکه را وغورځوله.

خبر زیاتوی چی دالو- تکی د راغوځیدو په نتیجه کی د الوتکی پیلوټ هم وژ ل شوی دی .

خبر وایی چی پههمدغه ورځ په نوموړی سیمه کی د سکاډ توغندی ولګید چی، د هغی د چاودنی له امله د سیمی له اوسیدونکوڅخه ۲۱ تنه ټپیان او (۷) تنه شهیدان شول .

انالله واناالیه راجعون

د یوبل خبر له مخی، مجاهدینو په ۳۶۹/۵/۵ نیټه د بړی په منطقه کی د ترصد له غونډی څخه ددرنووسلو په ذریعه د خوست هوایی ، ډګر تر اور لاندی ونیو. چی په نتیجه کی ددښمن یوه ، څلور ماشینه الوتکه وسوځیدله

یوبل خبر وایي چی مجاهدینو په ۶۹/۵/۱٤نیټه د ګردیز په ښار کی دخا د په کندك عملیات وکړل چی د هغو په نتیجه کی در ی تنه خادستان وژل شویاو (۸) تنه ټپیان شوی دی.

مجاهدینو په ۶۹/۵/۱۶ نیټه د شپی په دری بجو د خوست په هوایی ډګر کی ددښمن یوه څلور ماشینهالوتکه د کښیناستلو په وخت کی د توپچی د انداخت په ذریعه ویشتلی او ویجاړه کړی ده.

د یوبل خبر له مخیمجاهد- ینو ۶۹/۵/۲۰ نیټه د ګردیز په بالاحصار او دخواجه - حسین د کلیو یه پوستو باندی

د درنو وسلو ډزې وکړې چې د هغو په نتيجه کې (۸) تنه ملحدين وژل شوي او (۷) تنه ټپيان شوي دي.

مجاهدينو په ۶۹/۵/۲۱ نيټه د خوست په هوايي، ډگر کې د توپ د ډزو په وسيله ددښمن ان ۳۲الوتکه د کښيناستو په وخت کې ـ وويشتله .

په خبر کې زياته شوې ده، چې په دغه الوتکه کې د مزدور رژيم يو جنرال ـ عبدالرحمن او دخوست د ۲۵ فرقې سياسي معاون سپاره وو چې د الوتکې د پيلوټ او تخنيکر په شمول د الوتکې د غورځيدو په نتيجه کې وژل شوي دي

له گرديز څخه په را ـ رسيدلي يو خبر کې ويل ـ شوي دي چې مجاهدينو ، پدې وروستيو وختونو کې د مزدور رژيم يوه هليکوپتر الوتکه په هوايي ډگر کې ويجاړه کړې ده (۷) تنه ملحدين يې وژلي او (۵) تنه نور يې ټپيان کړي دي.

د يوبل خبر له مخې مجاهدينو په ۶۹/۵/۵ نيټه په خوست کې د "سخر" په پوستې بريد وکړ چې د هغې په نتيجه کې يې دښمن ته د سر او مال درانه تاوانونه ور واړول .

د يوبل خبر له مخې، مجاهدينوپه ۶۹/۵/۲۹ نيټه د خوست د کلابند ښاردجنوب غرب په پنځه کيلو متري کې د مزدور رژيم په امنيتي پوستو باندې عمليات وکړل، چې د هغې په نتيجه کې يې د ولسوال او گلم جم دوه



مشهوری پوستی فتحه کړی.

خبر زیاتوی چی په دغو بریالیو عملیاتو کی ملحد دښمن ته د سر او مال درانه تلفات ور اوښتی او مجاهدینو ته زیاتغنیمتونه په لاس ورغلی دی.

خبر وایی چی د حق او باطل تر منځ په دغه جګړه کی څلور تنه مجاهدین تیبیان او د الحاج مولانانظام الدین ـ حقانی د ساتونکی کریم وردك په شمول دوه تنه مجاهدین ، د حق په لارکی د شهادت لوړ مقام ته رسیدلی دی.

انالله وانااليه راجعون

همدارنګه دبی ،بی ،سی ، راډیو د ۶۹/۵/۳۱ نیټی د شپی د اتو بجو په خبری سرویس کی د یوخبریال ،تاکن حال، د رپوټ په حواله چی پخیله یې نوموړی سیمی ته سفر کړی په یو خپور کړی خبر کی ویلی دی چی د اسد دمیاشتی په ۲۹/نیټه د الحاجمولانا ـ جلال الدین حقانی مجاهدینو د خوست د کلابند ښار په شاوخوا پوستو باندی عملیات، وکړل چی د هغی په نتیجه کی یې د مزدور رژیم دوه مهمی پوستی فتحه کړی او په څونورو باندی لاجګړه دوام ـ لری .

تاکن پخیل راپور کی ویلی چی مجاهدینو د روسانو د ـ مزدور رژیم یوه الوتکه په داسی حال کی وویشتله چی په میدان کی ښکته کیدله. په دغی الوتکی برسیره په هوایی ډګر کی ولاړی نوری (۲۱) الوتکی ویجاړی او زیانمنی شوی او هوایی ډګر ته هم زیات تاوان ورواوښت.

خبریال زیاتوی چی اوس د خوست د ښار ورځنی اړتیاتولی د پراشوتو په ذریعه راغورځول کیږی .

تاکن پخپل راپور کی د الحاج مولانا جلال الدین حقانی د جبهاتو مربوطو قوماندانانو، په حواله وایی چی په خوست کی ددښمن د قواو مورال او روحیه بیخی ضعیفه دی .

محمد امین مدقق

مشکلات گورباچوف در کنگرۀ بیست و هشتم حزب کمونست روسیه

تدویر بیست وهشتمین کنگرۀ حزب کمونست این بار شاهد تحول عظیمی بود، تحولی که به احتمال ناچیز ادامه حیات کمونیزم نیز خاتمه بخشید، زیرا، با وجودیکه بعد ازین دنیا بکام کمونستها نمی چرخد وحکومات کمونستی یکی پی دیگری نابود میگردند اینبار اعضای حزب کمونست شخصا" ومستقیما" بر کمونیزم حمله نموده وآن را فاقد اهلیت اداره یك جامعه خوانده است.

باوجودیکه میخایل گورباچف رهبر شوروی سرو صداها را بنام بازسازی و علنیت براه انداخته است ولی سخنرانی هاواظهار، نظرهای ارایه شده در کنگرۀ بیست و هشتم حزب کمونست بصراحت نشانداد که گورباچف منبعد قادر نیست تاهیچ کسی راراضی سازد، که گویااصلاحات درشرف انجام، است.

نخستین حمله بر حزب کمونست بمجردافتتاح کنگره بیست وهشت حزب کمونست زمانی صورت گرفتکه گوربا چف زعیم حزبی ودولتی شوروی ماه گذشته این مراسم را افتتاح نمود. (هیئت نمایندگی حزب کمونست ازمنطقه شرقی یگندا بطورغیرمنتظره به کنگره پیشهاد نمود که تمام اعضای کمیته مرکزی وبیروی سیاسی باید استعفا بدهند. این گروه جسورحزب کمونست ازرهبری حزب خواست تا از کمیته ٤٦٥٦ نفری استفسار بعمل آید که چراوبچه، دلیل آنها بعد ازکنگره گذشته در فبروری ١٩٨٦ هیچ کاری — انجام نداده اند وسیاست، اصلاحات گلازنوست یا سیاست علنیت در باب انتقال از سیستم اقتصادی کمونیزم به سیستم بازار آزادتوفیقی اندکی هم نیافته است.

۲— گورباچف در اوایل سعی کردتابخاطر جان بدر بردن از، حمله اولی ضمن خطابه خویش، انراتآویل و تشریح نمایدولی بعد ازآنکه انتقادات افزایش یافت ومشاهده نمود که اعضای محافظه کار و لیبرال حزب بجان هم افتیدندوهریك دیگرراا مسئول اوضاع د انست خود را کنارکشید وتماشاگر صحنه شد.

این مناقشات بحدی شدت، یافت که یو گو لیگاچف عضوی بیروي سیاسی که ازمحافظه کاران، سر سخت حزب کمونست بشمار میرود لیبرال ها یاتجددطلبان را ملزم به رادیکالیزم بی شعور نمود ودر مقابل بورلیسن بالستن رئیس جمهور روسیه سفید ویکی

ازلیبرال‌های سرشناس اظهـــار، داشت : "یگانه‌علت ایکه احزاب کمونست اروپای‌شرقی از صحنــه کنار رفتد و نابود گردیدند این بود که احزاب کمونست آنجا حدود صلاحیت خویش را نشناخته ویا هم فراموش کرده بودند لذاما هم باید پا ازحد خودبیرون نــــد نهاده ومسئولیت خویش را درك نما یـم در غیر ان سرنوشت احزاب کمونست اروپای‌شرقی در، حزب کمونست را به اختیاردولت بسـیارد، زیرادر غیر ان‌باموجو- دیت کرسی‌پرقدرت زعامت حز ب کمونست گورباچف نخواهدتوانست، پالیسی‌خویش را موفقانه دنبـال نماید دربنصورت موجودیت حزب کمونست مرادف باوجود ملکـــه انگلستان ویا هم ریئس جمهور، هند بوده وجز یك سمبول‌عنعنوی اهمیت بیشتري نخواهد داشـت ولی‌این سمبول نیز نظربخاطرات دولتی آند .

خلاصه ایکه در کنگره مــاه گذشته تقریبا "اکثریت‌قاطع سخنر- انان‌خواهان تنقیص دخالت‌حزب در مسائل مهم کشور گردیدنــــد ولی کمونستهای افراطی بار دیگر خواهانی نفوذفوق‌العاده حزب ، کمونست برجامعه شدند زیرا - انها درك نموده آند که درصورت سقوط کامل‌حزب کمونست اکثریت آنها بدار محاکمه کشانده خوا-

باوجودیکه گورباچوف سروصدا را بنام بازسازی و علنیت براه انداخته است ولی سخترانی ها و اظهار نظرهای ارائه شده درکنگره بیست و هشتم حزب کمونست بصراحت نشانداد که گورباچوف منبعد قادرنیست تاهیچ کسی را راضی سازد که گویا اصلاحات در شرف انجام است.

انتظار ما است:

ازمحتوی‌کلام چنان‌استنبـاط می شود که تشنج تا سطوح‌بالای دستگاه‌حاکم شوروی‌رسیده وامکان این وجود دارد که اصلاح‌طلبان کنترول حزب را نیز در دست ، گرفته و بوسه خویش را سرعت، بخشند و "احتمال‌این نیزوجود دار دکه گورباچف از سمت خویش بصفت منشی عمومی‌حزب کمونست استعفی‌داده و وظایف خویش را بصفت ریئس جمهور دنبال‌نمایـد به این ترتیب گورباحف محبور ، خواهد بودتا صلاحیت های‌مهم تلخی که از خود بجا گذاشـته آنمقامی را نخواهدداشت کـــه ملکه انگلستان دارای آنست و، به احتمال زیاد ملت های آزاد شده از قید استعمار کمونستی ، خواهان محو آخرین بقایای - کمونیزم خواهندشد، زیراهم اکنون در رومانیا دیده میشود باوجود، یکه حکومت خون آشام کمونستی سقوط نموده وحزب کمونست فاقد الا عتبار شده است اماهمه روزه عده زیادی از مردم به خیابان هامی ریزند وخواهان برکناری - کمونست های از پست های‌مهـم هندشــــد .

ولی‌گورباچف که در مقابل همـه این انتقادات ساکت بودطــــی سخنرانی به یکی ازگروه هـهای شامل در کنگره گفت:نادرســـت، خواهدبودهر گاه همه مشکلات را به عصر ماتحمیل نموده وحمایل، پریستوریکاسازیم بلکه باید بــه مشکلات عظیمی نیزتوجه نمایـــم که چون فاجعه هولناکی از گذ- شتگان به ارث مانده است .

گورباچف خطاب به این‌هیئت علاوه نموده گفت به اصلاحات و بازسازی اقتصادی ما بایددوسلل

وقت دادمشود وهر گاه مابتوانیم طی این تشدکاري انجام دهیم از رهبري. کشور مستعفی خواهیم شد وي هشدارداد که نباید به گفته محافظه کاران کمونست افراطی فریب خورد زیرا آنها با ایجاد شگاف میان قوت های مابدترین، دشمنان اصلاحات در کشورما آند.

اختلافات میان اعضای بلند پایه حزب کمونست بحدی شدت، اختیار نموده است که تندروان، کمونست موفق شدند تاجمله رأی گیری بمنظور انتقال از اقتصاد کمونستی به سیستم آزاد را از، اجنداء کنگرهٔ حزب لغوه نمایند و درمقابل (۲۰۰)تن از اعضای، اصلاح طلب حزب کمونست احتجاج نموده و بمجرد که شنیدند کمونست های کهنه کارو جانی میخواهند کشور را بار دیگرتحت یوغ اقتصادکمونستی قرار دهند دو تن از اعضای بلند رتبه حزب کمونست یوری پانسوف و نیکولای تراوکین از وظایف خودوعضویت در حزب کمونست استعفادادند.

بعضی اوقات سخن بجای میرسد که اعضای بلند رتبه حزب کمونست چون یالستن رئیس جمهور، روسیه سفید نیز میخواهد تا حزب، کمونست را ترک گفته و از طرفداران غیر مستقیم آن گرددزیرا، عضویت دراین دستگاه بد نام را عار و لکه به شخصیت سیاسی خویش میداند. وی میگوید باید با ملت های خویش با عدالت و، انصاف برخورد نمود زیرا درد نیای کنونی هر کسی قادر است تاگرگ وگوسفندرا ازهم تمیز نماید.

با تحلیل دقیق وهمه جانبه پس منظر اوضاع را میتوان بصورت واضح ترسیم نمود. وجودنارضایتی و احساسات استقلال خواهی که از فیض فیاض جهاد برحق، ملت افغان ریشه گرفته است ملت های دربند روسیه را قانع ساخت که بازور وشکنجه و قتل، غارت میتوان مقابله نموده و با آنها تفهیم نمود که نجات ازین ورطه مهلك ممکن است نه محال است و نه هم مافوق تصور. آغاز این پروسه و تحولات عظیم جهانی زاده از تحرکات انقلاب اسلامی افغانستان موجب گردیدکه زعامت مکار روسی ازنرمش نسبی کارگیرد ولی این نرمش چون فرصتانداکه به پرنده اسیر در قفس تلقی گردید و ملت های محکوم ازین روزنه کوچك استفاده عظیمی نمودند چنانچه با رفعت ندای آزادی در تمامی نقاط امپراطوری محکوم بزوال روسیه و تراکم مشکلات، اقتصادی چنان اضطراب عمیقی در دستگاه حاکم بوجود آوردند که نسبت عدم موفقیت آنها در دریافت راه حل معقول به آن. لابد بجان هم افتیده وهریکی دیگری را مسئول همه فلاکتهای جامعه سیاه بخت شوروي دانست این تشددو تشنج اکنون بمراحل نهایی. وتصادم خوردکنندهنزدیك میشود بعید نیست تا برحسب وعده خداوندبعضی ازظالمین بر عده دیگربرشپرده وبه این ترتیب این مصیبت درد آورمسلمانان نهایت مظلوم تحت اشغال امپراطوری روس پایان پذیرد.

> **اختلافات میان اعضای بلند پایه حزب کمونست شوروی بحدی شدت اختیار نموده است که تند روان حزب کمونست موفق شدند تاجمله رای گیری بمنظور انتقال از اقتصاد کمونستی به سستم آزاد را از اجندای حزب کمونست لغوه نماید.**

زکی الله

بیرته ستنیدل دڅهٔ لپاره

پدی ورستیو وختونو کی دنړۍ وغوړولی شوی او خبرو نه خپاره شول چی مهاجریه بیرته خپل هیواد ته ستنیږی اودسولی په شیمو کی به د سولی ژوند تیروی او حتی داهم خپره شوه چی دمهاجرینو ستنیدل پیل شول او خینی کلی ولاړی، خودی یوی هم حقیقت نه درلود نه مهاجر ستانه شوی اؤ نه به ستانه شی دا ددی لپاره نه چی دوی له وطن سره مینه نه لری او یا خپل هیواد ته بیرته ستنیدل نهٔ غواړی بلکه دا ددی لپاره چی دوی هیواد ته سر لوړی ستنیدل غواړی اود هدف تر لاسه کولو سره ستنیدل غواړی.

په افغانستان کی د ۱۳۵۷ کال د غوایئ خونړی‌کودتاد افغانستان د مسلمان، سرلوړی او آزاد ملت، دین عقیده او آزادی تر تهدید لاندی راوستل. دوی ددی کودتا له کیدلو سره په دوه لاری کی ودریدل: یا کمونستانو ته تسلیمیدل ، د دوی هر څهٔ منل او له خپل هر څهٔ نه تیریدل او یا هم د خپلو معنوی شتمنیو د ساتلو لپاره له خپل مال او سره تیریدل او له کمونستانو اود پردیوله نوکرانو سره جنګیدل. د لومړی لاری په خوښولو سره دوی کولال شول چی ژوند ولری خو سر ټیټی اود بیډینو او پردیو تر لاس لاندی ژوند. د دوهمی لاری خوښول دومره درانهٔ او سخت وو چی د دوی سر او ژوند پکی داوکیده خوابدی سر لوړی او د ملت سر لوړی یی په ځای کیدله.

دافغانستان مسلمان او اتل ملت دیده او دانسته ، په سنجش اواراده، پ هوډ او عقیده دوهمه لاره خوښه کړه او په دی لاره کی ټولو پیښیدونکو پیښوته یی ځان چمتو کړ.

کمونستی ښکیلاك چی داوخت په زور څواک او مستی کی ؤ او د وحشت له لاری یی د ملکونو په نیولو سترګی سزی وی په قهر شو، وغو سمیده خپلو نوکرانو ته یی د باروتو او وسلو ګودامونه پرانستل او قومانده یی ورکړه چی ووژنی، ولوټی او حتی که په افغانستان کي څوك ژوندی پاتی هم نشی ماته یی خاوره وسپاریٔ ځکه زمونږ انسانان نهٔ دی په کار زمونږ خاوره په کارده، زمونږ د روسی امپراطوری پراخیدل په کار دی او زمونږ د هند تودو اوبو ته رسیدل پهٔ کار دی.

دوحشت دی قوماندی د افغانستان وحشی کمونستان نور هم وحشی کړل او د وحشت له لاری د افغانستان د خلکو د تسلمیدلو تیوری یی د خلکو په نیولو او وژلو د کورونو په لوټلو او ورانولو پیل کړه. دوی د خپل وحشت په هر قدم کی فکر کاوه

چی دافغانستان ملت په ځان ته تسلیم او ایل کړی خو مؤمن اومصمم ملت نه یوازی دا چی تسلیم نه شو بلکه لامقاوم شو او لایی قیام ته قوام ورکړ. دی قیام دومره قوام وموند چی داخلی کمونستان یی کاواکه او کمواکه کړل، مات او ناکام یی کړل آن تر دی چی د نیستی او نابودی کندی ته یی ډیر ورنژدی کړل داسی چی روسی ښکیلاك وارخطا او مجبور شو چی د خپلو مزدورانو او د خپل استعماری هدف دساتلو لپاره پۀ خپله مداخله وکړی او تر دوو سوو زرو پوری روسی پوځ افغانستان ته راولی. افغانان له روسانو سره هم هغسی حتی تر هغی زیاته چی له داخلی کمونسانو سره یی کړی وه مقابله وکړه او روس مجبور شو چی د تقریباً لسو کلونو به اوږدو کی خپل یو ملیون عسکر افغانستان ته وار په وار راولی خو به نتیجه کی یی د یو لك عسکرو په شاوخوا کی په افغانستان کی مړه او ژوبل شول او رسوا او شرمیدلی د افغانستان له خاوری نه ووت.

په افغانستان کي د روسانو شرمیدلی ماته لکه ځنگه چی ټولی نړۍ ته ځرگنده شوه محلی او سیمه ئیزه ماته نۀ وه بلکه نړیواله او جهاني ماته وه په افغانستان کي د روس له ماتیدلو سره د هغۀ په ټولو مستعمرو او اقمارو کی د روس ماته پیل شوه او د روس په استبداد کی راښکیل شوی هیوادونه یو پر بل پسی آزاد شول او دا لړی په بیړه پرمخ روانه ده.

د افغان غونډی د یوه واړه خویا ایمانه روسلی وسیلی اود سیسی ناکامه شوی نو د نړیوال ښکیلاك او نړیوالو په اصطلاح بیطرفه ځواکونو په مرسته یی په توطئو دسایسو او وساوسو لاس پوری کړ. د ژنیو تړون

> **په دی توگه افغانانو قیام د هدف له پاره وکړ،جهاد یی د هدف په لار کي شروع کړ، هجرت یی د هدف لپاره وکړ او بیا ستنیدل به یی هم هغه وخت وی چی هدف یی ترلاسه کړي وی.په افغانستان کی د کمونستی رژیم بقایا له منځه تللی وی او افغانانو داحق تر لاسه کړی وی چی په خپل هیواد کی د خپلی خوښی او له پردی لاسوهنی او اغیز پرته حکومت جوړ کړي او خپل برخلیک وټاکي.**

ملت له لاسه د روس د نړیوال ښکیلاك رسوا ماته ددی باعث شوه چی روس په غچ او انتقام لاس پوری کړي پۀ دی لاره کي یی چی ټولی ددی نړیوالو دسیسو یوه لویه او خطرناکه کړی وه چی ظاهراء یی د ملگرو ملتو له چینل نه پلی کړه خو د افغانستان میړنی ملت لکه ځنگه

چی د روس ښکیلاک نه ؤ منلی همدا راز یی دی نړیوالی دسیسی ته هم غاړه کیښنبوده،له خپلو مقدسو اهدافو نه تیر نه شو او خپل جهاد ته یی دوام ورکړ.

اوس چی یوځل بیا د روس او د هغه د ښکیلاکګرو انډیوالانو تهولی دسیسی د افغانستان د مؤمن ملت د هوډ اوارادی له امله شنډی شوی او اوس چی روس یو ځل بیا په خپلو فتنو اودسیسو کی ناکام شو نو د صدر الدین آغا خان له لای یی د بیا ستنیدلو پروګرام جوړ او فکر یی وکړ چی مصمم افغانان به په څو پیسو یا څو دانو غنمو واخلي اوله دی لاري به د نجیب په‌اصطلاح دسولی سیمو ته د ستنیدلو اود ملی پخلاینی پروګرام عملی کړی او په افغانستان کي به کمونستان او کمونست حکومت پرځای پاتی شی دا ځکه چی صدرالدین اغا خان د یو خاصی نظریی لهٔ کورنی‌له لاري چی د پرچمیانو په خدمت کی ده له نجیب سره ژوری اړیکی تینګی کړی او غواړی چی د ملګرو ملتو له خوا ورکړل شوی تهول مالی اوسیاسی امکانات د نجیب د بقاء له پاره ولګوی او هم ددي امکاناتو له لاری په افغانستان کی د تبعیض تخم وکری همدا اوس د صدرالدین آغاخان د (سلام) پروګرام کار کوونکی په افغانستان کی خاصو سیمو ته لیږل کیږی او هدایت ورکول کیږی چی تاسی یوازی او یوازي پلانی قوم یا مذهب له خلکو سره‌مرسته وکړی خدمت ورته وکړی ،او په پسښو یی ودروی.

په هر حال تر اوسه دوولس کاله وتلی چی د افغانستان مؤمن ملت په جهاد کی دي نه یوازی دا چی ددښمن د دسیسو ښکار شوی نه دی بلکه د هغه تهولی دسیسی او ناپاکی ارادی یی شنډی کړی،نو اوس چی د بری او آزادی په پوله ولاړي دی څنګه څوك کولای شی چی دابا اراده او با عقیده ملت وغولوي او د دښمن په لومه کی ښکیل شی.

اوس وخت کی دافغانانو د بیا ستنیدلو موضوع نه یوازی داچی د روسیی ناولی عزایم رابرسیره کوی بلکه دافغانستان د هوډیالی ملت په وړاندی بین‌المللی سازشونه هم راڅرګندوی او دابنیی چی د دی آزادی پالونکی ملت د ښکیلولو اوایلولو له پاره څومره لاسونه په کار بوخت دی او څومره نړیوالی توطئی روانی دی..

داهم د یادولو ده چی د افغانانو بیا ستنیدل یوه د خندا وړ خبره ده ځکه افغانان له هغه وخته چی جهاد یی پیل کړی او هجرت یي کړی بیا تر ننه پوری تل هیواد ته ستانهٔ شوی ،له غلیم سره جنګیدلی اود ستنیدلو دا لاینقطع سلسله همداسی روانه ده او هم په ډیرو سیمو کی یی له سلونه نوی کورنی میشت پاته شوی او دا دولس کاله یی د رژیم وحشیانه بمباري زغملی او قربانی یی ورکړي دی خو اوسنی ستنیدل چي د آغاخان تر پروګرام لا ندی تر سره کیږی ځکه نه منی چی دښمنان غواړی دهدف ترلاسه کیدو وړاندی د جهاد سلسله ختمه شی او نجیب به په دي شرط پدی سیمو بمباری نه کوی د نجیب پرتاء سیساتو مجاهدین بریدونه کړي او دا د روس اونجیب هغه زوړ وړاندیز دی چی تل یی مجاهدینو ته کړي دی. که نه د مجاهدینو د بیرته ورستنیدو سیمی هغه آزادی سیمی دي چی د مجاهدینو په لاس کي دی او دا لس کاله کیږی چی د کمونست رژیم لاس نه ورته رسیږي.

په دی توګه افغانانو قیام د هدف له پاره وکړ جهاد یی د هدف په لار کي شروع کړ، هجرت یی د هدف لپاره وکړ او بیا ستنیدل به یی هم هغه وخت وی چی هدف یی ترلاسه کړي وی په افغانستان کی د کمونستی رژیم بقایا له منځه تللی وی او افغانانو داحق تر لاسه کړی وی چی په خپل هیواد کی د خپلی خوښی او له پردی لاسوهنی او اغیز پرته حکومت جوړ کړي او خپل برخلیک وټاکي.

د مزدور رژیم په زندانونو کی

د

بندیانو لیدلی - اوریدلی حالات

س.م.د

په تیرپسې:

(٦)

شاهد چی د روسانو د مزدور رژیم په شکنجه ځایونو کی یی د بند ترخی شپی او ورځی تیری کړی دی د خپلی یوی لیکنی په ترځ کی د ارزگان ولایت په یو زندان کی لیدلی اوریدلی حالات په مفصله توگه بیانوی چی دلته یی ځینی خاصی برخی په لنډه توگه راخلو :

د ارزگان ولایت د مرکز (ترینکوټ) له بازار څخه دوه یا دری کیلو متره وړاندی ختیځ لورته یوه زړه دولتی قلعه وه چی لس کوټی یی درلودلی.هره کوټه چی څلور متره سور او شپږ متره اوږدوالی یی درلود د شلو تنو بندیانو لپاره ځانګړی شوی وه.په دی خونو کی له زیاتو حشراتو سپږو او وږگو څخه سربیره د مږو ، موږکانو او خاڼو سوری هم موجود وو او ددی خونو د پاکولو اجازه یی هم چاته نه ورکوله.

د ارزگان په ولایت کی د هغه وخت د روسانو دمزدور رژیم ملحد او کمونست والی محمد اسلم قربانخیل او د حزبی ولایتی کمیټی منشی شمله دار شینواری امر کړی ؤ چی سیاسی بندیان باید شپه او ورځ له کوټو څخه ونه وځی.

سره له دی چی داوړی شپی او ورځی وی او د سانتی گرید ستن به (٤٨) او (٥٠) درجو په شاو خوا کی وه ، برقی بادپکی هم نه وو،بندیان به چی د گرمی د زیات شدت له امله ناطاقته شول نو د زندان په خاصو محافظینو باندی به یی

د پیسو په مقابل کی اوبه راغوښتلی او په هغی به یی خپلی جامی لمدولی تر څو چی په دغه ډول د یوی شیبی لپاره د گرمی د حرارت له شدت څخه وژغورل شی.

د انسان د وژلو او عذابولو په دغه مرکز کی هم د نورو شکنجه ځایونو په څیر له مؤمنو بندیانو سره د کمونستانو چار چلند بالکل وحشیانه او غیر انسانی ؤ. هر بندی به دغه ځای ته له راتگ څخه د مخه د خاد په نورو شکنجه ځایونو کی ډول ډول سزاگانی او تکلیفونه لیدل. د ځینو به په خنډنو لختو باندی د ډیر وهلو له امله له بدن څخه وینی جاری شوی او د بی هوشی په حال کی به یی زندان ته رادننه کړل چی بیا به څو شپی او ورځی له ځانه خبر نه ؤ. کله چی به بندی د تحقیق لپاره وغوښتل شو نو د تحقیق په جریان کی به له نورو ډول ډول روحی او جسمی کړاوونو برسیره په لختو او لرگیو داسی وهل کیده چی د وجود پوستکی به یی شین واوښت. کله به مازیگر مهال په ارزگان کی د مزدور رژیم والی او د گوندی کمیټی منشی (قربانخیل او شمله دار) دواړه په داسی حال کی زندان ته راغلل چی شراب به یی څښلی او نیشه به وو،د مؤمنو بندیانو په ربړولو او شکنجه کولو به یی پیل وکړ. کله به یی دوه تنه بندیان را وغوښتل او دواړوته به یی امر وکړ چی یو له بل څخه ږیره وباسئ او کله به یی ځینو نورو بندیانو ته امر کاوه چی د نورو بندیانو تر مخ یو له بل نه په غاښونو غوږنی وشکوئ، او ځینو ته به یی د یو بل په سوکانو او لغتو د وهلو امر کاوه او که به څوك دی کار ته نه حاضریدل نو مؤظف جلادان به د هغوی وژلو ته تیار وو.

یو بندی ته دا اجازه نه وه چی له یوی خونی څخه بلی خونی ته لاړ شی د بلی خونی له بندی سره خبری وکړی او یا یو د بل حال وپوښتی.

په ځینو مؤمنو بندیانو به یی په ژوندونی خاوری اړولی او ځینی به یی په زغره والو ټانکونو پوری تړل او پرځینو یی ټانکونه خیژول او په ډیره بی رحمی سره یی شهیدانول.

ما پخپله په هغو شپو او ورځو کی چی بندی وم یوه ډیره زړه دردونکی پیښه پخپلو سترگو ولیدله چی د ارزگان د ولایت څلور تنه مجاهدین چی یو یی تره او دری یی وریرونه وو

د ملحدو ظالمانو له خوا په یوه لیکه څملول شول،وزغره وال ټانك یی ورباندی وخیژاوه — شهیدان یی کړل.

شاهد د تره کی په وخت کی د کابل د مرکزی خاد د قصابخانی او په هغه کی د بندیانو د شکنجو او کړاونو د لیدلی کتلی حالت د څرگندولو په ترڅ کی وایی :

په افغانستان کی د انسان وژنو د زرگونو پټو او ښکاره مرکزونو تر څنگ یو هم د کابل د مرکزی خاد قصابخانه وه چی هغه وخت د «اکسا » په نوم یادیدله او هره ورځ پکی د زرگونو بی گناه مؤمنو افغانانو وینی توئیدلی. د انسان وژنی او ځورونی دغه مرکز په ۱۳۵۷ هـ ش کال کی د تره کی د گارډ د مانۍ لویدیځ اړخ ته،گارډ ته څیرمه یوه ودانۍ وه چی دری څلور جلا-جلا حویلی یی لرلی او په هره حویلی کی دیرش څلویښت خونی موجودی وی. دغلته د هر سیاسی بندی لپاره یو مستنطق او دوه تنه عسکر مؤظف ټاکل شوی وو، تر څو چی دوی بندی ته د زجر او کړاو رسولو په نتیجه کی په اسانۍ د خپلی خوښی سره سم تحقیق بشپړ کړی. پدی ځای کی به معمولاً د شپی له خوا له بندیانو څخه تحقیق کیده. د هر بندی د مستنطق لپاره جلا کوټه ټاکل شوی وه. د تحقیق په جریان کی له بندیانو سره داسی غیر انسانی سلوك کیده چی د قلم عفت یی په یادولو شرمیږی.

دلته به بندی په برقی سیمی چوکټ کښینول کیده او دومره برق به یی پری ور پریښود چی بندی ته پوره درد او تکلیف ورسیږی. د بندی خوله به یی په څادر کلکه تړله او پر ځمکه به یی پرمخ څملاوه،په ملا او ورمیږ به یی دوه دری تنه تر هغه ولاړ وو چی په ډیر سخت حالت کی به واقع شو. له ځینو څخه به یی په چاقوگانو غوښی غوڅولی او کله کله به یی د ډیر وخت لپاره سرښکته ځوړندول.

ځینی به یی په داسی تختو د ړول چی د میخونو څوکی به پکی راوتلی وی او بندي به د ودریدو پر وخت د پوره درد او کړاو احساس کاوه. ځینو بندیانو ته به یی د لاسونو او پښو گوتو او د غوږونو پوڅکو پوری د برق لوځ تارونه وتړل او دومره برق به یی پری پریښود چی له درد او تکلیف څخه به یی بی هوشه

پاتې په (۸۰) مخ کې

محمد عمر اځر

نظامی ښوونه او روزنه

محاربوی فعالیتونه

محاربه د جزوتامونو او – قطعاتو له منظمی او وسله – والی مبارزی ځخه عبارت، ده چی ددښمن د ځانداره قواو د امحاء په مقصد اوهم د محاربوی تخنیك دتخر- یب د اراضی او مناطقو د، اشغال او محافظی لپاره اجراکیږی. محاربه پردښمن باندی د بریالیتوب یواځینی وسیله ده .

اوسنی محاربه د مختلفو صنوفو محاربه ده چی په هغه کي پیاده ،موتریز د ټانك ،توپچی ،هوایی قوا، مدافعه هوایی او خصوصي قوتوند لکه انجینزي، – کیمیا ،مخابره او نور ، اشتراك وکړی.

اوسنی محاربه د قاطع فعالیت د وضیعت سریع- تغیر د مانور عالی- قابلیت په هر نوع شرایطو، کی د شپی او ورځی په مخ بیول کیږی.

د مختلفو صنوفومحاربه د وظیفی اجراء په مختلفو طرزنو اجراء او تعرض ،تصادفی محاربه او مدافعه باندی تقسیمیږی:

۱- تعرض: د محاربوی فعالیت اساسی نوع ده صرف د یو قاطع تعرض په وسیله چی په عالی سرعت په زیاد عمق سره اجراء، کولای شی پردښمن . د تعرض مقصد په مکمله توگه ددښمن له منځه وړل او د مهمو منا- طقو اشغال دی.

۲ – تصادفی محاربه: عبارت له هغی محاربی ځخه دی چې په هغه کی طرفین هڅه وکړی چی، خپل وظایف د تعرض په، وسیله اجراء کړی په تصادفی محاربه کې د، رفتار ځخه په انبساط سره تعرض او مدافعه اجراپیدای شی.

۳- مدافعه: له هغه محاربوی فعالیت ځخه عبارت ده چی ددښمن د متعرضو قوتونو د دفع طرد لپاره اجراء کیږی او، دښمن ته درانه تلفات ورکړی او داراضی مهمی

برخی محافظه کړی اوهم مساعد شرایط د تعرض د اجرا لپاره اماده کړی.

د مختلفو صفوفو په محاربه کې مختلفي انواع د سلاح او تخنیك استعمالیږی لکه: تانك توپچي وسایط دافع تانك وسایط مدافعه هوایی ، قوای هوایي پیاده، سلاح اور اچونکي مواد ، په زیاته پیمانه او داسي نور وسایط. پدي علاوه د دښمن کیمیاوي او اتومي اسلحو ته هم لاس اچوی.

۱- تانك :- د خپل توپ او ماشیندار په وسیله چي د حرکت او مانور عالی قابلیت لري د اور زیات ، قدرت لري او هم ددښمن د ضربوی او ذروي انفلاقاتو په مقابل کی تحفظ لري ددښمن ززهدار قوا اتشدازه وسایط او نور هدفونه او ددښمن څانداری قواوی له منځه وړلای شي.

تانك کولای شي تدافعی تأسیسات خراب،د ماینونو په موانعو کی گذرگاه خلاصه کړی.

۲- توپچي :. عبارت له اصلی زمیني اورلرونکی قدرت څخه ده. چی ددښمن څانداره قوا امحا ءوظایف، تخریب،د اتومی وسایطو، تر فشار لاندی نیول ددښمن توپچی هاوانونه ،تانکونه د قوماندي او ترصد - محلات،رادیو تخنیکی - وسایطو او داسي نوراهدافو لپاره استعمالیدی شي.

۳- ریکتیف مرمی "مردت": عبارت له هغووسایطوڅخه دی چی موثره مبارزه دتانکواو نورو زرهی اهدافو ددښمن سره کولای شی،دا مرمی د هرنوع تانك دتخریب او له منځه وړلو قابلیت لري.

٤ - دافع هوا :. ددښمن الوتکو هلیکوپترونودتخریب ددیسانت ښکته کولو او پرواز په وخت کی توظیف کیږی.

د دافع هوا،توپچی سربیرد په هوایی وظایفو د زمینی قوتونو د زمینی اهدافو د تخریب په مقصد هم استخدام کیدای شي .

د دافع هوا ماشینداوجزوتأمونه د هوایی اهدفو څخه بزعلاوه ددښمن د پیاده تانکونو اوموټریز ه محاربوی نظامونوپه مقابل کی هم وظیفه اجراء، کولای شي.

٥ - هوایي قوا :. مهم اهداف او تأسیسات چی په عمق کی دننه وی تر فشار ، لاندی نیولی شی چی توپچی قوتونه هغه ته ضربه نشي وزکولای،توظیف کیږی اوسنی هوایي قوا ذیقدرته امحاکوونکی ده ثابت او متحرك اهداف چی کم ابعادهم ولري له منځه وړلای شي .

٦- پیاده اسلحه : ماشیندارونه مخفف چاپ لرونکي توپك ،ماشینداری تفنگچی راکټ اندازه لاسي تفنگچه اولاسی بمونه د پیاده - سلاح ددښمن د څانداره قواو د له منځه وړلو لپاره په قریبه محاربه کښي اساسي وسایل دی. د، لوی چاپ ماشیندارونه بر علاوه د هوایي دښمن په مقابل کی د زرهدارو وسایطو ضعیفو زره په مقابل کی هم استعمالیدای شي .

راکټ انداز چی د اطمینان وړ وسله ده د تانکونو او د دښمن د څانداره قواد

پاتی په (٧٥) مخ کی

د اسلامي هيوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو نولسم كنفرانس او د افغانستان د قضيي پس منظر

سيد محي الدين هاشمي

لکه چې څرګنده ده د بهرنيو چارو د وزيرانو په سطح د نړۍ د اسلامي هيوادونو کنفرانس هر کال د نړۍ په يو اسلامي هيواد کې جوړيږي ، څو په ګډه سره د اسلامي نړۍ سياسي ، اقتصادي ، فرهنګي، نظامي مسايلو ، پيښو ، ستونزواود هغو د حل د لارې په ګوته کولو او له نورې نړۍ سره د اسلامي هيوادونو په اړيکو هر اړخيزې خبرې وکړي .

د اسلامي هيوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو کنفرانس په حقيقت کې د اسلامي نړۍ تر منځ د وحدت ، ګډو مرستو ، د اسلامي خواخوږۍ ، غمشريکی ، يو د بل له حاله د خبريدو ، اسلامي امت او مسلمانانو ته د ورپيښو ستونزو او مشکلاتو د حل کولو او بالاخره د يو واحد دريځ د نيولو لپاره ډيره ښه او اغيزمنه وسيله ګڼل کيدای شي، څو په دې شرط چې په کړنلارو او پريکړه ليکونويې عمل وشي او د غربو هيوادونو استازي پکې د شرق او غرب د پاليسو ، اقتصادي ګټو ، نظرياتو او سياسي پلوی ، تر اغيز لاندې نه وي راغلي .

د مخه تردې چې د اسلامي هيوادونو د سږني کنفرانس په عمومي اجنداء، پريکړو او تصميمونو څه ووايو لازمه ده چې د افغانستان د قضيي په باب د اسلامي هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو د څو مخکينيو کنفرانسونودپريکړو او سياسي دريځونو پس منظر ته په لنډه توګه يو ځغلند نظر واچوو :

څرنګه چې د اسلامي

هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو د کنفرانس د کړنلارې د دوهمې مادې په شپږمه فقره کې داخبره په څرګنده توګه توضیح شوې چې : « د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس دنده لري چې د ټولو اسلامي ملتونو د بشري او انساني حقوقو د ترلاسه کولو او د ملي خپلواکۍ د ساتنې په خاطر د هغوی د عادلانه مبارزې ملاتړ وکړي » . نو د همدې اصل په پام کې نیولو سره کله چې په ۱۳۵۸ کال د جدي په ٦ نېټه یرغلګرو روسانو د ټولو ملي او بین المللي قوانینو ، اصولو او ضوابطو پرخلاف پر افغانستان باندې مستقیم تیری وکړ ، سمدلاسه د اسلامي هیوادونو د کنفرانس د یوه غړي هیواد (بنګله دیش) جمهور رئیس ضیاء الرحمن په غوښتنه د اسلامي نړۍ د ٣٤ هېوادونو د استازیو په ګډون د پاکستان په مرکز اسلام آباد کې یوه فوق العاده غونډه جوړه شوه چې په هغې کې یې پر افغانستان باندې د روسانو مستقیم تیري په کلکه محکوم کړ او هغه یې د ټولو نړیوالو اصولو او مقرراتو پرخلاف وګاڼه . همدارنګه یې د اسلامي هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په کنفرانس کې د روسانو د مزدور رژیم غړیتوب وځنډاوه او د افغانستان څوکۍ یې خالي پریښودله . ضمناً له ټولو غړو هیوادونو څخه وغوښتل شول چې دغه مزدور رژیم چې د افغانستان د مؤمن ملت او اولس له ارادې پرته د پردیو په زور تپل شوی دی په رسمیت ونه پېژني، له هغه سره دې هر اړخیزې مرستې قطع شي . په مقابل کې پریکړه وشوه چې د هغو مؤمنو افغانانو چې له خپلې عقیدې او ځمکنۍ تمامیت څخه د دفاع په خاطر یې د روس او د هغوی د مزدورانو پرضد وسله وال جهاد پیل کړی او هغه مهاجرین چې د روسانو او د هغوی د مزدور رژیم د ناوړه

> د اسلامي نړۍ د وحدت او د اسلامي امت ترمنځ د خواخوږۍ او غمشریکۍ فضاء د رامینځته کولو په لار کې د اسلامي نړۍ د بهرنیو چارو وزیرانو کنفرانس جوړیدل ډیر ګټور او اغیزمن کار دی، خو کاشکې چې پریکړو او تصمیمونو ته یې د عمل جامه واغوستل شي.

سلوك او زرو زياتى له امله
گاونډيو اسلامى هيوادونو ته
په هجرت كولو مجبور شوى
دى هر اړخيزه مرسته ننگه او
ملاتړ وشى . وروسته بيا په
(۱۹۸۱) ع كال د مى د
مياشتى له (۱۷ ـ ۲۲) نيټى
پورى د اسلامى هيواد پاكستان
په مركز اسلام اباد كى د
(۳۹) اسلامى هيوادونو د
بهرنيو چارو وزيرانو په گډون
كنفرانس جوړ شو چى په
اجنداء كى يى د افغانستان
مسئله شامله وه او د كنفرانس
د پريكړه ليك په ترڅ كى له
يرغلگرو روسانو څخه وغوښتل
شول چى خپل پوځونه بى له
قيد او شرطه د افغانستان له
خاورى څخه وباسى.

همدارنگه په راوروسته
كلونو كى چى هر كال د
اسلامى هيوادونو د بهرنيو
چارو د وزيرانو كنفرانس جوړ
شوى هر ځل يى په اجنداء كى
يى د افغانستان قضيه شامله وه
او د غړيو هيوادونو استازيو په
اكثريت سره له مؤمنو افغانانو
مجاهدينو او مهاجرينو څخه
خپله هر اړخيزه ننگه او ملاتړ
څرگند كړى ، پر افغانستان
باندى يى د روسانو پوځى
تيرى په كلكه محكوم كړى او
له دغه هيواد څخه يى د روسى
پوځونو د ژر او بى قيد او
شرطه‌وتلو او مؤمنو افغانانو ته
د خپل سرنوشت د ټاكلو د حق
د وركولو غوښتنه كړى ده.

بالاخره تير كال
(۱۹۸۹) د سعودى عربستان
په مركز رياض كى د اسلامى
هيوادونو د بهرنيو چارو د
وزيرانو په تاريخى كنفرانس
كى د افغانستان چوكۍ چى پر
افغانستان باندى د روسانو له
يرغل څخه وروسته تر دغه
وخته خالى وه، مجاهدينو ته
وسپارل شوه او د افغانستان د
مجاهدينو د عبورى حكومت د
بهرنيو چارو وزير محترم
انجينر گلبدين حكمتيار د
عبورى حكومت د استازى په
توگه رسماً په كنفرانس كى
برخه واخيستله او د افغانستان
چوكۍ يى اشغال كړه.د دغه
كنفرانس په ترڅ كى له ټولو
برخه والو هيوادونو څخه
غوښتنه وشوه چى د افغانستان
د مجاهدينو عبورى حكومت
په رسميت وپيژنى.چى په
نتيجه كى د سوډان او ماليزيا
اسلامى هيوادونو دغه
حكومت په رسميت وپيژاند. له
نورو څخه هم دا هيله كيده خو
له بده مرغه د شرق او غرب
سازشونو دغه كار له خنډ او
ځنډ سره مخامخ كړ.

د پښتوانی پریکړی له مخی سږکال د اسلامی هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو نولسم کنفرانس د ۱۳۶۹ هـ ش کال د اسد د میاشتی په ۹ نیټه د سه شنبی په ورځ چی د۱۹۹۰ کال د جولای د ۳۱ نیټی سره سمون خوری د مصر اسلامی جمهوریت په مرکز قاهره کی جوړ شو.

د کنفرانس کار په رسمی توگه د کوربه هیواد د جمهور رئیس حسنی مبارك په افتتاحیه وینا پیل او بیا د بیلو بیلو غونډو په ترڅ کی د کنفرانس په اجنداء کی د شاملو موضوعاتو چی په هغو کی د افغانستان پر قضیی سربیره په منځنی ختیځ کی سوله، د عربو او اسرائیلو سیاسی اړیکی، د کشمیر او لبنان بحرانونه، د کویت او عراق سیاسی اړیکی اوهمدارنگه د اسلامی نړی نور سیاسی، اقتصادی او اجتماعی پرابلمونه شامل وو، د کنفرانس په جریان کی پری څه نا څه غور او بحث وشو، لازم تصمیمونه ونیول شول او د حل لاری په گوته شوی.

د کنفرانس په دریمه ورځ د ۱۳۶۹ هـ ش کال د اسد په ۱۱ نیټه د کویت پر اسلامی خاوره باندی د ټولو نړیوالو اصولو او ضوابطو پر خلاف د عراق مستقیم پوځی تیری د کنفرانس جریان له ستونزو، خنډ او ځنډ سره مخامخ کړ او د کنفرانس په اجنداء کی ټول شامل موضوعات او مسائل یی تر اغیز لاندی راوستل.

د بهرنیو چارو د وزیرانو په کنفرانس کی د افغانستان اسلامی عبوری حکومت په نمایندگی د یو هیئت په مشری د افغانستان د اسلامی جمعیت مشر او د عبوری حکومت د بیا ودانولو چارو وزیر محترم استاد برهان الدین ربانی برخه اخیستی وه.

استاد برهان الدین په خپل وار سره د کنفرانس برخه والو ته هر اړخیزه او عالمانه وینا وکړه چی د هغی په ترڅ کی یی د افغانستان د مسلمان ملت د جهاد د اوسنی وضعی، د روسانو د مزدور رژیم د فعلی بی ثباته حالت او د هغو توطئیو او دسیسو په هکله چی د شرق او غرب له خوا په مستقیمه او غیر مستقیمه توگه د افغانستان مجاهد ملت مجاهدینو او مهاجرینو ته متوجه دی په تفصیل سره خبری وکړی او ضمناً یی د کنفرانس

له برخه والو څخه وغوښتل چې په دې حساس پړاو کې چې زمونږ اسلامي انقلاب د برې پولې ته نژدې شوی دی د افغانستان د مجاهد ملت سره خپلو هر اړخيزو مرستو او ملاتړ ته دوام ورکړي.

په پای کې د کنفرانس ، سعودی عربستان او گامبیا له خوا عمومي غونډې ته د تصویب لپاره وړاندې شو.

په پريکړه ليك كې د روسانو او د هغوی د مزدورانو پرضد د افغانستان د مؤمنو خلکو د اسلامي پاڅون او جداوجهد ستاينه وشوه او له اسلامي نړۍ ته د ورپيښو ستونزو او مشکلاتو د حل او فصل د لارې په گوته کولو او د اسلامي نړۍ د خپل منځي شخړو د اواروڵو نړيوالو قضاياو په ارتباط د يو متحد دريځ نيولو ، د اسلامي نړۍ وحدت ، او د اسلامي امت تر

په اوسني وخت کې چې اسلامي نړۍ په ډير سخت او کړکيچن حالت کې واقع او د اسلام او اسلامي امت د دښمنانو د ډول ډول دسيسو او توطيو سره مخامخ ده. ترهرڅه د مخه دا د اسلامي هيوادونو د مشرانو او مسؤولو کسانو دنده ده چې د اسلامي نړۍ د وحدت او سلامتيا لپاره نه ستړې کيدونکې هلې ځلې وکړي او د شرق او غرب د لاسوهنو او د ټولو شومو او ناولو اهدافو، اغراضو او توطيو د مخنيوي لپاره دې ثابت دريځ غوره کړي.

پريکړه ليك د کنفرانس د سياسي کميټي او کميسيون له خوا چې په هغې کې پاکستان ، ايران ، د افغانستان مؤقت اسلامي حکومت ، سوريه او د فلسطين آزادي بخښونکي سازمان شامل وو تهيه ـ ترتيب او د پاکستان ، مصر ، ترکيې هغوی سره د هرډول مرستو پر موضوع ټينگار وشو.

په پای کې خپلې خبرې د يوې نتيجې په توگه داسې رالنډوم:

په دې کې خو هيڅ شك نشته چې په سياسي ، اقتصادي ، فرهنگي او نظامي ساحو کې منځ د خواخوږۍ او غمشريکې فضاء د رامنځ ته کيدولو په لار کې د دغه ډول کنفرانسونو جوړيدل ډير گټور او اغيزمن کار دی ، خو کاشکې هغه پريکړې چې په دغو کنفرانسونو او غونډو کې کيږي او يا کوم تصميمونه چې

نیول کیږی هغه ته د عمل جامه
واغوستل شی . د اسلامی
هیوادونو په دغه ډول کلنیو
غونډو او کنفرانسونو کی د
خاصو قضایاؤ په اړه کله
انفرادی او کله بیا جبهه یی او
ډله یز مخالف دریځونه وی او
د شرقی او غربی تمایلاتو تر
اغیز لاندی پر مسایلو بحث او
غور کیږی ، ځکه که کومه
پریکړه په نسبی متحدانه دریځ
سره وهم شی او یا تصمیم
ونیول شی بیا یی له چا سره
اجرایی صلاحیت نه وی . او
هسی د کاغذونو پر مخ لیکلی
خبری ګڼل کیږی .

په اوسنی وخت کی چی
اسلامی نړۍ په ډیر سخت
کړکیچن او بحرانی حالت کی
واقع او د اسلام او اسلامی امتد
دښمنانو د ډول ډول دسیسو او
توطیئو سره مخامخ ده تر هر

څه د مخه دا د اسلامی
هیوادونو د مشرانو او مسوولو
کسانو دنده ده چی د خپل
مسئوولیت او تاریخی رسالت په
درک سره د اسلامی نړۍ د
وحدت او سلامتیا له پاره نه
ستړی کیدونکی هلی ځلی
وکړی او د شرق او غرب د
لاسوهنو او د ټولو شومو او
ناولو اهدافو ، اغراضو ، توطیئو
او دسیسو د مخنیوی لپاره دی
یو ثابت دریځ غوره کړی ، او
ټولی خپلی منځی قضایاوی دی
د الهی احکامو او نبوی
ارشاداتو په رڼا کی د بحث او
مذاکری له لاری حل کړی .

ومن الله التوفیق .

نویسنده: شهید دکتور عبد الله عزام

مترجم ف فاضل

سرطان سرخ

پیوسته بگذشته:

٦- مارکسیزم به همه مشاکل بشری یك راه را پیشنهاد می کند و این کار نیزنگ بس خطیری است، مانند پزشك نلدانی که برای همه بیمار انیکه نزد او می روند باوجود بیماری های گوناگون شان تنها آسپرین را، تجویز میکند.

٧- مارکس و انگلز بر مشاهدات باستانشناش معروف مورگان که در بررسی هایش راجع به قبایل «ارکوی» و کتاب جورج فون راجع به قبایل زراعت پیشه آلمانی، که اثبات تاریخی آن ممکن نیست زیرا آنها قبل از میلاد زندگی میکردند، اتکاکرده است.

٨- مارکس نظر دارد که دین خادم کپیتالیزم و امپریالیزم است، پس چگونه مردم افغانستان عظیم ترین انقلاب را بر ضد روسها سازمان دادند.

٩- مارکس میگوید: هر تغییر ابزار تولید به تغییر رژیم منجر میشود، ولي حالت موجود در امریکا و اروپا، این ادعا را تکذیب میکند، زیرا در خلال دو قرن امریکا با وجودیکه در تخنیك مادی به سویه عالی ای رسیده است، اما باوجود آن، رژیم ان ثابت و پابر جاست.

١٠- اخلاق در هر عصری انعکاس ابزار تولید است و ابزار تولید در پیشرفت همیشگی قرار دارد. بناء اخلاق به اساس تئوری بی ارزش مارکس باید در پیشرفت همیشگی باشد ولی مامی بینیم که غرب به سوی حیوانیت روان است و در جهان اخلاق سیر قهقرائي اش رامی پیماید، و این پدیده حرف مارکس را نقش بر آب میکند.

و خواننده می تواند در این رابطه، کتب « پوچی» و « سقوط تمدن» نوشته نویسنده انگلیس کولن ولسون و کتاب «بررسی تاریخ» نوشته ارنولد توین بی و کتاب سقوط تمدن غربی از شپنگلر و « انسان موجود ناشناخته» از الکسیس کارل را مطالعه کند.

کتابهای نامبرده میگویند که: سقوط سهمگین اخلاقی منجر به سقوط تمدن غربی شده است.

١١- مارکس به اساس تئوری اش برپایی انقلاب کمونیستي را در کشورهاي که از ناحیه صنعت مثل، انگلستان و آلمان پیشرفته تراند، بیشبینی می کرد، در حالیکه انقلاب در آن کشورهاي اروپایی بوقوع پیوست که عقب مانده تر بودند، بلکه به دوران فیودالی نزدیك تر بودند، مثل روسیه و در چین انقلاب کمونیستی قبل اذینکه به مرحله صنعتی قدم گذارد برپا شد.

١٢- توقف کردن تیودی تضاد درنذد مارکس در وقتیکه انقلاب کمونستی به وقوع می پیوندد استبداد او فکری و پیروی خواهشات گفته میشود نه علم. لذا ماسیگونیم:

تئوری مارکسیزم در حقیقت تفسیر توراتی زندگی و طرز تفکر تلمودی در برابر نوع بشر است. یهودیانیکه گوساله طلایی را پرستیدند، اینك برگشتند و آنرا در قالب های علمی و نظریات فلسفی ریختند، و کینه

یهودی و تلمودی بر بشریت جام غضب و زهر حقد و خشمش را از خلال حرفهاي پر زرق و برق جهت رهایی کار گران و نجات زحمتکشان بر انسانیت ریخت، و حقیقت این است که مارکس خودش میدانست که تئوری اش نمی تواند به زندگی ادامه دهد و نمی تواند با واقعیت زندگی همرکابی داشته باشد. طوریکه نقل شده است، یکبار مارکس در برابر یکتن از خویشاوندانش فریاد کشید که: «به هر حال آنچه من یقین دارم این است که من خود مارکسیست نیستم».

۱۳- کسانیکه نوشته های مارکس و انگلز را مطالعه کنند، جامعه ایکه به دنبال انقلاب و سرنگونی کاپیتالیزم به میان آمد به تفصیل در مورد آن بحث نشده است زیرا جامعه به صورت ناگهانی از مرحله پیروزی انقلاب به مرحله اضمحلال دولت پامیگذارد ، از همینرو «ریمون آرون» حینیکه گفت: سوسیالیزم علمی نخست و قبل از هر چیز،تئوری ایست در نقد کاپیتالیزم، مکتبی است هر گاه بخواهی توصیف تفصیلی این نظامي را که به دنبال کپیتالیزم خواهد آمد بدان نست نخواهی یافت» برحق بود.

۱٤- کمونیستها به کمونیزم «مارکسیزم - لینیزم» را نیز افزودند، گونی هر دو یك چیز باشند اما کسانیکه بعد از سال ۱۹۰۲ در حرفهای لنین دقیق شوند میان حرفهای او حرفهای مارکس تفاوت زیادی را خواهند یافت. زیرا لنین بعد از سال ۱۹۰۲ و بعد از نگارش کتاب «چه باید کرد؟» نظریاتی ارائه کرد که از آن بوی خون به مشام می رسد که پس از او ستالین آنرا با بوجود آوردن آبشار هاي خون شکل عملی داد. و در کشمکش طبقاتی و در سایه دکتاتوری پرولتاریا دریاهای خون جاری شد.

بناء نظریات مارکس دیگر و نظریات لینین دیگر است. و دموکراسی ایکه مارکس به سوی آن مردم را فرامی خواند، در آرای لینین به‌دکتاتوری خونین تغییر یافت.

الکسندر حربي در کتابش تکامل تیوری اقتصادی ص ۳۰۷ میگوید ممکن بود «کالون» شخصی چون «نوکس» را نمی یافت و ممکن بوده مارکس شخصی مثل لینین را نمی یافت. و در تفسیر تاریخ درست تر این است که شحص تواضع کند و معتقد گردد که عقلش توان درك غیبیات را ندارد. یعنی بایست او درك کند که عوامل زیادی تاریخ انسان را میسازد و اقتصاد یگانه عامل آن نیست، و شاید هم اقتصاد ازپر جمله اهمیت ترین آن عوامل نباشد»

پروپا قرص ترین مارکسیست ها. نظر دارند که اقتصاد عامل یگانه در ساختن ملت ها و تمدن ها نیست جی، دی ، ایچ ، کول میگوید که اساس اقتصاد در جامعه تنها عاملی از عوامل تصویر فرم عمومي تمدن نیست حتی عامل مهم آن هم شمرده نمی شود.

برتر اندر اسل در کتابش «آرزوهای نو برای جهان متحول» چند مثالی را ذکر می کند که سقوط مارکسیزم را در تفسیر رویداد های تاریخ از دیدگاه اقتصادی بیان میدارد. راسل میگوید: حکومت آلمان با بی پروایی به لنین اجازه داد تا در سال ۱۹۱۷ به‌روسیه برود، و اگر آن وزیری که چنان اجازه ای را داد عوض «بلی» «نه» می گفت، مشکل بود که ما تصور کی کردیم، انقلاب روسیه به مرحله کنونی وی که رسیده است می رسید. و اگر «جنوا جزیره کورسیکارا در سال ۱۷٦۸ م به فرانسه تسلیم نمی کرد، ناپلیونی که سال بعد در آن تولد یافت، ایتالیایی می بود و زندگی سیاسی او به فرانسه پیوندی نداشت و حالا هیچکس نمی تواند ادعا کند که تاریخ فرانسه بدون ناپلیون عین همین تاریخ می بود».

در تاریخ یکسلسله لحظه های قاطعی وجود دارد که مردان در آن موقف هاي می گیرند که به اثر آن ملتی را رهایی می بخشند و یا آنرا نابود می سازند. آن لحظاتی که ابوبکر رض الله عنه فرستادن سپاهیان اسلام را در جنگ ردت به تصویب رساند ملت مسلمان را از خطر بزرگی رهایی بخشید.

و چه زیباست گفته الکزاندر کری

بقیه درصفحه (۸۰)



جهاد د شعر او ادب په پلوشو کې

مرحوم استاذ الفت

د کربلا الهام

کله کله توره شپه کې فضا ډېره ظلماني شي
بحراني مهیب حالت کې هوا ډېره طوفاني شي
توږې وریځې راخورې شي پټې ورکې شي آسمانونه
آفتونه راورېږي خطرناک شي بارانونه
سیلابونه راروان شي سر او مال وي په خطر کې
اضطراب، وحشت او ډار وي زړګي ستړګو کې په سر کې
سیاسي فضا شي خړه تند ریزه او مهیبه
دا ر حاکم فکر محکوم وي ګړوند بې خونده بد نصیبه
ابوالهول یزید پیدا شي چې د خلکو باسي زړونه
ور سره په کربلا کې یو بلا مصیبتونه
نشاط نه وي په حیات کې د خندا قحطي راځي
عذابونه، عتابونه، فشارونه مجاني وي
د غضب حکمراني وي خوله خندا ته نه جوړېږي
هر ساعت یې قیامت وي هر یو زړه کې پټ ژړېږي
داسې ډېر بد حالونه په انسان باندې راغلي
زلزلې او طوفانونه په جهان باندې راغلي
په هم داسې سخت ساعت کې پیدا شوي لوی کسان
چې ځان نه سپاري طوفان ته او سپرېږي په طوفان
د طوفان په سر نوح ع کښېنود د بشر د بقا پنډه
د تدبیر، عزم په ځکې طوفان کله کړې خنده

که هر څو مره لوی طوفان وي عمر یې لنډ لکه ظالم وي
د نوح ع عمر یې نصیب شي چې طوفان باندې حاکم وي
خاوندان دا را دوتل په جرئت موي نجات
له خطر سره جنګونه حقیقت دی د حیات
نمرودان سوزوي اور کې که د عصر ابراهیم ع
حق پالونکو ته نه ښایي چې باطل ته شي تسلیم
که یزید په کربلا کې ظلم کړې له حده تېر
شهامت به د حسین رض څوک تر قیامته نه کړي هېر
یزید نوم د استبداد دی د سمبول په حیث جهان ته
حسین رض ډېر اعلیٰ مثال دی د ایمان اهل ایمان ته
په یزید باندې ورېږي تر قیامته نفرتونه
د حسین رض په غم کې ژاړي جهانونه، عالمونه
د دجلې رود ظالمانو د انسان په وینو سور کړ
په وحشت، بربریت یې جهان خلکو ته تنور کړ
هغه څوک وو چې یې جوړې د سرونو منارې کړې
چا ودان ښارونه کنډر کړې جوړې یې میرې کړې
څوک د قهر قهرمان وو په باميانو څه تېرېږي
غلغله کې چې څه شوي د جهان کله هېرېږي
عجیبه غوندې جهان دی عجیبه یې دي کارونه
کله وران، کله ودان کړي قدرتونه، هېوادونه
سقراط فخر د یونان وو د یونان قدرت محکوم کړ
په زندان کې یې د زهرو په پیاله باندې مسموم کړ
د غه راز کارونه اوس هم په بل رنګ او بل عنوان شته
په بل نوم، بل څېره کې جهانسوز، جهانګیران شته
سل چنګیزه دي پټ شوي د اتوم هره ذره کې
د جنګ ډېر جامونه ګوره د رادار په آئینه کې
ظالمان په ایماندارو نه شي کړې حکمراني
د ظالم ظلم ته غاړه کله نه دي مسلماني
غرقېدونکی دي، غرقېږي که فرعون دی که قارون
چې پیدا شي په اولس کې یو موسیٰ او بل هارون
د نمرود امر ته غاړه نه دی اېښې ابراهیم ع
د فرعون قدرت ته کله تابع شوی دی کلیم
اسلام نه مني هیڅکله د یزید متابعت
حسین رض سر شي ورکولای نه لاسونه د بیعت
محمد ص او مومنانو کړل ځکه جهادونه
چې د خدای ج په لاره سم کړي د اېې لارې قدرتونه
د اسلام روح دی جهاد، نا روا سره عناد
حمایت د مظلومانو، ورکول د هر فساد

چا چې یو قدرت منلی په جهان کې د الله ج،
اصلي کار یې دی جهان کې، جهاد في سبیل الله

په هغو تل مسلط وي ظلم، جبر، قهر، زجر
چې په ظلم کوي صبر او له خدایه غواړي اجر
حقیقي مسلمان نه دی، دا ایمان څه ایمان نه دی
چې حسین غوندې یزید ته ټینګ ولاړ په میدان نه دی
وینل مسلمانانو دا اسلام آسان امر و نه
سر یې په ورکوي خدایه نه د حق لار کې سرونه
مسلمانه، با ایمانه دا غریب دین معتبر کړه
په دین سر ورکړه او دین بیا د څوا پیشان سرور کړه
انتقام د حسین واخله د خپل عصره یزیده
ورک د ځمکې خدایان کړه الهام واخله له توحیده
حسین تو یې کړې وینې، ته یې اوښکې تویوې
ځای د وینو اوښکو وینو، څه یې وکړه څه کوې؟
راشه بس کړه ژړا کانې، ظالمان وژړوه
حسین ظلم قبول نکړ، ته یې مظلوم مه جوړوه
په حسین باندې مه ژاړه، په هغه مظلوم وژاړه
چې ظالم ته ټیټوي سر، مظلومو ته بې دي غاړه
په وینه د محمد یې ورکول چې خپل سرونه
د حسین سروري یزید ته، نن د هغو اولادونه
نن اسلام خدایه وشرموي په عمل د مسلمان
په تش نوم باندې مؤمنه داسې کله وي ایمان
داسلام دیوه چې مړ شي، د زیارت دیوه بلیږي
د بې روحه اسلام قدر څه ورځ په ورځ زیاتیږي

په ژوندي حسین څه وشوه، د مزار قدر یې ګوره
په هغه ځای الفت، د اخیر پر پیر دی نوره

حماسهٔ شهید

مولانا حنیف

ما کدداما ن کفن چون لاله خونین کرده ایم
اقتدا بر سنت مردان پیشین کرده ایم
رهبر ما هست ارشاد خداوند ج ورسول ص
ما جهاد حق بروی این فرامین کرده ایم
تا زه بود این سلحشوری ودشمن سوختن
این عمل برشیوه وبرطرز دیرین کرده ایم
تیر ما بنشسته اندر سینهٔ طاغوتیان
تیغ زهرآلود بر پهلوی طاغین کرده ایم
از برای جشن آزادی بخون خویشتن
میهن زیبای خود را نخ آذین کرده ایم
در بهار آرزو از زخمهٔ باران خون
دامن تاریخ ملک خویش رنگین کرده ایم
گر بروی دشمنان دین حق برخاستیم
پیروی از صاحب طه ویاسین کرده ایم
ما که همچو صاعقه برفرق دشمن ریختیم
اینهمه ایثار بهر شوکت دین کرده ایم
سینه خود را اگر آماج مرمی ساختیم
نام خاک خودبلند از ماه و پروین کرده ایم
از کنار در هٔ وازتیفهٔ کهسار خود
حمله ها برجان دشمن همچو شاهین کرده ایم
از فرازافتخار برج وباروی وطن
بیرق الحاد را بازور پائین کرده ایم

"امان الله نصرت"

په آمو پوري وتل

روسي پرځونه په وعان په آمو پوري وتل
وینو کې لت پت په آرمان . . . په آمو پوري وتل
په تقول جهان کې يې د زور د بدلې ختمې شولې
چې تورځونه سره لیوان په آمو پوري وتل
. . . په شانه تلونکي يوځیان
دلته په شا شول د مسکو په نیم ځان په آمو پوري وتل
لکه براپیون . غوندې نیم ځان په آمو پوري وتل
چې د شکست نوم یې په عمر او ربدلی نه و
شول په کونډو و په دبر بدشان په آمو پوري وتل

داسلامي آمت پا څون به سباوون راولي
دحق د شمعې پتنګان په آمو پوري وتل
دبمرقند او بخارا، دا زادي له پار
له سره تېر دي افغانان په آمو پوري وتل
بیا یې راوینې کړل د اُزبک - تاجک بیده قومونه
له ننګه ډک مسلمانان په آمو پوري وتل
تومې تشې یې شوې بدلې داو بو په ګر بنو
څو به ندر روته غاصبان په آمو پوري وتل

نصرت، جیهد رتزل دی رسکو پونه کو
دا بدال دکور غازیان په آمو پوري وتل

کوچنی غازي

زرین انځور

لنډه کیسه

دځوار لس پنځلسوکلونو د شا او خوا معلومیده. په دی زندان کی تر ټولو کوچنی بندی ؤ. هغه یی یواځی په یوه کوټه کی اچولی ؤ. کوټه قلفی و. کله کله به یی بهر راپریښودلو. یو عسکر به تر شا وریسی روان ؤ. هغه به په دغه حال کی هم په دهلیز او انګړ کی داسی روان و، داسی قدمونه به یی اخیستل، لکه د پوخ عمر کوم اتل بندی چی د غرور او ویاړ ګامونه اوچتوي. په پښو کی خو یي زولنی نه وی خو هغه ته چی به چاکتل نو دپښو د تصوری زولنو آواز به دهغه د تګ په ښکالو کی هم سری ته د محبوبی د ښنګرو د شرنګا د آواز په څیر ښکاره شو.

هره ورځ چی به هغه ته له کوټه قلفی ځخه د راوتلو اجازه ورکړله شوه او هغه به راووت، نو د ټولو بندیانو سترګی به هغه ته ور واوښتلی. ټولو به لار ورته پریښودله. ټولو به حیران حیران ورته کتلی،خو هغه به تل پاس کتل، د زندان لوړو دیوالونو او برجونو ته، آسمان ته ، لمر ته.

هسی خو په زندان کي د هر بندی جلاجلا کیسی او افسانی وی، هر چا ځان ته خپلی خپلی کیسی لرلی، او کله کله به دغو کیسو دافسانو بڼه غوره کړله، خو دهغه په باب به په زندان کی ډول ډول کیسی کیدلی. چا به یوڅه ویل او چا به هم بل څه. هغه ټولو ته ګران ؤ. د ټولو بندیانو په زړه کی یی ځای و، خو له هغه سره یی د مینی د ښکاره کیدلو له پاره توان نه لاره. دغه توان تری اخیستل شوی و. کله چی دمینی د څرګندولو توان هم نه دی، نو ټول توانونه له منځه ځي. د غرنی په باب هم خبره همداسی وه. آرښتیا! دهغه خپل نوم غرنی و.

غرنی به خدای خبرله پخوا څخه همداسی خوار خوارینجی و اوکه اوس زندان داسی ځپلی و. بس یواځی پوستکی او هډوکی ښکاریده، خو په سترګو کی یی څه عجیبه اغیز پروت و. یو ډول برم یی لاره، او لکه چی دغه برم دهغه کیسو هغه ته بخښلی ؤ.غرنی به لنډی شان زړی جامی اغوستی وی او زاړه بوټهان به یی پریښو وو، لکه چی دده خپل نه وی او یا لکه چی اوس دده په پښو کی لوی شوی وی، دومره زاړه اوله کاره ′لویدلی وو چی دانه معلومیدل چی یو وخت به یی رنګ څنګه و؟

غرنی له چا سره خبری نه کولی. هغه ته یی د خبرو اجازه ورکوله هم نه، خو د هر بندی په زړه کی دا تلوسه وه چی له هغه سره یوه شیبه ناست وای، هغه ته یی یوه شیبه ښه سم

کتلی وای. دهغه د زړه خبری یې اوریدلی وای. هغه به څنګه غریږی؟ هغه به څه وایي ؟دا ډول پوښتنې دهر بندی په ذهن کی پرتې وی. خو هغه له چا سره خبری نه شوی کولی، بل کوم بندی هم زړه نه شو ښه کولی چی هغه ته څه ووایی چا زیات ورکتلی هم نه شول.

په زندان کی دهغه د کړولو او ځورونو رنګ په رنګ کیسی کیدلی. چا به دهغه د ځورولو په باب یو څه ویل او چا بل څه. په تیره بیا په هغه وخت کی چی غرنی به یی ډیر وخت له کوټه قلفی څخه رابهر نه کړ، بیا به نو اوازی اوانګازی بل ډول شوی. تودی به شوی. .. سړی به شوی... بیا به تودی شوی او دغه سړښت او تودښت به همداسی روان ؤ.

خو یوه ورځ څه عجیبه شان پیښه وشوه. هغه یی هم بهر راوویست هماغسی له برمه ډک ګامونه یی اخیستل. تر شا یی یو سپاهی وریسی روان و. داځل یی وجود لا نور زیات کمزوري ښکاریده. لږه شیبه چی به تیره شوه، پر ځاي به کیناست، لنډه شان دمه به یی وکړه او بیا به روان شو. هغه لا زیات کمزوری ښکاریده، خو خدای خبر چی د لنډی لاری دلنډمزل کمزوری ګامونه یی هم څنګه له برمه څخه ډک ښکاریدل. هغه لږه شیبه ودرید. خپل شا او خوا ته یی وکتل. بیایی د زندان لوړ دیوالونه او برجونه له نظره تیرکړل او پر ځای کیناست. په همدغه وخت کي یو د پوخ عمر زندانی له خپله ځایه منډه کړه. په یوه منډه یی خپل ځان تر غرنی وورساوه او بیا یی هغه له مټونو څخه نیولی اوپر خپلو اوږو سپور کړی ؤ. دا کار یي دومره په بیړه کی وکړ لکه چي څوك سترګی رپوی. هغه یي پر اوږو سپور کړ او یو چیغه یی کړه:

- کوچنی غازی ... کوچنی غازی ...

د زندان په انګړ کی د ټولو سترګی د هغه په لور شوی. هغه خپل غبرنور هم لوړ کړ:

- دادی کوچنی غازی ... کوچنی غازی دادی ...

ټول د هغه پرلور ور روان شول، خو لا نور څوك نه وو وروسیدلی چی له هغوی څخه بیا ګڼ شمیر سپایان راتاو شوی وو. هغه اوغرنی دواړه یی ترکوتکونو لاندی کړل او بیا یی پرنورو زندانیانو را پیل کړل. خو هغه زندانی لاهماغسی دخپل غږ انګازی اوچتولی:

- کوچنی غازی ... کوچنی غازی ...

خو سپایان را زیات شول او بیا ډیر زر دغه ګڼه ګوڼه ختمه کړی شوه. څو ورځی یی بندیان دزندان انګړ ته راونه ویستل او هغه د پاخه عمر سپین ږیری یی هم چیرته کوټه قلفی کړ.

له دی وروسته د زندان په هر کوټه کی د غرنی په باب خبری ګرمی شوی. له دی وروسته به هغه ته هیچا هم غرنی نه وایه. هغه په «کوچنی غازی» مشهور شو اوس به نو زیاتی زندانی کیسی د «کوچنی غازی» په باب وی.

کوچنی غازی په یواځی ځان د روسانو یو ټانك تباه کړی ؤ. کوم لاسی جوړ شوی بم یی د ټانك مخی ته ور اچولی و. ټانك او پنځه روسان یي په کی لولپه کړی وو. بیا یی هغه نیولی او دادی دا دومره موده په زندان کی ؤ .

له هماغی ورځی وروسته به د هر چا په خوله کی د «کوچنی غازی» خبره وه:

- وایی چی کوچنی غازی یي ډیر وهلی دی ...

- ټول یی داغلی دی ...

- ظالمو پر کوچنی غازی څه څه نخری نه دی کړی ...

- وایی چی کوچنی غازی نه خوب ته پریږدی. نه د خورا ک څه ورکوی ....

ورته وایی چی ووایه د چا په لارښوونه دی دا کار کړی دی؟

- او د هغه له خولی سپن قدری هم نه وځی.... (پاتې په (۷۵) مخ کی)

اسمعیل شهید شو:
خو
د وینو دیوی به یی د جهاد سنگرونه تاوده او د مقاومت لار روښانه ساتی.

نن د میرانشاه ځمکه ، هوا او ماحول نا آشنا غوندی ښکاری - نن دلته هر څه بدل او په بله بڼه معلومیږی. دالاری، دا کوڅی او دا فضاگانی هغه پخوانی منظرونه نلری. نن دلته خاموشی او سکوت حکم چلوی، هر څه پټه خوله دی،خو دا هر څه په پټه خوله گویا دی. له څیرو او ماحول نه د هر څه پته لگیږی. - - -

زه دلته څو ځله راغلی تللی یم.

دولس کاله پخوا ما د لومړی ځل له پاره د خپل گران وطن فراق دلته محسوس کړی. داسیمه زما دهجرت لومړنی منزلگاه ده. او زما د هجرت او پردیسی‌لومړنی دمه ځای.

زه بیا هم دی سیمی ته راغلی یم شپی ورځی می پکی تیري کړی، ماته ددغه ځای هر څه آشنا دي. خو نن ، هوا نن داهر څه نا آشنا معلومیږی. پردي او کرکجن معلومیږی نابلده او کرخت ښکاری. ماښیجن او ویرجن معلومیږی.

نن دا چا پیرچل او دا هرهر څه په سلگو لیدل کیږی. په ویر ناست او په ساندو سرښکاریږی. داسی لکه چی د چا په فراق او جدایئی کی اوښکی لونی او د زړه وینی څځوي.

نن دلته د چا د بیلتون، فراق او هجران په اور ددی سیمی کانی، بوټی، لاری او کوڅی ځمکه او فضا سوځیدلی او په ویر سر دی.

لړ اخوا دغرونو په هیواد کي د ننگ او جنگ سنگرونه او د پت او میړانی مورچلونه پخپله غیږ کی د خپل دوولس کلن ساتونکی د پلونو نخښی ښکلوی. د پکتیا د دنگو او آسمانڅکو غرونو سرونه یو بل به غاړه غړی شویدی او د خپل قهرمان محافظ د یادونو څلی و دانوي.

د غرونو د امرد خیزه اوتکی شنی دري‌د اوبر ځنگلونه او ورشوگانی د توروشپو په زړه کی د خپل دوولس کلن مدافع د ټوپک د پلوشو او د نور د کرښولاروته په دوکڅ او حسرت گوري ....

دا پرښی او گړنگونه د دغه محافظ او مجاهد تر پخو او دړنو قدمو لاندی د خپلی خوښی‌او سکون یادونه راسپړی ...

د دغو غرونو، دښتو ، لمنو او خوړونو کانی کانی ، پرښه ، پرښه - کمر کمر بوټی بوټی اوگړنگ گړنگ د دغه محافظ او مجاهد له قدمونو سره آشنا دی. یو څپکڅ خاوره به هم داسی نه وی پاتی چی دغه قهرمان ددین او وطن په دښمنانو پسی له پښونه وی ایستلی. ده دا دوولس کاله ددغه ټاټوبی هره شیله ، هره پیڅه او هره لویشت په دښمن پسی چڼ کړی .

ددغو دنگو غرونو او کمرونو په سینو کی اوس هم د قهرمان د ټوپك د ډزو انعکاس خوندی او انگازی یي خپری دی.

اوس هم لا د هغو ډزو آواز ونه دلته
یو له بله سره غبرګیږي کومي چي
دده د ټوپک له شپیلي څخه وتلي او
ددښمن ککري یې الوزولي دي .
ددغو غرونو او دښتو پر تېر اوس هم
د هغه د درنو قدمونو خاپونه ځلکونه
وهي،ددغي بیکرانه فضا د وسعتونو
په څپو کي اوس هم دهغه د دولس
کلن جهاد د قهرمانیو او غورځنګونو
د حماسو او جهادي کارنامو ویاړني او
افتخارات لکه د سبا ستوري
پرقیږي .
دلته اوس هم ددښمن هغه ککري،
رغړي چي ددغه قهرمان مجاهد په
ګولیو الوتلي،دلته ددښمن د ناپاکو
ارادو او نامردانه غلچکیو بریدونو د
شکست او افتضاح کیسي ددغي
خاوري له ذري ذري نه د آزادي او
بیداري د پیغام ورمي خپروي لدغو
غرونو ، تېرو او سردرو نه هغه پوره
دوولس کاله شپه او ورځ هره لحظه او
هره شیبه د سرپه ورینه دفاع کړي
پدغه مهال کي چیري هم چي دښمن
خپل ناپاک قدمونه ایښي دي لکه
تندرپري راپریوتلي او هغه ځای یې
ورته سور اور ګرځولي دی. نه یې د
ستوماني احساس کړی،نه یې د ستړیا
تصور زړه ته لاره پیدا کړي او نه
ددوه زړي او پښیماني،له انګیزي سره
مخامخ شویدی .
خو نن دا هر څه ولي په ویر ناست
دي ؟ څه پېښ شویدی ؟
هو !
نن ددغو ویاړمنو سنګرونو دهغه
قهرمان محافظ او هغه ننګیال
ساتونکي د فراق اورلګیدلی دی دا
څه وړه خبره نده . داغم د یوه تن ،
یوی کورنۍ،او یوی منطقی ندی . دا
د ملت په سویه دی او د ولس په
سطحه دي،نن دلته د ژوندد هستی پر
مخ د هغه مجاهد چي د وولس کاله
یې د ننګ سنګرونه او د حق
مورچلونه د خپل سر په بیه سر لوړي
او سوبمن ساتلي. - یخنی ، ګرمی ،
واوري ، توپانونه،ملوریږ،تندی کړ او-
ونه او ناکردۍ،یې پکی ګاللی د خپل
ژوند او تنکۍ ځوانۍ په داوړ ښ ی
دفاع کړي ـ د جدائی دماتم څادر
غوړیدلی دی، هغه چي دوولس کاله
د دغو نګو غرونو او د حق د
ویاړلیو مور چلونو ښایست، زینت
اوقوت ؤ.
هغه چي د تنکۍ ځوانۍ په درشل یې
د شباب له هماغه لومړي ورځې د حق
د معرکي دګولیو په ږلی د اور په
باران او د بمونو او توپونو په دنډو
کارکي پل ایښی ؤ او دژوند هره لحظه
یې د همدغو حوادثو ، حماسو او
کارنا مو شاهد وه.
هوا هغه د عمر ترتولو له ولولو ډک
دوران د بم، توپ ، ګولۍ ، الوتکی ،
وینو ، اوښکو ، فتحو ، حماسو ،
حادثو قهرماینو او غورځنګونو په
غلبلوکی تیر کړ.
پدغو دوولس کلونو کي د حق
اوحقانیت د سنګر د دغه جنګیالی د
ټوپک شپیلی او ګولی یواځې
ددښمن لوری ته اوښتي وه. یوه لحظه
هم داسي پېښه نشوه چي دده د
ټوپک شپیلی دې دا مخه بدله کړي
وی او د غلیم لوری یې دی پری
ایښی وی. دی د جنګ قهرمان ؤ . د
شهادت لیوال او د جهاد مینه وال .
ده له هماغه پیله اسمعیل وار د
«قربانۍ» په میدان پل ایښی ؤ. او له
هماغه لومړنی لحظی څخه د خدای
(ج) د رضا په لارکی سر په تلی
کی ولاړ ؤ . دی ذبیح الله ؤ، د خدای
(ج) د لاری سر ښندونکی او ددغه
حقی لاری مجاهد،دده نوم اسمعیل ؤ
ذبیح الله ؤ،سبحان الله!اسم بامسما
دلته دخپل مصداق په محور څومره
رسا څرخیدلی...
زما دری څلورځلی له هغه سره
مختصر ملاقا ت شوی ؤ. خو پدغو
لیدنو کی ما د هغه د عقابی ستر ګو
په ځلاکی، د هغه د درانه شخصیت،
پو لادی ارادی او مثالی ژوند ژوره
مطالعه وکړه.
ما د هغه د مینه ناک، بی الایشه او
سپېڅلی وضعیت په رڼا کی د هغه د
ژوند او مبارزی له ډیرو اړخونو سره
آشنائي پیدا کړه.

او ما د هغه په پراخ تندي او غوړيدلي تندي کي د هغه د زړه د ننه د هغه د ټولو پاکو جذباتو، سپيڅلو اميدونو اولو ړوهدفو نو څرك ولګولی شه . دی جی څومره دوستانوا وترخپلی ، قوماندی لاندی مجاهدینوسره په مینه او خواخوږی مخامخ کیده او په سره سینه او خوږه لهجه به يي هرسره ذره خواله کوله داسی د حق ددښمنانو په مقابل کی کرار. کلک او فولادين موقف درلود .

د الله تعالی د دغه ارشاد په مصداق: اشداء علی الکفار رحماء بینهم. د علامه اقبال په وينا .

جومجلس یاران تو ریشم کی طرح نرم
رزم حق و باطل هو تو فولاد هے مومن

دی قوماندان ؤ ، یوغښتلی قوماندان یو مجرب او پیاوړی قوماندان خو دده په څیره ، کړو وړو ، ناسته ولاړه سلوك او چار چلن کی داسی څه نخښی نه شوای لیدل کیدای چی هغه ځان د قوماندان په نوم د چا په سترګوکی ځای کړي.

دده قوماندانی یواځی د جنګ په ډګر کی ځان ښکاره کاوه. هغه وخت چی پر دښمن به د برید او یرغل مهال راورسید. که نه نور به هغه له خپلو مجاهدینو سره ذاوړ رویه کوله لکه د هغوی یو نژدی او صمیمی انډیوال .

خو نن د دغو دنګو غرونو ، پخو سنګرونو اوو یاړمنو مور چلونو د حماسو هغه ځوان او تاند قهرمان د حق د دفاع اودوطن د آزادی په وياړمن محاذ کی» د خپل سرنذرانه وړاندی کړی . خپله ژمنه يي پوره کړی ، پخپل تعهد يي وفا کړی او خپل میثاق او پیمان يي په مړانه تر سره کړیدی . محرم د قربانیو میاشت ده دا وياړمن سنګرونه کال په کال د لوی اختر او محرم په میاشت کی چی دواړه د قربانیاو سرښندني یاد ګارونه دی دخپل یو قهرمان پر شهادت پر خپلو اتلوالیو اوویاړنو اضافه کوی. نن دده په فراق کی دا کانهی ، دا دنګ دنګ غرونه اودا د عزت او پت سنګرونه ، دا ماحول او فضا ټوله د ويرپه سمندر لاهو ده .

د مجاهدینو په ځلیدونکو سترګو کی دانتقام جذبو ددغه ویر او ماتم پراحساس غلبه پیدا کړی. د خپل قهرمان شهید د وینو د څاڅکی څاڅکی د کسات تو پانی څپو د غم او ویر سیلیو ته فولا دین د یوال درولی دی. که زړونه د خپل فاتح قهرمان د بیلتون په اورویت دی خو په سترګو کی د کسات او انتقام لمبی ژبغړانده دی او ارادی د شهید د پاکی لاری او سپیڅلو اهدافو د تداوم او لوړو آرمانو نو د تحقق په تکل د وخت او حالاتو پر پیچو می په یوه دمه مخ په وړاندی زغلی او د شهید د سپیڅلو آرمانود تر سره کولو هوډ د هر مجاهد له مصممو څیرو څخه د حالاتو د مقابلی بر ښننا وی ځلیږی او په داد سره د خپل شهید د ارمانونو تحقق په لار ترورووستی سلګی د مبارزی او مقاومت د ژمنی او تعهد مظاهره کوی.دغو نه ماتیدونکو ارادو او دی فولادی عزایمو او دانسان له تصورونه پورته د زغم او د انتقام جذبو د ویرونو او ساندو پرمریه پښه ایښی ده؛داسی چی څوك دانشی ګنهلی چی دا ګنی د یوه شهید جنازه او د هغه د وروستی دیدن ټاپی دی.

نن ددغه قهرمان شهید د جنازی بهیر لکه د هغه د واده ورا داسی بریښی . د خلکو ځوګ او بهیر او دده د خپلو خپلوانو جذبات،بشاشي پریکنده څیری ، فولادی زغم حوصله ، متانت او عظمت په هیڅ توګه ددی څرګندونه نه کوی چی دادی د یوی جنازی پسی دروانو خلکو بهیر وي . دانه معلومیږی چی دلته دده خپلوان څوك دی اولیږی او پردی څوك ....

هوآ

شهیدان مړه ندی، همدغه ټهکی ټولوته د باور او اطمینان داسی روح او قوت وربخښلی چی د مرګ د ماتم هیولا يي ورته دړی وړی کړیده په رښتیا هم چی شهادت مرګ نشی ګنهل کیدی، دا ابدی ژوند دی ځکه خو د هغه خپلوان داسی نه ښکاریدل چی ګنی هغه دی د خپل عزیز د

مرگ په وير ناست وي . هوا! هغوی
د شهيد پر ابدی او وياړمن ژوند
باوري او متيقن دوه خو ماحول دا هر
څه پخپل تندی نقش کړی - آسمان
پدی وير اوښکی توی کړی. درحمت
باران د جنازی د ګډون کوونکو په
حال شامل شو.
آسمان وژړل بنه ډير يي وژړل او ددغه
ننګيال او قهرمان شهيد جنازه يي د
رحمت په څاڅکو بدرګه کړه .
دلته دا دوولس کاله د بستری د مرگ
وير چاندی کړی او نه ددا وړمرگ غږ
چا اوريدلی،هوا! پدی کورنی کی دا
دوولس کاله څوک د بستری په مرگ
ندی مړه شوی . دلته داد وولس کاله
يواځی د شهادت افتخار دابدی ژوند
لاری په نخښنه کړی . دلته د حق په
سنگرونو کی تيرونه په گوليو غلبيل
شوي، دلته چی هر چا له ظاهری او
مادي ژوند سره وداع کړی، د شهادت
له وياړ سره يي وداع کړی په سرو
وينو په رنگين وجود يي وداع کړی.
څکه چی دا چاپيرچل د بستری له
مرگ سره ناآشنا دی...
هو ! په رينښتاچی شهادت د مسلمان
تر ټولو ستر آرمان دی.

محاربوی فعالیتونه..

آتشداره قوا په مقابل کی
او هم دمحفوظو ځايونو د
تخريب لپاره زياته مؤثردی.

۷- زرهپوش: په ماشيند-
ارو مجهز دپياده جزوتا-
مونود حمايي لپاره د،
تعرض د اجرا ددښمن پر
مدافعه د هجوم په وخت
کی د اطمينان وړ وظيفه
اجراء او دښمن ترفشارلاندی
نيولی شی . او هم دکشف
وظيفه اجراء کولای شی.

۸- اتومی وسله: په
اوسنيو محارباتو کی د،
دسته جمعی تأثير -
قوی‌ترينه وسله اتومی
وسله ده اتومی اسلحه د،
ضربوي موج ،نوري موج
نفوذکوونکی راديا سيون
او راډيو اکتيف موادوقدرت
لری چی په کم وخت
او سرعت سره ځاندار د
قواو تخنيک او اسلحوزيانات
تلفات ور اړوي .

۹ - کمياوی اسلحه:

د کتلوی تلفاتو پورد -
قدرت لری چی ځاندارو
قوای له منځه يوسي
او محاربوی فعاليتونه
مشکل کړی کمياوی اسلحه
مسموم کوونکی موادداعصابوسيستم
خرابی ،فلج ،خفه کوونکی پرجلد د،
تناکی اصلی عامل دی.

کوچنی غازی...

او بل به په کی راغږ کړ:
آفرين د نارينه اولاده!
خو يوه شپه دا ټولی کيسی پای ته
ورسيدلی تکه توره شپه وه. زندان له
پخوا څخه هم خونړی ښکاريده. وريځ
وه. د آسمان مخ ټول په تورو وريځو
پټ و. په همدغسی يوه شپه کی
څوك راغلل او «کوچنی غازی» يی
له کوټه قلفی،بهر کړ. هغه ته يی
تکه تور خولی،ور په سر کړی وه. د
هغه سترګی يی ورپټي کړی وی، خو
د هغه له بيولو سره سم په ټول زندان
کی انګازی خپری شوي:
- کوچنی غازی کوچنی غازی ...
دهمدغه غږ په بدرګه کی هغه روان
ؤ. ګامونه يی له پخوا څخه هم له
زيات برم څخه ډك وو. دغو غږونو د
زندان ټولی کوټی، ټول دهليزونه
ونيول او انګازی يی غبرګی
اوراغبرګی شوی. هر چا او هر څه شی
غږ کاوه.
- کوچنی غازی ... کوچنی غازی ...



د حق لاری قربانیان

شهید قوماندان محمد اسمعیل
(ذبیح الله)

د کفر او الحاد پر ضد د افغانستان د مسلمان ملت د وسله وال جهاد د تاوده سنګر د نومیالیو مجاهدینو په ډله کي چي خاص د خدای (ج) د رضا او اعلای - کلمة الله په خاطر یې جهاد پیل کړی او ویاړلی جهادی کارنامې یې زموږ د اسلامی انقلاب په تاریخ کی د تل لپاره په زرینو کرښو ثبت وی یو هم قوماندان محمد اسمعیل (ذبیح الله) د خواجه محمد

زوی وٴ چي په ۱۳۳۳ هـ ش کال د پکتیا ولایت د خوست د لویي اولسوالۍ د خدرانو په غوص خیلو (کاریزګی) کلي کي زیږیدلی په قوم خُدران سلطان خیل وٴ او د کندو کلي اوسیدونکی وٴ .

نوموړي په ښوونځي کي زده کړه نه وه کړې خو په خصوصي توګه یي لومړنی، دینی تعلیمات پخپله سیمه کي سرته رسولي وو .

د داؤد فاسد رژیم په لومړی کال یي (۱۳۵۲) د خپل مشر ورور الحاج - مولانا جلال الدین حقانی په لارښوونه د ملحدینو او کمونستانو پر ضد جهاد پیل کړی وٴ . کله چي د داؤد حکومت د اسلامی نهضت د ټکولو او له منځه وړلو اقدام وکړ او ډیر زیات شمیر دینی علمأ او د اسلامی نهضت،

غړی یي بندیان او ځینی‌په هجرت کولو مجبوره کړل ، نو محمد اسمعیل خان هم چې پدعه وخت کې پوره زلمی وء د خپل ورور الحاج مولانا جلال الدین حقانی‌سره اسلامی هیواد پاکستان ته هجرت، وکړ. له هجرت څخه‌وروسته د داوُد د رژیم پر ضد د موءمنو افغانانو د اسلامی نهضت او تحریك د مبارزی او چریکی عملیاتو په تولو پړاوونو کی د خپل مشر ورور (حقانی صاحب)په څنګ کي ولاړ او دهغوی په لارښوونه یي خپلی اسلامی مبارزې او جدوجهدته ادامه ورکوله .

کله چې په ۱۳۵۷ ه ش کال د ثور په (۷) نیتهد د روسانو په دستور او ملاتړ الحادی کودتاوشود ، کمونستان قدرت ته ورسیدل او په، مقابل کي یي د مؤمنو افغانانو هغه قیام چې دمخه یي د داؤد رژیم په وخت کی تحریکي او چریکی بنهد درلوده په عمومی او سراسری وسله وال جهاد ، بدل شو. افغانانو که څه هم په پیل کي هیڅ وسلی او وسیلی نه درلودې خودیر ژربیي د روسانو د مزدورانو (خلقیانواو پرچمیانو) څخه ډیری وسلی او وسیلی په غنیمت ونیولی او د هیواد په ګوټ ګوټ کې یي پرملحدینو سره اوروند بل کړل .

محمداسمعیل (ذبیح الله) د هغورړه ورومجاهدینو په ډله کې شامل وء چې د ۱۳۵۷ھ ش کال د ثور په (۱٦) نیتهد یي د وازی خوا په ولسوالی عملیات وکړل او دښمن ته یي د سراومال درانه تلفات ورواړول .

نوموړی دجهادپه دوران کې د پکتیا ولایت په بیلا ، بیلو برخوکي په ډیر و، زیاتو جهادي فعالیتونو کی اکثره‌ځت قوماندان په توګه او کله کله د مجاهدپه توګه په ډیره میړانه او زړورتیا سره برخه اخیستی چې دلته یي د نمونی په توګه د ځینو عملیاتویادونه، کوو:

په ۱۳۵۷ ه ش کال کی د ابراهیم خیلو او ارهی علاقداریو د فتحی عملیات او همدارنګه یي په همدغه کال د میری‌چونهی، ارګون نکه علاقداری‌سپیرد ولسوالی ،ګومل ولسوالی ،سروبی سیمه سرحوزه علاقداری ، چنحومکتب ګیان علاقداری،لیژه تانهی په عملیاتوکی یي د یوه زړه، ور قوماندان په توګه برخه اخیستی او د دین او وطن دښمنانو ته یي د سر اومال درانه تلفات وراړولی وو.

د نریځی په لوی جنګ او د بړی او دبګی تانهو په جنګ او عملیاتوکې یی په میړانه او قهرمانی سره د دښمن مقابله کړی وه.

په۱۳۵۸ھ ش کال کې یی ، د مجاهدینو دیو زړور اوتکړه قوماندان په توګه دستی‌کند و په جنګ‌کې په میړانه ددښمن ، مقابله وکړه،په زرمت کی‌یی ډیرې فتحی په نصیب شو ی او همدارنګه یې د تعمیر ولسوالی او باتور غونډ ، تسلیمیدل دده په میړانه او قهرمانی سره شوي دی . همدارنګه یې د جهاد په، را وروسته کلونو کي په ډیرو زیاتو عملیاتو کې برخه اخیستی او هر ځل یی پر ملحدینو مرګونی ګوزاروند کړی دی.د جهاد په دوران

کې یې د ژوند ډیر وخت له مجاهدینو سره په سنگر کې تیر کړی له دښمن سره د مخامخ جگړو په ترڅ دوه ځله سخت ټپي شوی او لاتپوندېي پوره نه ده وو جوړ شوی چې بیرته د وسلو وال جهاد سنگر ته د تللی او پر دښمنانو یې عملیات پیل کړی دی.

د سپکو او درنو وسلو د استعمال په برخه کې الله (ج) ښه استعداد ورکړی و، ټانکست هم و او توپچي هم، دریور هم او نشانز ن هم او چې هر ډول وسله به په لاس ورغله هغه یې استعمالولی شوه.

له مجاهدینو سره ډیر ښه سلوک او غوره چار چلن له امله یې د ټولو مجاهدینو په زړه کې زور ځای درلود.

بالاخره دغه نومیالی مجاهد قومندان په ۱۳۶۹/۵/۱ نیټه له خپلو مجاهدینو سره، دملحدینو او مزدور رژیم دهغې قوی مخې ته د مقابلې لپاره ووت چې د خوست پر خوا، روانه وه. له دښمن سره د مخامخ جگړې په ترڅ کې د توپ په مرمۍ ټپي او بیا په ۱۳۶۹/۵/۸ نیټه د چهارشنبې په شپه د اسلام آباد په یو روغتون کې د شهادت، لوړ مقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون

شهید طالب بوستان

د هغو سرښندونکو څخه چې خپلې وینې یې د الله (ج) د کلمې د اوچتوالي د پاره بهولي او خپل سرونه یې قربان کړي دي

یو هم طالب بوستان د حاجي مرامشاه زوی دی چې په ۱۳۳۹ هـ ش کال د لوگر ولایت د پل عالم ولسوالۍ کې زیږیدلی او په قـ قوم گل محمد خیل و.

نوموړی زړور مجاهد قومانډان د لیز د جنگ، بری جنگ د درگی جنگ، گردیز جنگونو ترمیری جنگونو، شرنی جنگونو، د تعمیر فتحه او دتورغر په اوله فتحه کې شامل و. چې په دغه جنگونو کې یې د دین او وطن دښمنانو ته د سر او مال زیانات تاوانونه اړولي دي.

د یادولو وړ خبره داده چې دغه تکړه قوماندان د خوست په ولسوالۍ کې، د دښمن دری الوتکې په اوبوس توپ ویشتلې او راغورځولی دي او یوه جیټ الوتکه یې په درگي کې - ویشتلې او راغورځولې ده، د ژوری په جنگ کې یې، هم یو هلیکوپټر الوتکه په راکټ ویشتلی او غورځولی وه.

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۸ هـ ش کال د حوت د میاشتې په ۱۷ مه نیټه د توری غاړې، په دوهمه فتحه کې د دښمن د اوبوس توپ په مرمۍ - ولگید او د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید متین

دهغو خلکوله جملې څخه،
چې نوښونه به یې د تاریخ
په زړیعتو پاڼو کې تلپاتې،

وی یو هم متین دګلبدین
زوی د زرمت ولسوالی اوسیدونکی
او په قوم ځدران و.

نوموړی ډیرتکړه او زړور،
مجاهد و او دجهادپه دوران
کې یې د دین او وطن دښمنانو ته
ډیر زیات ځانی او مالی تاوانونه
اړولی دی.

بالاخره دغه نومیالی
مجاهد د زرمت په ولسوالۍ کی د
ملحدینو سره په مقابله کی د،
شهادت لوړ مقام ته ورسید.
یاد دی ژوندی او روح دی ښاد
وي.

انالله وانااليه راجعون

شهید محمد حسین

دحق دلاری قربانی محمد —
حسین د محمد عیسی زوی د
بغلان ولایت د پلخمری ولسو-
الی اوسیدونکی و.

نوموړی تکړه او زړورمجاهد
دپکتیا په ولایت کی جهادکاوه
اودجهادپه دوران کښې د دین،
او وطن دښمنانوته زیات ځانی
اومالی تاوانونه اړولی دي.

بالاخره دغه نومیالی
مجاهد د زوری په مرکز کی

دملحد دښمن د بمبار له امله
دشهادت لوړ مقام ته ورسید.
یاددی ژوندی او روح دی ښاد،
وي.

انالله وانااليه راجعون

شهید نظام الدین

د حق د لاری قربانی
نظام الدین د سراج الدین،
زوی په ١٣٤٨ هـ ش کال دپکتیا
ولایت د باك علاقداری د —
کوټکیو د کوټولی په کلی کی
زیږیدلی و.

نوموړی د باك په متوسطه
کی لومړنی زده کړی ترسره
کړی او په ١٣٦٢ هـ ش کال،
یې د مولوی میرداد تر
قوماندی په وسله وال جهاد،
پیل کړی او دجهادپه دوران
کې د دین او وطن دښمنانو
ته زیات ځانی او مالی
تاوانونه اړولی دي.

بالاخره په ١٣٦٦/١٠/٨
نیټه د جوګیو سرحدی
پوستو باندی دحملی په
وخت په داسی حالت کی
چی پوستی یی فتحه کړی وی
د شهادت لوړمقام ته ورسید.

انالله وانااليه راجعون

شهید کابل خان

دحق دلاری قربانی کابل خان د ناظم خان زوی په ۱۳۴۸ ه ش کال دپکتیا ولایت د باك علاقداری دکوتکیو په کلی کی زیږیدلی و۰



نوموړی قرآنکریم حفظ کړی و او دنیکو اخلاقو خاوند و، دغه نومیالی مجاهد د میرداد قوماندی لاندی جهاد کاوه او دجهاد په دوران کی یی د دین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولی دی.

بالاخره په ۱۳۶۶ ه ش کال د باك سرحدی پوستو باندی د حملی او ددغو پوستو د فتحه کولو په وخت د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

اناللّه واناالیه راجعون

شهیداحسان الله

دحق دلاری قربانی احسان الله د الحاج مولوی حفیظ الله زوی په ۱۳۴۶ ه ش کال دپکتیا ولایت د باك علاقداری د خلبستات د ملایانو په کلی کی زیږیدلی و۰

نوموړی دینی زده کړه د خپل پلار او ترونو څخه کړی او په ۱۳۵۹ ه ش کال د خپلی کورنی سره د پاکستان اسلامی خاوری ته مهاجر شوی او د هجرت څخه وروسته یی د

مولوی میرداد د قوماندی لاندی په وسله وال جهاد پیل کړی چی د جهاد په دوران کی یی د دین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه اړولی دی.

بالاخره د ځاځی میدان ولسوالی د جوګیو د سرحدی پوستی باندی د حملی په وخت په داسی حالت کی چی پوسته یی فتحه کړی وه د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

اناللّه واناالیه راجعون

سرطان سرخ...

«در مورد تئوری مارکسیزم که: «مارکس واضع اساطیری است که حقیقت در آن - تا زمانیکه اسطوره آنچه راکه اومی خواهد به آن اعتقاد داشته باشد تصویر کندامر دومی است». «ادامه دارد»

دمزدوررژیم په زندانو...

شول. په ځینو بندیانو به یی جوش اوبه اړولی چی د هغی له امله به یی بدن تناکی او دغوښو سر د بوتی شو. د دول دول کړاوونو او شکنجو په نتیجه کی ډیر مؤمن افغانان همدلته په شهادت رسیدل او ځینی به یی له دی ځایه دښتی په تیاره کی دمخصوص موټرونو په واسطه له ښار څخه بهر دښتو او کندوته بیول او هلته به دمؤظفو کسانو په لاس په شهادت رسول کیدل.

"نوربیا"



بسم الله الرحمن الرحيم

نبوئ ارشاد

حضرت پيامبر بزرگوار اسلام ميفرمايد :

همانا در روز رستاخيز (به اعتبار مرتبه) بدترين انسانها کساني خواهند بود که براي دنيا سازي وآ بادي ديگران آخرت خويش را برباد ميکند (در خدمت ناحق رؤسا وبزرگان قوم قرار ميگيرد ودروغ ايشا نرا راست معرفي ميکند) به سخن ديگر: براي خوشي ارباب قدرت وصاحبان نفوذ ورسوخ جامعه وبراي نفع رساني به آنها دست به هر کار جايز وناجايز ميزند که در نتيجه او خود را نشانه عذاب آخرت قرار ميدهد (بخاري و مسلم)